# دشاعرانو تذکره

دکابل،لوگر، پروان، غزنی او وردگو شاعران او لیکوالان

احمد فرید فروزی

دشاعرانو تذکره

# دشاعرانو تذکره

## دکابل،لوگر، پروان، غزنی او وردگو شاعران او لیکوالان

احمد فرید فروزی

PROPERTY OF ACKU
16044

گرد آورنده: اسدالله (وحيدي)

مسؤل تایپ و ویرایش: صفی الله

مسؤل پروژه : احمد فرید فروزی

| | |
|---|---|
| نام کتاب: | د شاعرانو تذکره |
| گردآورنده: | اسدالله ( وحيدي) |
| مسؤل تایپ و ویرایش: | صفی الله |
| مسؤل پروژه: | احمد فرید فروزی |
| تیراژ: | ۱۰۰۰ جلد |
| تاریخ چاپ: | زمستان ۱۳۸۵ |
| محل چاپ: | مطبعه حبیب الله حسیب |

د تل پاتې ښکلا د څښتن په نوم

# سریزه

## شاعران خو شاګردان د ښکلي رب دي

په اوبایمه لسیزه کې د شاعرانو ګڼ شمېر شعري تذکرې چاپ شوې لکه په څله کې ګلابونه، په للمه اورې بارانونه، ستا به خوښه شي که نه، دخوستیو ژبیو نارې دي اوځونورې.
دشاعرانو دې تذکرو په هیواد کې یو ادبي خوځښت را منځ ته کړ، نوي شاعران پیدا شول، اوهغه شاعران چې په تذکروکې یې شعرونه چاپ شوي وو نور هم وهڅول شول چې دشعر په ډګر کې تر پخوا ښې او لاژیاتې پنځونې وکړي .
چې له دې ډلې کولای شوو د ومان نیازي، اجمل اند ، عبدالاحمد محمد یار ،جلال خپلواک اونورو ته نغوته وکړو، چې هر یوه یې بیا خپل شعري کتابونه چاپ کړل او دپښتو په ادبي ډګر کې یې خورا ښې او ارزښتناکې زیاتونې وکړې .
که څه هم کېدای شي دا خبره بشپړه په تول تللې نه وي چې ګواکې یاد شوي کسان تذکرو تر دې برېده پورې را ورسول خو دتذکرو اغېزه هم له پامه نه شو غورځولای.
خو ددې شاعرانو ډېر بیا په اتیایمه لمریځه لسیزه کې د ژورنالیزم ښکار شول او ادبي پنځونې ترې پاتې شوې .
په دې وروستیو کلونو کې بیا کلنۍ مشاعرې او په یوشمېر ولایتونوکې ادبي ناستې ډېرې شوې او دې کار هم پخپل وار داد ب په غوړېدا او خپروای کې بشپړه ونډه او دنورو نویو او تکړه شاعرانو په راټوکولو کې یې خپله اغېزه درلوده .
اوس اوس په داسې ولایتونو کې چې هلته مخکې تر دې کله هم ادبي غونډې نه وې شوې هره اونۍ او پنځلس ورځې وروسته ادبي غونډې جوړېږي چې دا د خوښۍ خبره ده.
چې خبره بلې خواته لاړه نه شي راځو دشاعرانو دې تذکرې ته چې د مدني ټولنې له خوا خپرېږي

په دې تذکره کې د څلورو ولايتونو شاعرانو دشعرونوبېلګې او لنډ ژوندليکونه راټول شوي دي چې له دې ډلې څخه ډېری يې داسې دي چې يا ځوان شاعران دي او ياهم داسې کسان دي چې شعرونه او يا مقالې يې په مطبوعاتو کې نه دي چاپ شوي.

دا به ومنو چې په دې کتاب کې ټول داسې شعرونه نه دي چې ډېر به ښکلي وي کېدای شي کمزوري شعرونه هم پکې وي او لامل يې هم ښکاره دی چې دا کسان يا نوي شاعران شوي او يا يې هم په ادبي غونډو کې ډېر ګډون نه دی کړی.
موږ په دې تذکره باندې دتذکره ليکلو دارونو له مخې بحث ته وخت نه لرو او نه به دومره اړين وي چې سړی يې دليکلوپه ټولو تخنيکي او اوصولي لارو چارو باندې خبرې وکړي خو دا چې دداسې ولايتونو دشاعروانو تذکره چې تر دې پخوا پکې داسې ګام نه و اخيستل شوی پخپل ځای دزيات ارزښت وړ دی .
دلته ديوې خبرې يادول اړين بولم او هغه دا چې شعري غونډې او ادبي ناستې ديوه شاعر لپاره ځانګړی ښونځی دی او موږ ډېر ستر شاعران لرو چې پخپله همدا اقرار کوي چې ادبي ناستو او غونډو تر دې ځايه پورې را رسولي دي .
که ېېرته خپلې خبرې ته راشو نودښه او کمزوري شعر پېژندل ډېر ستونزمن ځکه دي چې شعر د لوستونکي له حالت سره تړلی دی لکه زه اوس مايوسه يم هغه شعرونه چې مايوسي پکې نه وي ماته خوند نه راکوي او يا اپوټه نن زه په يوه داسې حالت کې يم چې زما هيلې او امېدونه پوره شوي اوس که ماته څوک داسې شعر چې مايوسي پکې وي ووايي کېدای شي هيڅ خوند را نه کړي.
دا مې تر دې پورې وکړه چې ددې کتاب شعرونه د بيلابېلو شاعران او دهمدې شاعرانو د بيلابېلو حالتونو محصول دی نو داسې ويل به ځکه يو څه ستونزمن وي چې يا سړی ټول ښه بولي او يا يې هم بد .
او که له دې ټولو څخه راتېر شو نو په دې کتاب کې دخپل وخت يو تصوير نغښتی دی چې دا هم په خپل ځای ډېرارزښتمن دی.

درنښت
نذير احمدنذير

# فهرست:


وردګو ولایت شاعران او لیکوالان........................ ۶

انجینر قدرت الله (پتهان)........................ ۷

اسد الله (وحیدي)........................ ۱۰

ثناؤالله (فدا)........................ ۱۳

حزب الله (مظلومیار)........................ ۱۷

حبیب الرحمان (وردګ)........................ ۲۰

حزب الله (مخلص)........................ ۲۴

روح الله (ساحل)........................ ۲۶

ډاکټر عبدالحمید (بهیج)........................ ۲۸

سر بلند (حکیمي)........................ ۳۶

سیدصابر (عزیز)........................ ۳۸

شفیق الله (اکرمي)........................ ۴۲

عبدالرحمان)........................ ۴۵

عبدالرحمان (مسترشد)........................ ۴۷

عبدالجبار ( ناصري ) ........................ ۵۰
عمادالدين (پژمان) ........................ ۵۳
علم جان ( پتمل ) ........................ ۵۴
عبدالله (شيرزی) ........................ ۶۰
غلام فاروق ........................ ۶۳
فريدالله (ساحل ) ........................ ۶۵
فضل الرحمان ( عمرخيل ) ........................ ۶۸
گل دل ........................ ۷۳
فضل الربي ( احمدي) ........................ ۷۶
فضل محمد ( قيومي ) ........................ ۷۹
گل رحمان رحماني ........................ ۸۱
محمد آصف (غمگين) ........................ ۸۷
محمد مبارک (مايار) ........................ ۹۲
محمد نعيم ( معرفت) ........................ ۹۴
محمد شفيق ........................ ۹۶
محمد اورنگ (مختار) ........................ ۱۰۰

مجیب الرحمان ( امیري)........................ ۱۰۵
محمداجمل ( هوډمن )........................ ۱۰۷
نصیراحمد (( امیدي )........................ ۱۱۰
وحیدالله ( جلالزی)........................ ۱۱۲
د غزني ولایت شاعران او لیکوالان........................ ۱۱۴
انجینر عبدالهاشم ( ناصري)........................ ۱۱۵
احسان الله (احسان)........................ ۱۲۰
احمد شاه ( ماکو)........................ ۱۲۲
اسدالله ( بلهارجلالزی)........................ ۱۲۴
در محمد ( سردار زی)........................ ۱۲۶
رحمت الله (طبیب زاده)........................ ۱۲۸
شیراحمد( حیدر)........................ ۱۳۰
عبدالصمد ( غزنوي)........................ ۱۳۶
محمد ابراهیم (خاني خیل)........................ ۱۳۸
محمد هاشم ( بهادري)........................ ۱۴۱
محمد هاشم (عثماني........................ ۱۴۳

محمد گل (کوچی) ........................ ۱۴۵
محمد عارف (روان) ........................ ۱۴۸
محمد زمان ........................ ۱۵۰
نصرالله (رحیمي) ........................ ۱۵۲
محمد غني (بهادري) ........................ ۱۵۵
د پروان ولایت شاعران او لیکوالان ........................ ۱۵۷
رضوان الله (همدرد) ........................ ۱۵۸
د لوگر ولایت شاعران او لیکوالان ........................ ۱۶۱
احمدضیا (ضیا) ........................ ۱۶۲
احسان الله (محسن) ........................ ۱۶۴
بسم الله (نیازی) ........................ ۱۶۶
حبیب الله (ستانکزی) ........................ ۱۶۸
روح الله (امین) ........................ ۱۷۳
سیداحمد (حریفال) ........................ ۱۷۵
شاه جهان (ساگر) ........................ ۱۷۷
عبدالرحمان ........................ ۱۷۹

عبدالرحمان (احساس حبیب زوی) ........ ۱۸۱

فهیم الله (لودین) ........ ۱۸۳

مولوي حبیب الرحمان (حساس) ........ ۱۸۵

میرعجب خان (شیرانی) ........ ۱۸۸

مجیب الرحمان (مخلص) ........ ۱۹۰

د کابل ولایت شاعران او لیکوالان ........ ۱۹۳

احمد ولي (یوسفزی) ........ ۱۹۴

بخت میر وزیري ........ ۱۹۷

مېرمن ثمر ........ ۱۹۹

دیدار (یاغي) ........ ۲۰۲

وسیع الله (سیار) ........ ۲۰۵

پای ........ ۲۱۰

# وردګو ولایت شاعران او لیکوالان

# انجینر قدرت الله (پتیان)

انجینر قدرت الله «پتهان» د انجینر وربنمین زوی د وردگو ولایت د سیدآباد ولسوالۍ د پتانخیلو په کلي کې په ۱۳۶۱ هـ ل کال کې زېږېدلی یم چې فعلاً هم په همدغه کلي کې اوسېږم.
په ۱۳۸۰ هـ ل کال کې د شنیزد تکیې (خالدبن ولید رض) له عالي لیسې څخه فارغ شوم او فعلاً د کابل د پولیتخنیک پوهنتون د ساختماني څانګې د پنځم ټولګي محصل یم. د شاعرۍ سره ډېره مینه لرم او تقریباً دوه کاله کېږي چې شعرونه لیکم چې تراوسه مې د (۸۰) په شاوخوا کې مختلف (عشقي، تصوفي، حماسي) شعرونه لیکلي چې سندرې هم په دې ادبي

لمنه کې رانغاړم. چې ځنې سندرې مې افغاني سندرغاړو ته هم ورکړي تر څو په خواږه اواز سره اوریدونکي خوشاله کړي.

اوس مهال کوم چاپ شوی کتاب نه لرم خو په راتلونکي کې که شرایط مساعد شول او ژوند راسره ملګرتیا وکړه د چاپ کولو هوډ یې لرم.

د شعر بېلګه:

رباعي

توري سترګې مه ګرځه، د زړونو ازار مه اخله
یاره کبرجنه د دردونو ازار مه اخله
مه ګرځه د ګوتو په سرو د پښتنو کلي کې
سوی مې زړګی دی د آهونو ازار مه اخله
زه دې چې په زړه باندې ویشتلی یم نور مه وله
بار یم په غمونو د غمونه ازار مه اخله
دا د ملنګی جامې مې دي
بس دئ دومره ظلم د ظلمونو ازار مه اخله
وګوره چې اوښکو مې د مخ رنګ بدل کړی دی
سوی په غرمو یم د یخونو ازار مه اخله
خدایږو نصیحت مې ستا د خولې خندا لاډېره کړه
ولې په زړه سخته د عذرونو ازار مه اخله
نه لري احساس که (پټهان) سل ځل درته ووایي
چې راځخه ځه د پرهرونو ازار مه اخله

بې وفا یار

دا چې په ما ظلمونه کېږي دا دیار دلاسه
چې لاس ترلې په ځنځیر یم د اغیار دلاسه

تا چې د ما سره وعدې او قسمونه کول
دغه چې پروت يم په زندان ستا د انکار دلاسه
ستا سپينې خولې په خندا تېر وتم دوکه شومه زه
دا چې تور شوی مې سپين رنګ د انتظار دلاسه
دا دغماز په تهمتونو تېر وتلی يې ته
ګرېوان ته سر کړه د دومره ظلم د ګفتار دلاسه
پټهان خو هېڅ د ياری خوا ته ورکتلي نه وو
دا چې شيدا شو دا دستا د خپل اقرار دلاسه

# اسد الله (وحیدي)

نوم مې اسدالله او وحیدي تخلص کوم د جکتورن نصرالله زوی یم، ۱۳۶۵ هجري لمریز کال کې د وردګو ولایت د سیدآباد ولسوالۍ د تیمورخېلو کلي په یوه متوسطه کورنۍ کې زېږېدلی یم

په ۱۳۸۲ هجري لمریز کال کې د سیدآباد د عالي لیسې څخه فارغ شوی یم او په همدې کال د کانکور په آزموینه کې د کابل پوهنتون د ټولنیزو علومو پوهنځۍ ته بریالی شوم، خو ډېر ژر د خپلو سپېڅلو احساساتو، حقیقت ویلو او پښتونولۍ په بدل کې د مرګ تر پولو ورسېدم، دا وخت مې د ژوند تر ټولو سختې ورځې وې، خو دا دخپل دین او پښتونولۍ لپاره په خپل ژوند کې یوه قرباني ګڼم او پرې ویاړم، دې ته اړ شوم چې په لومړي کال دا پوهنځۍ پرېږدم او په دې ډول مې تحصیلي دوره د یو کال څنډ سره مخ شوه.

یو کال وروسته مې بیا د کانکور په آزموینه کې ګډون وکړ له نیکه مرغه دا ځل د خپلې خوښې پوهنځی ادبیاتو ته بریالی شوم او اوس د همدې پوهنځی د پښتو څانګې د دریم کال محصل یم.

له هغه وخته چې مې د ژوند لومړني کلونه رایادېږي یو ډول درد مې ملګری دی چې په علت یې زه هم نه پوهېږم، خوږ درد دی عجیبه ده تکلیفونه دي خو له تکلیف نه یې خوند اخلم ښایي همدا درد یې علت وي چې لومړني لیکل مې په شعر پیل کړ. تر اوسه پورې مې د ۱۵۰ په شاوخوا کې شعرونه لیکلي او همدا اوس اوس لنډې کیسې هم لیکم او هیله لرم چې په راتلونکي کې خپل ژبې او ادب ته د لاډېر خدمت جوګه شوم.

د کلام بېلګې:

غزل

شراب یې نه خورم د جامونو مې کړنګار خوښېږي
په خدای له وصله مې زر ځله انتظار خوښېږي
زه مې په خپله تفکر ته په کې څه لټوم
زما په سترګو کې اقرار په خوله انکار خوښېږي
زه خو یې یو د ځان لپاره خدای نه نه غواړمه
زما د خدای لپاره جوړ د ښکلو ښار خوښېږي
داسې ښکارېږي په تقدیر کې هم همدا لیکلي
زما ژوندون پاس په اغزو مرګی په دار خوښېږي

غزل

دا زحمتونه به مې یو وخت خدای په کار راولي
د ستا د پلار ژرنده کې خدای به زما وار راولي
زما رښتیاوې به څرګندې شي ستا لاپې به هم

خدای خو د ژر له اوره ډکه چېرته لار راولي
زه مې دې بدنصیب ته بې له صبره هېڅ نه لرم
سم دم اقرار وه خدای یې ژبه په انکار راولي
دغې ظالم زمان داسې قسم خوړلی
چې به د کار سرونه خامخا په دار راولي

ماڼۍ

دا څومره ښکلې او دا څومره قوي
دا په دې څومره هنر
او له پولادو څخه
دا په یوه لحظه کې
او خاص د تا لپاره
ستا انجینرو سترګو
زما د زړه دنیا کې
یوه ماڼۍ جوړه کړه

د شاعر او لیکوال آثار:
د شعر یوه کوچنۍ ټولګه چاپ ته اماده لرم خو لا مې چاپ کړې نه ده .

# ثناؤالله (فدا)

زه ثناؤالله ((فدا)) د محمد آصف مجاب زوی د وردگو ولایت د سیدآباد ولسوالی د حسن خیلو په کلي کې په ۱۳۲۵ هـ ل کال کې زېږېدلی یم
لومړنی زده کړې مې د تنګي په عثمانیه کې او منځنی زده کړې مې د تنګي د امام ابو حنیفه رح په عالي لیسه کې سرته رسولي دي

د شعر بېلګه

خدای خبر چې دا به څه ؤ

د بلبلانو شورماشور ؤ د گلشن په هر یوه لور ؤ
د خزان کیږدۍ وه ورانه د مالیار باغ هم سمسورؤ
د نرگس د ناز خندا وه یوه بل رنگه دنیا وه

خدای خبر چې دا به څه ؤ
خو زه هېڅ نه پوهېدلم
هېڅ خبر نه وم له حاله

یوه ښکلې شان نغمه وه د نسیم د باد وږمه وه
هرې خوا نه به شوه پورته د ساقي لاس کې پیاله وه
د موسی یدبېضاء وه یوه بل رنگه دنیا وه

خدای خبر چې دا به څه ؤ
خو زه هېڅ نه پوهېدلم
هېڅ خبر نه وم له حاله

په آسمان کې به برېښنا شوه د باران به اورېدا شوه
هرې خوا نه سیل روان ؤ د سیندونو به شنها شوه
د جنت غوندې هوا وه یوه بل رنگه دنیا وه

خدای خبر چې دا به څه ؤ
خو زه هېڅ نه پوهېدلم
هېڅ خبر نه وم له حاله

ماوې بیا به سور انگار وي د توپونو گرزهار وي
د ویر چغه به خوره وي او دجنگ به تور بازار وي
ماوې بیا چېرته غوغا وه یوه بل رنگه دنیا وه

خدای خبر چې دا به څه ؤ
خو زه هېڅ نه پوهېدلم
هېڅ خبر نه وم له حاله

زه دخپلو باباگانو د اتلو قهرمانو
تېره توره راواخلم د میوند د زمریانو
خو نه جنګ او نه چغا وه یوه بل رنګه دنیا وه
خدای خبر چې دا به څه ؤ
خو زه هېڅ نه پوهېدلم
هېڅ خبر نه وم له حاله

زه هم ووتم په سیل دې تېوس ته مې ومیل
خدایه دا به څه حالت وي هم نهار زیبا هم لیل
د سپرلي ګډه نڅا وه یوه بل رنګه دنیا وه
خدای خبر چې دا به څه ؤ
خو زه هېڅ نه پوهېدلم
هېڅ خبر نه وم له حاله

ؤ پرواز د بوراګانو پاس آسمان کې هم د زاڼو
خوشحالي وه او مستي وه هم صحرا کې د ګلانو
سپېرو دښتو کې رڼا وه یوه بل رنګه دنیا وه
خدای خبر چې دا به څه ؤ
خو زه هېڅ نه پوهېدلم
هېڅ خبر نه وم له حاله

غرو لمنې تکې شنې وې د غاړولو پرې مېلې وې
سیاهان ټول سیاحت کې هم جاري ښکلې چېنې وې
د طبیعت یوه ښکلا وه یوه بل رنګه دنیا وه
خدای خبر چې دا به څه ؤ
خو زه هېڅ نه پوهېدلم
هېڅ خبر نه وم له حاله

و شور روڼ د آبشارونو رنګ په رنګ په آوازونو

د شپونکي د شپېلۍ غږ ته غرڅنيان په اتڼو نو
يوه زړه وړونکې تماشا وه يوه بل رنګه دنيا وه
خدای خبر چې دا به څه ؤ
خو زه هېڅ نه پوهېدلم
هېڅ خبر نه وم له حاله

**************

د شعر او نثر لیکلو سره مې له وړوکوالي مينه او ذوق ؤ د شعر ترڅنګ نثر هم لیکم او د شعرونو شمېر مې د ۸۴ څخه تر ۱۰۰ پورې، د لنډو کېسو شمېر مې له ۱۹ څخه تر ۲۷ پورې رسيږي او ددې ترڅنګ د ګوتو په شمار ناول، طنز، رومان او داستانونه مې هم ليکلي او ليکم، نو غواړم چې د خپلو لنډو کيسو مجموعه چې د ( توري ورځ ) په نامه او همدارنګه د شعرونو مجموعه د ( سپين سحر ) په نامه چاپ کړم، که خدای ج کول په دې وروستيو وختونو کې به انشاء الله له چاپ څخه را ووځي.

په درنښت

# حزب الله « مظلومیار »

زما نوم حزب الله « مظلومیار » د شهید غلام نبی خان زوی د وردګو ولایت د سیدآباد ولسوالۍ د زرنۍ د کلي اوسیدونکی یم او په ۱۳۶۶ هـ ل کال کې په همدې کلي کې زېږېدلی یم. خپلې تعلیمي زده کړې مې له « اول » څخه تر شپږم ټولګي پورې د چک ولسوالۍ د لنګرشکي په دارالایتام کې کړېدي او له هغه څخه وروسته د ځینې مشکلاتو له کبله پاکستان ته ولاړم او هلته مې د کوټې په ښار کې د شهید مولوي حبیب الرحمان په لیسه کې له اووم ټولګي نه تر نهم ټولګي پورې زده کړې وکړې، خو کله چې بیا په هېواد کې سوله راغله نو په ۱۳۸۴ هـ ل کال کې بېرته خپل هېواد ته راستون شوم او د شیخ آباد په عالي لیسه کې مې له لسم ټولګي څخه خپلو زده کړو ته دوام ورکړ چې اوس په یوولسم ټولګي کې زده کړې کوم.

د کلام بېلگې:

## د اشنا غم

د فراق لمبو تور کړی لکه سکور یم
هیڅ له تانه خفه نه یم که سیځلی دې په اور یم
تور ماښام ؤ په کوځه دې تېرېدلم
هسې تاته مې ژړل ما ویل په کور یم
اشنا نوم دې په زبان اخستی نه شم
که دې یاد کړم بس د خلکو د پېغور یم
تصور مې ستا دحسن سره درومي
زه یې هسې ځغلولی په هر لور یم
د وفا غېږ مې تړلي زولنو کړه
ځکه تل د رقیبانو سره په شور یم
هر یو زخم مظلومیار په غزل وسو
زه د وینو په ډنډوکي هم نسکور یم

***

## غزل

له دنیا نه مې زړه تور دی	زړه مې سوی لکه سکور دی
خدایه چېرته به امان وي	بل قدم په قدم اور د ی
د وصال خبرې نشته	د بېلتون غم لور په لور دی
چې پیدا یم په ژړا یم	د یار غم مې په زړه خپور د ی
خندا نشته په ژوندون کې	ځکه خوښ زما خپل گور دی
په ژړا ټول وطن سور دی	که وردگ دی او که غور دی
ته چې خاندې خانده، خانده	ځکه زخم دې ټکور د ی

زه شاعری او شعر سره زیاته مینه لرم او تقریباً پنځوسو څخه زیات شعرونه مې لیکلي دي. ما په کوچنیوالي کې د شعر لیکلو سره زیاته علاقه درلوده، خو بیا مې د شعر لیکل پرېښودل ځکه چې زه په هغه وخت کې په خپلو شعرونو باوري نه وم، خو وروسته مې بیا د نهم ټولګي څخه د شعر لیکلو ته شروع وکړه. کوم شعرونه چې مې لیکلي دي تر اوسه پورې چاپ شوي نه دي، خو د «برنامه بیداري ملي» څخه هیله لرم چې زموږ د هېواد د ټولو شاعرانو شعرونه چاپ کړي.

زما د ځینو شعرونو عنوانونه دادي:

خطرناک سیل، غزل، د جانان دیدن، زلزله .....

# حبیب الرحمان (وردګ)

نوم مې حبیب الرحمان وردګ د ملا مؤمن خان زوی د وردګو ولایت د سیدآباد ولسوالۍ د حسن خیلو (تنګي) کلي اوسیدونکی چې په ۱۳۲۳ هـ ل کال کې د پاکستان صوبه سرحد په ضلع کوهاټ، تحصیل هنګو، اورکزیي ایجنسي د غلجو افغان مهاجرینو پنډ غالۍ په کمپ کې دې نړۍ ته سترګې غړولي دي. چې اوس د خوست په پوهنتون کې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځۍ د دریم ټولګي محصل یم.

بېلګه:

نن مې بیا د یار رایادې خاطرې دي — په زړا مې ځکه دواړه سترګې سرې دي
هجر وسوم د آشنا وصال مې نشته — ژاړم ځکه د زړګي مراندې مې پرې دي

بېلتون شاه شو د کور کلي یاران درومي | مین نشته ترې خالي ټولې دیرې دي
غریبي ده بیکاري ځوانان مو نشته | پردي ملک ته ځي ترې پاتې یې میرې دي
هجره سور اور دې په زړه راته بل کړی | چې له خولې مې نفس ځي واړه ایرې دي
چې د مینې پر بڼ اور دی لړېدلی | زما د زړه پر کور د غم وریځې خورې دي
قسمت هسې کړم جدا له خپل دلبره | چې د هر رقیب پر ما خوار مسخرې دي
گیله وکړمه له چا نه او و چاته | د فاني هسک پیل کړي دا نخرې دي
دا کارونه د تقدیر دي بل څه نه دي | چې مې ډېر عاشقان پرېښې بې اسرې دي
شعر یې مه بوله چې ما حبیب لیکلی | له فراقه د زخمي بلبل نارې دي

که څه هم اوس پښتو ژبه د شعر په ځای علمي آثارو ته ډېره اړتیا لري خو شعر هم په ټولنیز پرمختگ کې ژوندی رول درلودلی شي نو له همدې امله د شعر سره د زیاتې مینې په وجه مې په ۱۳۸۰ هـ ل کال کې په شعر لیکلو پیل وکړ او تراوسه مې د ( ۱۵۰ څخه تر ۲۰۰ ) پورې شعرونه لیکلي، چې ډېری مې د «غږ» تر مؤقتي نامه لاندې راټول کړي، خو لـه بده مرغه په چاپ یې نه یم بریالی شوی او کـه بخت راسره یـاري وکړه دا شعري ټولگه بـه چاپ او ورسره په څنگ کې بهٔ د علمي آثارو ژباړنه او د خپل توان سره سم به د علمي آثارو په لیکلو هم لاس پورې کوم. انشاء الله.

په مینه او مننه
حبیب وردگ ( ۱۳۸۵\۷\۲۲ )

د لنډې کېسې بېلگه:

ورک ؤ

د مازدیگر زیړی لمر پـه پریوتـو ؤ، شفق هـم خپلې زرینې وړانگې د غرو د هسکو څوکو څخه هغو تـورو سیورو تـه پاشلې چې لمر ترې پریوتی ؤ، د افق د تورې تروږمې خړې پلوشې نژدې په خوریدو.

مسجد کې ناست وم تسبیح مې اړولې چې نـابیره غـږ راباندې وشو غـواړې دي څوک، تسبیح مې جیب کې واچولې د مسجد نه د وتو په لـور روان شوم د ډېرې بېړې نه د

مسجد د وتو دعا هم را څخه هېره شوه، موزې مې په پښو کړې او په وارخطايي سره د مسجد د بيروني د ښکته کېدو پايکې زياتي وې کله مې چې د پاسه په لومړي پايکه پښه کېښوده، دا چې زما شل انچه پايڅې او غټې موزې په پښو وې موزه او پايڅه مې په پايکه کې بند شول او لاندې راولويدم ، گونډې او ځنگلې مې په ځمکه سخت ټپ وخوړ نژدې ؤ چې د مسجد سره ناست کسان راباندې راټول شي او راته ووايي چې څه کوي ليونی خو به نه وې؟ ژر راپورته شوم شاوخوا مې وکتل چې وړاندې يو ځوان ولاړ دی ورڅخه مې پوښتنه وکړه چې ستا په کار وم؟ راته يې وويل هو، تر څو مې چې د خيرت دی پوښتنه ترې کوله راته يې وويل: زيری مې در ته راوړی، ما ورته وويل زيری دې په گل بدل وايه څه زيری دې راوړی؟ ده راته ويل چې تر څو د زيري تحفه را نه کړې نه يې درته وايم، هماغه ؤ چې د زيري د سر کليمې په دومره خوربو او زړه وړونکو الفاظو شروع کړ چې تا به ويل بله دنيا کې يم، هغه دا چې د هغه ښکلي بشر زيری مې درته راوړی چې تا به د هغه ښکلي او حسين تصوير د سترگو نه نه بايلو، ما وپېژندو چې په سفر تللی معشوق ښيي، خو ده ته مې وويل : ومې نه پېژندو د چاخبره «په خوله مې يو څه ويل په زړه کې مې گوډې ماتولې» په دې خبره چې ما ونه پېژندو ځوان راڅخه رهي شو ، ما ورپسې کتل تر څو فنا شو. زه هم د کور خوا ته روان شوم په لاره وم چې موزو مې ښنگرکې وهلو، موزو ته مې وکتل چې د ښې پښه موزه مې په چپه پښه، د چپې پښې موزه مې په ښې پښه پښو کړې وه له ځانه سره مې وخندل چې ملامت نه وې چې د مسجد د پايکي نه راگوزار شوي او شکر مې وويست چې لږ تروږمی غوندې وه چې خلکو او ځان زما چپه موزې ونه لېدې کنه نو شرمولای به يې وای، کورته لاړم نه دا مې ويل چې هرومرو به ددغه ښکلا د بشر کورته ځان رسوې ناوخته ؤ فقط د کوچنيانو دا غږونه مې تر غوږو کېدل چې ويل يې : «ځئ چې ځو کورو ته مرغی لاړې غارو ته» لږ وروسته په آسمان کې يو يو ستوری په ښکارېدو شو، وريځ هم غوټې، غوټې راغله، سپوږمی هم ځوارلسم ؤ نری نسيم هم چلېدو کله به توري غوټې وريځ د سپوږمی ښکلی مخ پټ کړ او پر ما باندې به يې توره سيوره راولويده، سخت ببرېدلم چې تر څو مې کوم وحشي ځناور ونه داړي کله چې ددې ښکلي او حسين بشر کلي ته نژدې شوم آسمان همغه آسمان، ځمکه همغه ځمکه ، غرونه همغه غرونه خو هغه پخوا ښکلي نري چنارونه او تر هغه لاندې ښکلي گودرونه وران، ويجاړ ؤ له ځانه سره مې وويل:چې د ښکلي بشر زړه

وړونکی حسن به هم داسې وي که څنګه ؟ په دې چورت او فکر کې وم چې وړاندې مې يوه دروازه تر سترګو شوه دومره زړه دروازه وه چې له ليرې نه په کې لوی لوی چولې ليدل کېده، د زنګ او ځنځير پر ځای مې د تيم يوه ځنګ وهلې پټاره سريښ وه، ما هم لويه ډبره رااخېسته او دروازه مې پرې ټک ټک کړه ، يو کس دروازه خلاصه کړه ماهم وار د واره ترې وپوښتل چې ته فلانی يې؟ ده راته وويل : هو. کله مې چې وليدل چې دده پخوانی ښکلا د زمانې ګردش خوړلې وه او زه يې ونه پېژندلم نو مې ورته وويل چې زه ملنګ يم خير غواړم، يوه ټوټه سپوره ډوډۍ يې راوويسته، ډوډۍ مې ترې واخېسته ترې رهي شوم، په لاره روان وم له ځانه سره مې دا ويل : چې دا دنيا بې وفا، ښکلا يې بې وفا، ژوند يې بې وفا، دا مې ومنله چې د هغه باوفا با بقا دنيا لپاره چې آخرت دی بايد کار وکړم. بېرته مسجد ته د تسبو په اړولو مې پيل وکړ.

# حزب الله ( مخلص )

نوم مې حزب الله (( مخلص )) د استاد حيات الله زوی، چې له نن څخه ( ۱۹ ) کاله وړاندې د وردګو ولايت د چک ولسوالۍ د مانکي په کلي کې زېږېدلی يم.

لومړنۍ زده کړې مې د امام ابوحنيفه رح په ښوونځۍ او وروسته مې خپلې زده کړې تر دولسم ټولګي پورې د شهادت په مدرسه کې ترسره کړېدي په کال ۱۳۸۲ هـ ل کې د همدې مدرسې د فراغت څخه وروسته د کانکور د آزموينې په واسطه د کابل پوهنتون د شرعياتو پوهنځۍ ته بريالی شوم چې اوس مهال د همدې پوهنځۍ د دريم ټولګي محصل يم

د کلام بېلګه

د خیال سترې هوسۍ

لکه گل چې په سپرلي کې بارانو نه الهام اخلي
زړه مې داسې گرانه یاره ستا لیدو نه الهام اخلي
ستا د لاسو نشانونه گرځومه ځکه هر وخت
یعقوب غوندې مې سترگې له جامو نه الهام اخلي
گرځېږم چې تنها تورو تیارو کې په صحرا وو
د خیال سترې هوسۍ مې دنگو غرو نه الهام اخلي
د کوثر ساقي ته کړمه تل سجدې د داد په طمع
صفا او ملنگی هیلې مې توبو نه الهام اخلي
ستا د میني میکده کې زه رنځور (مخلص) خمار یم
هر عنوان مې د غزلو پیمانو نه الهام اخلي

شعرونه مې په ابتدایي (ساده) مرحله کې دي چې د سلو شاوخوا ته رسیږي، په دې کې آزاد شعرونه، نظمونه هم شته چې زیاتره برخه یې غزل جوړوي. په راتلونکې کې هیله لرم چې د شعر لړۍ مې لاپراخه کړم.

# روح الله ( ساحل )

زه روح الله (( ساحل )) د ډاکټر سعادت (( نجیب )) زوی په ۱۳۲۸ هـ ل کال کې د میدان وردګو ولایت د سیدآباد ولسوالی د سالارو په کلي کې زېږېدلی یم. اوس مهال د تکیې د خالدبن ولید رض د عالي لیسې د دولسم ټولګي زده کوونکی یم
له کوچنیوالي راهیسې مې دشعر سره مینه لرله چې په ۱۲ کلنۍ کې مې په شعر لیکلو پیل وکړ. له شعر پرته له ناول او لنډې کیسې سره هم مینه لرم خو تر اوسه مې نه دي لیکلي. د شعرونه شمېر ( ۲۰ ) شاوخوا ته رسېږي، چې زیات یې غزل دي خو لاد کتاب په بڼه نه دي چاپ شوي په راتلونکي کې هیله لرم چې د کتاب په بڼه یې چاپ کړم.

د کلام بېلګه:

خيالونه مې د هيلو له بوستانه سره ځي
ژوند مې له بې منزله يو کاروانه سره ځي
الفت مې د شعرونو له بيانه سره ځي
رقيب مې اوس همرازه له جانانه سره ځي
چې وار خطا نه کړې اميد ته کله شا نه کړې
دردونه ټول يکسانه له درمانه سره ځي
د هيلو شمع به کله رسي تر منزله
چې د دودونو له يو توند توپانه سره ځي
نن بيا مې د ځان په ضد يو څو خبرې وکړې
قسمت مې له کړيو او زندانه سره ځي
د غازي زوی ته څوک غازي نه وايي ساحله!
کيسې دغيرتونو له ايمانه سره ځي

# ډاکتر عبدالحمید (بهیج)

ډاکتر عبدالحمید «بهیج» د حاجي غلام حبیب زوی، کلی، ولسوالی، ولایت او هېواد مې همدا یو افغانستان دی.

هغه د چا خبره د زېړون کال په دې نه لیکم چې چا ته یې څه ګټه رسېږي، که بیا هم څوک یې کوم نجومي ته زما د پال کتو په موخه ښکاره کوي نو په پال ایمان نه لرم. نړۍ ته مې په داسې کورنۍ کې سترګې غړولې چې د سیمه اېزو دودونو او تربګنۍ له لاسه یوې بلې لرې پرتې پردۍ سیمې ته کډه شوې وه. د ژوند له لومړنۍ کرېغې څخه مې چې کله خلک خبر شول د ټوپکو په ډزو یې بدرګه کړه، په دې مانا چې په ژوندون کې مې تر هر څه د مخه د ټوپک غږ، چې د کرکې شعار دی اورېدلی دی. دا هغه مهال دی چې په نړۍ کې دوه سترو ځواکونو د افغانستان په خاوره یو بل ته ښکرونه تمبه کړي ؤ. سپېڅلې جګړه پیل شوه او د پلار تېر مې د

جګړې په مورچل کې غلبېل غلبېل شو، زه چې په خبرو سم نه وم راغلی تر دومره اغېز لاندې راغلم چې دهغه درد څرېکې اوس هم احساسوم. زموږ کورنۍ پاکستان ته مهاجره شوه هلته چې د نورو د هيلو او آرمانونو له پاره د پاکو او سپېڅلو ځوانانو د غوښو وريتولو بازارونه جوړ شوي وو. په همداسې يوه چاپېريال کې مې وده کوله، ددې انسان وزمه خلکو پندونه مې اورېدل او ....

لاد ښوونځی نه وم چې مجلې او اخبارونه مې لوستل او کله به مې چې د يوه انسان په لاس د بل هغه د وژنې، يرغملوونې او ځورونې خبر ولوست د شپې به خوب نه راتله، له هماغه ماشومتوب څخه مې زړه له يوه ګونګ درد څخه خوږېده.

ښه مې په ياد دي چې کله مې په پېښور کې د افغانستان د يوه روڼ اندي او فلسفي انسان ډاکټر بهاالدين مجروح د ترور کېدو خبر ولوست دوه ورځې مې ډوډۍ ونه خوړه مګر په دې هم نه پوهېدم چې له مجروح سره زما څه دي، زه ورباندې ولې دومره دردېدلی يم.

ډېر شوخ وم او تل به مې له ماشومانه لوبو سره خپله لېوالتيا څرګندوله، مور مې چې ماته له آسمانه را نازله شوې فرشته ښکارېدله راڅخه په تنګ شوه او زما د شوخيو څخه يې د خپلو غوږونو د آرامولو په موخه له کوره وشړلم، زه هم چې په کوڅه کې له همزولو شرمېدم چې ولې يې له کوره را شړلی يم، زموږ کور ته څېرمه ښوونځۍ ته ورغلم، سرښوونکی مې له شاملېدو سره مخالفت ښکاره کړ او دليل يې دا وو چې ته کوچنی يې مګر د ډېر ټينګار په ترڅ کې يې په ښوونځي کې شامل کړم.

دا درېم ټولګی دی، کتاب لوستلی شم نو املا نه شم ليکلای، ښوونکي راڅخه پرله پسې پوښتنې کوي خو زه يې ځواب نه شم ويلای، هغه هم د توت يوه لمده لښته را اخلي او په لاسونو مې د ډېرو وهلو له لاسه پولۍ ودرېږي.

بېرته کورته راځم، ښه وږی شوی يم، مګر د مور زړه مې لا نه دی سوړ شوی، ډوډۍ نه راکوي په کور کې د پرتې زړې خيمې په مړوي مې وهي، زه له ډېره درده خورا ډېرې چيغې وهم ګاونډيان را خبرېږي مګر زه لا هم وهل خورم. له دې پېښې څخه چې پلار خبرېږي هغه هم ما ملامتوي بيا هم وهل ټوکل زما په برخه له ازله ليکل شوي دي.

له هغه ماشومتوب څخه نه پوهېږم چې ولې د ټولو بد ایسم، ولې دنورو کورنیو د ماشومانو په څېر نه نازېدم، ښوونکی ماته په غصه دی، ګاونډی ما ته داړې چیچي، پلار مور ماته سوټي په لاس ولاړ دي.....

په ښوونځي کې د استاد خبرو ته غوږ نه ږدم ځکه د هغه له سولېدلو او کلیدیي خبرو چې له اورېدو څخه یې زما غوږونه ستومانه شوي کرکه لرم، تل استاد ته وایم چې آیا په نړۍ کې داسې څوک شته چې یو بل ته د ترخې خبرې په ځای له مینې ډکه خبره وکړي، داسې انسانان هم شته چې د مینې په مذهب وي.

اوس نو د څلورم ټولګي زده کوونکی یم له وهلو ټکولو او ترټلو سره روږدی یم، دومره ډېر هم نه خوږېږم او د زیاتو کنځلو تر اورېدو وروسته دا پر له پسې تکرارېدونکی کار او دخپل برخلیک برخه بولم. له ښوونکي څخه پوښتنه کوم چې« په نړۍ کې د مینې په نوم دین شته دي ؟ » ښوونکی د ځواب راکولو په ځای فوراً سرښوونکي ته ورځي او هغه مې په دې تور چې خدای مه کړه زما له اسلام سره مینه کمه شوې د سلو لښتو په وهلو محکوموي هغه هم د ټول ښوونځي په مخ کې .

اوس نو شپږم ټولګي ته رارسیدلی یم اوپه ښوونځي کې د یوه بې دینه او بې لارې زده کوونکي په توګه ښه نوم لرم. ټول زما له نامه کرکه لري ولې چې زه مینه غواړم او دمینې دین او دوی مینه نه پېژني او نه هم زما خبرې او هغه څه درک کولای شي چې زه یې په ګوګل کې د ځان سره ګرځوم ، ورباندې ژوندی یم او دخپلې روح غذا یې بولم. یوه ورځ د ناوړه لیک بڼې ته جرم د پلار له اړخه سخت وهل کېږم، یوې تنها خونې ته په داسې حال کې ځم چې اودس مې هم کړی دی، لوی خدای ج چې باور لرم هغه دی چې یوازې مینه پېژني او له وهلو ټکولو څخه کرکه لري په لمانځه درېږم او تر لمانځه ادا کولو وروسته په هماغه ځای ویده کېږم، او یو ډېر حېرانونکی خوب وینم او له خوب څخه تر راوېښېدو وروسته ګورم چې کاملاً مې خط د یوه ښکلي خطاط په شان زده وي.

دا مهال په ښوونځي کې د کوچني خطاط په نوم لږ څه قدر پېداکوم خو چې کله بیا هم هغه د دوی په ګومان زړې ببولالې وغږوم نو د ټولو په زړونو کې راته اور بلېږي. اوس نو له هېواد څخه سرې لښکرې وتلې، د شوروي لاسپوڅي حکومت نسکور شوی او مجاهدین

بریالي شوي دي د پخوا په شان اخبارونه لولم، راډیوګانې اورم او چورتونه وهم، اوس نو له انسانیت او شرافت څخه داسې بربنډ تېري وینم چې هره ګړۍ له خدایه د مرګ غوښتنه کوم. کله ناکله د ځان وژنې هڅه کوم. خو خدای ج تر دم مهاله ژوندی ساتلی یم. له ډېره ګورمه لیکوالۍ ته پناه ور وړم، لیکل کوم او د کاغذ له سپین مخ سره خبرې، هغه مخ چې هر څه ورته وایم په ډېر ورین تندي یې منې او نه راته نه وایي، دردونه مې لږ لږ کمېږي ځکه کاغذ راته هغه لومړنی څوک ګرځي چې زما په خبرو پوهېږي او زما سره ملګرتیا کوي.

دا مهال کابل پوهنتون ته راغلی یم په لاره کې په خامه سرک د (۱۲) ساعته مزل څخه وروسته سخت ستومانه شوی یم، په دې کړه لاره کې هر کاڼي او هر بوټي راته ژړلي دي، سخت ژمی دی او واوره ورېږي، سختې سړوخې نیولی یم ځکه په تن باندې یوازې یو نری کمیس لرم او د اغوستو له پاره کوم بل شی هم راسره نشته. د طالبانو د مهال د یوه وزیر پوښتنه کوم هغه چې په کولتوري او فرهنګي چارو کې ځان ورته پنډت ښکاري، دروازه یې ور ډبوم خو د ساتندویانو له خوا یې سخت رټل کېږم، مګر څه وکړم له سړوخې او نابلدۍ څخه هېچېرې نه شم تلای، په سپینو سترګو شپه سبا کوم، سهار د وخته کابل پوهنتون ته پیاده ځم، ځکه د لارې کرایه راسره نه شته، په پوهنتون کې سختې ناخوالې وینم داسې چې انځورول یې دهغه ویر یو ځل بیا تازه کول بولم، په ټول پوهنتون کې مې داسې شنه ونه چې د طبیعت ښنه ده ونه لیده چې د مرمیو له لاسه سورۍ سورۍ شوې نه وي، د ښځو د ښېښتانو یوه بوجۍ مې ومینده چې په تېر مهال کې د اسلام په نوم ورڅخه شلول شوي وو او د انسانانو داسې ټوکر ټوکر جسدونه چې ...

دا نو زه یم چې ژوندی یم، په دې کم یا زیات عمر کې مې یوه ورځ هم مینه ، او مینه او مینه نه ده لیدلې هغه څه چې زه یې خپل دین او مذهب بولم، له دې کبله مې یوازېتوب ډېر خوښېږي او هغه جبران خلیل جبران خبره :

۱- تر څو د هغه کسانو مخونه ونه وینم چې ځانونه پلوري او په بیه یې تر ځان ارزانه توکونه رانیسي.

۲- تر څو هغه کبرجنې مېرمنې ونه وینم چې په سترګو او وروځوسره په خلکو ملنډې وهي، په شونډو زرموخېزه موسکاوې کوي، خو په زړونو کې یې له یوه هدف څخه زیات څه نه وي.

۳- تر څو د هغه کسانو مل نه شم چې دعلم خوبونهويني او په هغه کې ځان تر وروستۍ پوړۍ رسيدلی بولي خو په ويښه يې سترګې يوازې د حقيقت د سيوري د ليدلو توان لري خو دوی ګومان کوي چې د هغه بشپړ ګوهر يې ترلاسه کړی دی.
۴- ځکه چې د هغه زور ځواک کارونکي شخص له چلند څخه ستومانه شوی يم چې نرمښت يو ډول کمزورتيا، جوړجاړی يو ډول ډار او لويي غوښتنه يو شان کبر بولي.
۵- ځکه د داسې شتمنو له ناستې پاستې ستړی شوی يم چې ګومان کوي لمر، سپوږمۍ او ستوري د دوی له نړۍ او زېرمتونونو څخه راخېژي.
۶- ځکه چې د داسې سياستوالو څخه زړه توری شوی يم چې د خلکو له هيلو سره لوبې کوي، د هغوی په مخ او سترګو کې زرينې دوړې جوړوي او په غوږونو کې يې د لغتونو سندرې بولي.
۷- ځکه دهغه کاهنانو څخه کرکه لرم چې پندونه او وعظونه کوي خو عمل ورباندې نه کوي او له خلکو څخه د هغه څه هيله لري چې له ځان څخه يې نه لري.
۸- ځکه د چا له لاس څخه مې څه نه دي اخيستي مګر دا چې بيه مې يې له زړه څخه ورکړې ده

۹- ځکه د تمدن او پرمختګ له هغه ورانيو او ګامونو څخه خوابدی او آزرده شوی يم چې دخلکو په سرونو يې بنسټونو ابنودل شوي وي.
۱۰- ځکه يې په يوازېتوب کې ژوند، روح، فکر، زړه او جسم وي.
۱۱- ځکه په يوازېتوب کې د لمر له رڼا، د ګلونو د خوږو وږمو او د اوبو له شنهار څخه ګټه اخلم.
۱۲- دا چې د ځمکې د رازونو د پېژندلو او دخدای ج عرش ته د نژدې کېدلو په لټه کې يم.

- په ژوند کې څلور شيان راته ډېر ګران دي او ورباندې ايمان لرم:

۱- مينه چې زه ورته دخپل دين په سترګه ګورم.
۲- خپلواکي چې تر نن پورې يې په ليدو پسې ړوند شوم.
۳- رېښتنولي او صداقت چې لاتراوسه مې په ډېرو کمو خلکو کې ليدلي او زه يې د خپل مذهب په توګه پېژنم.
۴-وفا چې ور څخه ارزښتناک او مهم شی نه شته.

- د ځمکې د مخ هېڅ رنګ مې نه خوښېږي ځکه له رنګ څخه کرکه لرم او رنګ ته دهغه څه په سترګه ګورم چې د حقیقت مخ پټوي.
- د ژوند ډېر وخت له کتاب سره تېروم، هغه څه چې تل راته رېښتیا وایي او تل راسره ملګرتیا کوي.
- په مسلمانو پوهانو کې د حضرت امام محمد غزالي (رح) لیکنې په ډېر مینه لولم ځکه هغه هم د مینې په مذهب دی او هر ځل یې چې لیکنې لولم د اوښکو په بیولو یې بدرګه کوم.
- د نړۍ په نورو لیکوالو کې مې جبران خلیل جبران خوښ دی که څه هم له ځینو خبرو سره یې جوړ نه یم.
- په موسیقۍ کې یوازې د افغانستان د وتلي سندرغاړي ډاکټر صادق فطرت ناشنانس له سندرو سره مستېږم.
- له خوړو سره چندان مینه نه لرم که څه هم د جسم له پاره ډېر اړین دي مګر تر څو چې مې روح نه وي موړ شوي د جسم په اړه فکر نه کوم.
- هېڅکله مې د ښو جامو د لرلو هیله نه ده کړې، هېڅکله مې د ښه کور له پاره خوبونه نه دي لیدلي او هېڅکله مې هم د موټر لرلو له پاره طالع نه دي کتلي.
- هېڅکله مې د ځان له پاره حتی یوه شېبه هم ژوند نه دی کړی بلکې تل راسره د نورو فکر دی.
- هېڅکله مې مینې ته چې زه یې خپل دین بولم له مادي پلوه نه دي کتلي، مینه مې له مادې څخه پورته داسې شی بللی چې د انځورولو له پاره یې په پرېکنده توګه کلمات نه شته دي.
- له خپل هېواد سره لېونۍ مینه لرم، خپله ژبه راته خورا ګرانه ده او خدای خبر چې په پردۍ ژبه به پوهېږم او که نه خو هېڅکله هم په هېواد کې دننه له چا سره په پردۍ ژبه نه یم ګړېدلی، که کله مجبور شم چې مقابل پلو زما په ژبه بوی هم نه وړي نو بیا

ورسره قصداً ګوډه ماته انګریزي وایم ځکه له خپلې ژبې سره مې ژمنه کړې چې هېڅکله به یې نه هېروم او نه به هم نورو ته ورباندې ګرانښت ورکوم.

- د خپل زړه د براس له لیکلو سره ډېر خوښ وم ځکه کېدای شي یوه ورځ څوک ګټه پورته کړي چې په دې لړ کې مې لاتر اوسه (۱۴) کتابونه لیکلي چې نومونه به یې د دې ژوندلیک د آثارو په برخه کې یاد کړم.

په پای کې باید یاده کړم چې:

د نړۍ یو تر ټولو ناوړه انسان یم، هر چېرته د خلکو راڅخه کرکه کېږي، د ټولو بدایسم، ملا له ما څخه ناکرار دی، مور پلار په بل ځای کې سرټکوي، ښوونکي او ملګري راڅخه بیل ژاړي، کلیوال او عام وګړي راپورې خاندي یوازې کوچني ماشومان دي چې له ماسره جوړ دي کله چې په لاره تېرېږم له دوی سره په سترګو مه شئ او روغبړ باندې مې هره ورځ ډېر وخت تېرېږي، زه له دوی سره جوړ یم او دوی له ماسره مینه لري.

په ټوله نړۍ کې د کرکې او توپیر د ورکېدو په هیله

۲۰۰۶/۱۰/۲۵

د لیکوال آثار:

زما د آثارو شمېر لکه چې مخکې مې ورته نغوته وکړه تر دم ګړۍ پورې (۱۴) ته رسېږي چې زه یې یوازې د هغو نومونه یادوم چې د چاپ په ګاڼه پسولل شوي دي:

۱- بهیج طبي سیند (Bahij's Medical Dictionary): په (۲۰۰۲) کال کې په (۲۰۰۰) ټوکه کې خپور شوی سیند دی چې د متن د پاڼو شمېر یې څه دپاسه (۱۲۰۰) ته رسېږي.

۲- بهیج سیاسي قاموس (Bahij's Political Dictionary): په ۱۳۸۴ هجري لمریز کال کې په (۱۰۰۰) ټوکه کې خپور شوی سیند دی چې د ۱۳۸۵ هجري لمریز کال په ترځ کې یې د هېواد د خپلواکۍ د ۸۷ مې کلیزې په ویاړ د فرهنګ او ځوانانو د وزارت له خوا په جوړ شوي ادبي او هنري کانکور کې لومړی مقام ترلاسه کړ.

۳- انګلیسي – پښتو فلسفي قاموس ( English – Pashto Philosophical Dictionary ): دا سیند په ( ۱۰۰۰ ) ټوکونو کې خپور شوی، چې ۳۲۲ مخونه لري او په ۱۳۸۴ هـ لمریز کال کې د هېواد د خپلواکۍ د ۸۲ مې کلیزې په ویاړ د اطلاعاتو او کلتور د وزارت له خوا په جوړ شوي ادبي او هنري کانکور کې د لومړي مقام ګټونکی دی.

۴- طبي ترمینولوژي ( Medical Terminology ): دا کتاب په ۱۳۸۳ هـ ل کال کې په ( ۱۰۰۰ ) ټوکونو کې خپور شوی او ( ۳۲۰ ) مخونه لري.

۵- د باران په ژبه: د جبران خلیل جبران د غوره ویناوو غورچاڼ دی چې په ( ۱۰۰۰ ) ټوکه کې خپور شوی او ( ۱۲۳ ) مخونه لري.

۶- د دولسم ټولګي له پاره د ریاضي د تمرینونو حل: چې ګڼ ځله چاپ شوی دی.

۷- د یوولسم ټولګي لپاره د مثلثاتو د تمرینونو حل: چې ګڼ ځله چاپ شوی دی

۸- د یوولسم ټولګي لپاره د ریاضي د تمرینونو حل: چې ګڼ ځله چاپ شوی دی.

۹- بهیج پښتو - انګلیسي سیند ( Bahij's Pashto- English Dictionary ): چې څه د پاسه ( ۴۰۰ ) مخونه لري.

په پای کې ددې لیکنې د هر لوستونکي څخه په ډېر درناوي هیله کوم چې په خپلو دعاګانو مې ولمانځي.

ستاسي بهیج

۲۰۰۲/۱۰/۲۵

PROPERTY OF ACKU
16044

# سر بلند (حکیمي)

زما نوم سربلند د الحاج عبدالصبور زوی چې تخلص خپل حکیمي کوم د وردگو ولایت د جلګې ولسوالۍ د بخشک په کلي کې په ۱۳۴۵ هـ ل کال کې زېږېدلی یم.
ابتدایي تعلیمات مې هملته عبدالواحدخان په منځني ښوونځي کې ترسره کړې او ثانوي تعلیمات مې په پېښور کې د امام اعظم رح په مدرسه کې سرته رسولي همدا راز لوړې زده کړې مې د ساینس او ټکنالوژۍ په پوهنتون د عربي ژبې په ادبیاتو او تربیه کې په ۱۳۷۱ هـ ل کال کې پای ته ورسولې. له دې ځخه وروسته په بېلابېلو ځایو کې د زده کړې او تربیې په ځانګه کې دنده اجرا کړېده لکه: په پکتیا، غزني، جلګه او تر ټولو زیات وخت مې په چک وردگ روزنتون کې د مدیر په توګه دنده اجرا کړې چې تراوسه هم په همدې روزنتون کې په کار بوخت یم.

د کلام نمونه:

پوهنه

پوهه او علم هغه څراغ دی چې په تیارو کې ډوب خلک رڼا ته راوباسي، د جهل ناپوهۍ بې تمدنۍ هر ډول تناب او تڼغرونه ټولوي، بېده او بې خبره قومونه پوه کوي او د هغه رازونو او وسایلو څخه بې خبروي چې د ژوندانه ټولې هوسایي او اسانتیاوې په کې نغښتي دي، کومه ټولنه چې د پوهې او علم څخه بشپړ خبرتیا ولري خپل حقوق لاس ته راوړی شي او نورو ته هم خپل حقوق او مصالح وربېژني ، په علم سنبال خلک د مشعل په شان تیارې د جهل ظلم او استبداد له منځه وړي، د علم او بې علم مثال په تیاره کې د سفر په شان دی چې علم ولري د برقي څراغ غوندې ګټه ورکوي او بې علمه د ړانده او بې چراغه روان کس وي چې په کومه کنده او بدیا کې ولوید همغه یې ځای شي.

ازادي، تمدن ، مدنیت په علم لاس ته کېدای شي، نن چې د افغانستان مظلوم ولسونه د علم او پوهې څخه بې برخې دي حتی د بل چراغ څخه هم مناسبه ګټه نه شي اخیستی څومره په مشکلاتو کې اخته دي ، د اد بې پوهۍ او بې علمۍ نتیجه ده .

ما زیات نثرونه لیکلي دي چې زیاتره یې د پوهې او تربیې په اړوند دي چې تراوسه پورې چاپ شوي نه دي، که خدای ج د چاپېدو زمینه برابره کړه نو خپلې لیکنې به چاپ کړم تر څو په راتلونکې کې زموږ ولس ترې ګټه پورته کړي.

# سيدصابر ( عزيز )

قلم مې دی راخيستی ټول جهان به لړزوم
ټوپک مې غورځولی دی خپل ځان به جوړوم
سياليو ته ور وځم لوڅ سر بربنډې پښې
تعهد مې دی کړی خپل وطن به جوړوم

سيدصابر « عزيز » د ډگروال عبدالودود خان « عزيزي » زوی په ۱۳۲۴ هـ ل د غبرگولي د مياشتې په پنځلسمه نېټه دې دنيا ته سترگې غړولي دي.
لومړنی زده کړې په خپل پلرنی هستوگنځي د امام ابوحنيفه رح په ښوونځی کې او منځنی زده کړې البته تر لسم ټولگي پورې د خالدبن وليد د تکيه په عالي ليسه کې او بيا د کابل

ولایت د څلورمې ناحیې د نادریه له عالي لیسه څخه په ۱۳۸۳ هـ ل کې فارغ او په ۱۳۸۴ هـ ل کال د کانکور په آزموینه کې ګډون وکړ چې د کابل پوهنتون د ژورنالیزم پوهنځی ته بریالی شوم، چې تراوسه پورې په همدې پوهنځی کې د دوېم کال زده کړې پرمخ وړم.

د کلام بېلګې :

یو افغان ملت یو د یوه قانون پیرو یو ټول
تر یوه آسمان لاندې په یوه ارته هستوګن یو ټول
نه غواړو تبعیض، بې اتفاقي پر دغه خاوره کې
ورونه د یو بل یو د هیچا نه موږ کم نه یو

پخلا شه

پخلا شه ستا حضور ته مې څولۍ راوړي دي
د سرو سترګو دپاسه مې زارۍ راوړي دي
په سپین پلو مې اوښکې له ګریوانه کړه لرې پاکې
جګر دپاسه وینو مې پولۍ راوړي دي
چې کله مې دستا دعشق خطونه کړل راټول
غماز راته څو ځله سپرمغۍ راوړي دي
زړګی مې راته وایي چې شپبه درسره کښېنم
وروستی د ژوند شېبې مې څنډنۍ راوړي دي
مرګی راته د سترګو دروازه کې انتظار دی
د ژوند اخیر شېبې مې په سلګۍ راوړي دي
وروستی وصیت مې واخله خیر زه درنه درومم
دغم توري جامې مې همیشنۍ راوړي دي
عزیزه! کفن واغونده چې دمه دې شي جوړه
طبیب درته د مرګ د خوب ګولۍ راوړي دي

مومن خان میني پسې اخیستی دی تم کېږي کله
په نیمه شپه کې د کلاگانو په برجونو خېژي
نصیب یې نه شو سپین جبین د معشوقي پر ژوندون
د شیرینو په ځای لاس پر بل ادم ولگید
په هغه دم یې یو خنجر د زړه په سر ولگید

## تړی چنار

زموږ د کلي د گودر د غاړې جگ چناره
نن دې دا پاڼې راته ولې داسې زېړې ښکاري
یو څه رښتیا خو راته ووایه داحلق ولې داسې وچ دی
د چا له لاسه ستا ځواني داسې برباد ښکاري
چې هر ماښام به ستا چاپېره پېغلې جونې پنډې
اوس دې دا مینه راته ولې بیابان ښکاري
په دې گناه چې جېنکو به درنه تار تاووه
د خپل مین لپاره ننبتي دې په ځان ښکاري
گودر خو هم درته د ژوند آب حیات در نه کړ
کنه یو څو ورځې ژوندون خو وې عیان ښکاري
د مات منگي ټوټې او ستا څانگې هر خواته وینم
شرنگ د بنگړو، شر داوبو او نه هغه ښکلي بلبلان ښکاري
زما غریب په دعاگانو که څه کېږي یاره
همیش زما دواړه لاس پورته په دعا ښکاري
خدایه یو څو څاڅکي باران خو پرې را وه وروي
ددې غریب پېښې ځمکې لاندې په لړزان ښکاري
عزیزه ستا په سترگو څه د غم پردې راغلي

چې هرې خواته ځي هر بڼ درته ويران ښکاري .

تراوسه پورې کوم چاپي اثر نه لرم. په نژدې راتلونکي موده کې به مې يوه شعري ټولګه چاپولو ته چمتو شي او همدارنګه د يوه انګليسي کتاب پښتو ژباړه د ژورناليزم په برخه کې هم ترکار لاندې ده .

# شفیق الله (اکرمي)

شفیق الله اکرمي د نصیح الله زوی له نن څخه (۳۴) کاله دمخه په (۱۳۵۰ هـ ل) کال د وردگو ولایت دچک ولسوالۍ د پنه په کلي کې زېږېدلی یم . لومړنۍ زده کړې مې په بېلو بېلو ښوونځیو کې ترسره کړې او په ۱۳۷۱ هـ ل کال کې د حضرت عمر فاروق (رض) عالي لیسې له دولسم ټولګي څخه فارغ شوی یم. لوړې زده کړې مې په خصوصي شکل د کیمیا په رشته کې د ساینس پوهنځي له استادانو څخه ترلاسه کړې، د پنځو کالو راهیسې د حضرت عمرفاروق په عالي لیسه کې د کیمیا د استاد په توګه دنده ترسره کوم

د کلام بېلګې:

## غزل

خلک خوشحالي کړي زه غمو کې یم
دوی کړي هوسونه زه سلګو کې یم
ټول وايي مستي او خوشحالي ده نو
زه د اوښکو ډنډ او سیلابو کې یم
څوک دي په حیرت کې دګل پاڼو ته
ښې د ملنګۍ جامې په تن لرم
نه چې پردي رسم، رواجو کې یم
یاد چې نن د خوارو اوغریبو کړم
ځکه خو زه شمار په لیونو کې یم
ځم به په دردمن زړه له دنیا ځنې
زه د خپل ماحول په زولونو کې یم
درد د زړونو لیکم په قلم سره
زه اکرمي ګیر اوس په شعرو کې یم

## غزل

دغه څو تورکي مې د ژوند حسین ګلان وګڼه
یا مې د ژوند د خاطراتو لنډ داستان وګڼه
خیر ظاهر که څه ښکلا په کې نه شته
خو په باطن کې د ښکلا ترجمانان وګڼه
آب ذلال غوندې له یو مخې صفا، صفا دي
په خوشبو کې له ګلابو او ریحان وګڼه
یو څه به وروسته وي د مینې له کاروانه ځنې

ولې وفا کې يې تر ټولو مخکښان وګڼه
ستوری به نه وي چې په هسک ځل وکا
د چت وړوکی یو قندیل کې اویزان وګڼه
زه اکرمي د تصور دنیا ته لاړ لټوم
غزل ویل غزل لیکل مې یو ارمان وګڼه

د ګل مینه

د ګل مینه مې خوښه او له ګل سره خندل خوښووم
که وس مې وشي هر ساعت کې يې ليدل خوښووم
زما يې خوښيږي نازکانه او سنګينې نظر يې
یو ځلې نه دغه خصلت يې په څو ځل خوښووم
ماته يې وکړلي د حال په ژبه څو خبرې
ځکه له ده سره هميش خبرې کړل خوښووم
چې د سهار نسيم چليږي دی خوشحاله وي ډېر
زه يې ښايست او خوشحالي او خنديدل خوښووم
ستايل يې کيږي هميشه د شاعرانو په خوله
همدغه وجه شوه چې زه هم اوس غزل خوښووم
ما اکرمي له شاعرانو بل ښه ګل ونه ليد
د خيال دنيا کې يې هميش زه ګرځيدل خوښووم

د درې کالو راهيسې شعر ليکم د شعر ډېره برخه مې غزل او ملي ترانو ته ځانګړې کړې ده، لنډ نثرونه او مقالې مې هم ليکلي دي. تر اوسه پورې د ۲۰ يا ۷۰ په شاوخوا کې مې شعرونه ليکلي خو دا چې همدا اوس زموږ په سيمه کې کوم ادبي بهير وجود نه لري نو ځکه زما شعرونه کم دي او هغه د شعر او شاعرۍ ملګري چې يو بل سره به د شعر خواله کول اوس په نژدې کې له موږ سره نه شته او تر اوسه پورې کومه شعري ټولګه نه لرم.

# عبدالرحمان

زه عبدالرحمان د نادرخان زوی د وردګو ولایت اوسیدونکی یم. عمر مې شل کالو ته رسیږي او فعلاً په یوولسم ټولګي کې په زده کړه بوخت یم، له شعر، داستان او ناولونو سره مې مینه ده، او شاعري مې له خپل ورور څخه چې د شمشاد تلویزون عمومي ډایرکټر دی زده کړې او په ځو مشاعرو کې مې ګډون هم کړی دی. اوس مهال شعر او داستان لیکم او ځینې ډرامې مې هم تمثیل کړیدي. د یادونې وړ ده چې یو فلم مې هم جوړ کړی چې په دې کې دوه نورو ورونو هم راسره کار کړی دی، خو تراوسه لا پوره بشپړ شوی نه دی د ۳۰ دقیقو په اندازه تکمیل دی.

د کلام بېلګه

## یو سحر یوې صحرا ته

یو سحر یوې صحرا ته په ښکار وتی وم روان
یو د ښتي ته رسیدلم چې مې ولیده جانان
حیران شوم چې دا څه کړې دلته ناست څېرې ګرېوان
ور روان شومه طرفته چې ترې وکړمه پرسان
ده ویل مه راځه نږدې زه یم وتلی له جهانه
رنګ یې ژېړ په دوړو پټ لکه څوک پاتې له کاروانه
ده ویل زه یم راغلی دغه غر ته ناګهان
نور به څه وکړم دلته یادومه خپل سبحان
د هاروت په شان عذاب زه قبلوم په دې مکان
دا وینا د بل چا نه ده دغه لیکي همت جان

زما شعرونه زیات دي خو د امکاناتو نه شتون له کبله چاپ شوي نه دي چې تقریباً زما د اشعارو شمېره (۱۰۰) ته رسیږي. لکه څنګه چې مې مخکې یادونه وکړه داستانونه لیکم او د ډرامو له تمثیل سره هم بلدتیا لرم چې په سیمیزو جرګو او ځېنو دولتي جلسو کې مې د ډرامو ښه تمثیل کړی او جایزې مې هم ترلاسه کړیدي. او یو ۳۰ دقیقه یې فلم مې د افغان فلم په شرکت کې چاپ ته رسیدلی دی.

# عبدالرحمان «مسترشد»

زه استاد عبدالرحمان «مسترشد» د وردګو ولایت د شیخ آباد د نوریو په لوړ کلي کې په ۱۳۴۸ هـ ل کال زېږېدلی یم. د پلار نوم مې امیرمحمد دی، خصوصي تعلیمات مې له جیدو استادانو څخه لاسته راوړي وروسته له هغې د دعوت الجهاد د پوهنتون له شرعیاتو پوهنځی څخه د «جیدجداً» په درجه کې فارغ شوی یم. اته کاله مې په دیني علوموکې استادي کړې، دوه کاله له جید قاري برکت الله سلیم سره شاګرد پاتې شوی یم. له شعر، مضمون او ادب سره ښېڅې زیاته مینه لرم، یو څه اندازه مضامین او شعرونه د الله جل جلاله په فضل او مرحمت سره لرم

د کلام بېلګه:

قرآن وايي

| | |
|---|---|
| زه یم د مولا کتاب | ښکلی مصطفی کتاب |
| متعال لوستلی یم | جبرئیل راوړی یم |
| لس چنده نیکي لرم | لوستو کې آساني لرم |
| رحمت مې په تنزیل کې | ښایست مې په ترتیل کې |
| رانه کېږي آغازونه | راته کېږي طوافونه |
| قوي معجزه یم زه | غوره معشوقه یم زه |
| مضمون مې ډېر پوخ دی | حیران راته هر سوچ دی |
| لار رانیسه د تعلیم | لاس پرانېزه د تسلیم |
| جنت کې دې عزت کړم | رحمان ته دې وصلت کړم |
| بندې ژاړم ټوټو کې | ښه ښکارم په لوستو کې |
| پټ ما کې ښه شیان دي | هم ښه دارو درمان دي |
| زه هیڅ زړښت نه لرم | ژوند ته کمښت نه لرم |
| نصیحت یم انسان ته | الوزم رحمان ته |
| شکایت کړم آسمان کې | نورانیت کړم جهان کې |
| ویرولي مې دې غرونه | اوبه دي که سیندونه |
| مه شه له منکره مې | تبنته له قسمه مې |
| همیش تلاوت کوه ته | علمي وراثت کوه ته |
| حروف مې ډېر آسانه | (مسترشد) ته ښه روښانه |

د ليکوال آثار:

د عاجز بنده هغه تصنيفات چې تراوسه پورې د کاغذ پر مخ بې چاپه بندي پاتې دي:

١- عقيدوي لاربنوونې.

٢- د اختلاف له هلاک کوونکي کندې څخه نجات.

٣- غسل الميت و ما يتعلق به.

۴- شرح شمعه.

۵- د تجويد قواعد ((شرح ابيات جزري)).

٦- عملي تجويد.

# عبدالجبار ( ناصري )

نوم مې عبدالجبار «ناصري» د پلار نوم مې مستوخان د وردگو ولایت د سیدآباد ولسوالۍ د کړوخیلو د کلي اوسیدونکی یم او په ۱۳۲۷ هـ ل کال کې په یوه متوسطه کورنۍ کې زېږېدلی یم. پلار مې د انګلیسي ژبې ژباړونکی ؤ، خو زه له پلار څخه په دوه کلنۍ کې پاتې شوی یم. تر یوولسم ټولګي پورې مې زده کړې کړیدي چې له نهم کلنۍ څخه مې په شعر ویلو پیل کړی او تر اوسه هم شعرونه لیکم.

د کلام بېلګې:

غزل

لکه سپوږمۍ ښکلا دې بیا د لمر له نوره راځي
هفت رنګه اور دې بیاد سترګو له منشوره راځي
نغمې د حسن دې په بم د رباب ولګېدې
نغمې د ترنګ دې د تنکي رباب له سوره راځي
د تورو شپو د سپینو نور دې له سترګو پریوت
لکه موسی چې لوی فرعون ته له طوره راځي
چې مې آه خوب د سراب اوبه ستا ونه څښلې
خوب بې تعبیره لکه زما له دې کوسوره راځي
بیا د پردۍ شپېلۍ نغمه زما تر غوږه شوله
د حسن خوږ ته دې پردی ساز له تربوره راځي
چې ستا د حسن په تنور کې زه نینه نینه شم
د حسن اور دې بیا له هغه شان تنوره راځي
اشنا زما له د تصور په آینه خپه ؤ
خفګان له ما یې له هغه کاریکاتوره راځي
«ناصري» څو به د اشنا له سترګو اور وانه خلې
دغه خفګان بهٔ ستا له هر یوه سروره راځي

غزل

کړم انتظار لیل النهار د انتظار ګذار ته
نشته طاقت د نه وصلت نور سهار ګذار ته
دلته دې اور په هر یو کور په هر یو سر بلېږي
دلته هر سر شولو سنګر د هر ګذار ګذار ته
هر مازدیګر لکه سقر شو سور له اوره څخه
هر یو ماښام شو لکه جام د هر میخوار ګذار ته

لکه پتنگ شومه پتنګ له دې ژوندونه څخه
سوی پرهر، زخمي ټټر شوم د انګار ګذار ته
شو لکه سکور سوی په اور هر ښایسته ځوانکوټی
تل به وي سر وي په خنجر د هر ناتار ګذار ته
دي میړني ای ناصري دا افغاني میړونه
لرې الفت آن تر قیامته د هر ښامار ګذارته

د شعرونو شمېر مې د سلو په شاوخوا کې دي چې زیاته برخه یې غزل جوړوي، همدا راز ځینې لنډې کیسې مې له ګوتو تیرې کړي چې په راتلونکي کې د چاپ زمینه برابره شوه نو له چاپه یې هم راوباسم

# عمادالدین (پژمان)

عمادالدین پژمان د قاضي شاه حسین «رحیمي» زوی چې په ۱۳۵۹ هـ ل کال کې د وردګو ولایت د سیدآباد ولسوالۍ د سالارو په کلي کې مې زوکړه شویده. تر شپږم ټولګي پورې مې د قیس ابن سعد لیسه په پښنور کې لوستې، وروسته د کویت الخیر د لیسې څخه فارغ شوی یم او د کانکور د آزموینې څخه وروسته د کابل پوهنتون د فارمسۍ پوهنځۍ ته بریالی شوم، چې په ۱۳۸۱ هـ ل کال کې له همدې پوهنځۍ څخه فارغ شوم.

د لیسې له وخت راهیسې مې د شعر سره مینه لرله او یو نیم مې هم لیکل، خو بیا وروسته د پوهنتون په لړ کې مې په مشاعرو کې هم ګډون کاوه او د هر شعرونه مې لیکل، چې څه نا څه ورک هم شول. د ټولو پښتو شعرونو سره مینه لرم خو د پسرلي صیب، کاروان صیب، درویش دراني او داسې نورو شعرونه مې ډېر خوښېږي. زما ځینې شعرونه په مجلو او اخبارونو کې چاپ شوي دي.

شعرونو بېلګې:

پاس د امید په اوږو پورته کړه رښتیا جنازه
د مینې غولې نه شوه جګه د وفا جنازه
عشقه! درندې ځوانۍ هیلې مې د خاورې کړلې
ژونده! لحد ته لېږدولې زما او تا جنازه
ورور ته د تورې پړکولو نتیجه مې ګڼم
تور ماښامونه چې نن اخلې د سبا جنازه
زړګیه دا به د نصیب وُ چې غمونه به وي
عشق د هوس له ښاره واخسته زما جنازه

عذر به دې وړېر کړم

عذر به دې وړېر کړم چې داغ په زړونو مه اېږده
لږ ماته هم وګوره قدم په غرونو مه اېږده
زړه مې ستا په مینه کې د ګل غوندې زرغون شولو
زر به درته مړ شي ته یې د سر په لومو مه اېږده
چاک سینه مې ښه ویني د خدای لحاظ ته وګوره
پل مې په زخمي زړګي د سپینو اوښکو مه اېږده
هیلې مې کوترې شوې دې تاخواته درالوزي
ته ورته دانې په زړه نا زړه لاسونو مه اېږده
مینې ته مې روح یې زه ژوندی ګرځم په تا باندې
مړاوې «پژمان» مه وژنه ، جنډې په زړونو مه اېږده

## غزل

تا چې له سرو شونډو د میو میخانه جوړه کړه
ما مې له زړه د امیدونو خزانه جوړه کړه
زه دې د هجر لمر سېځلی وم ستومانه ومه
تا رانه بره په آسمان کې آشیانه جوړه کړه
زه د در ملنګ ولاړ وم د دیدن لپاره
تا دې د حسن صدقه ته بهانه جوړه کړه
ما وې «پژمان» به د ګلونو منځ کې شپې تیروي
تا مې له سترګو نه جونګړه کرانه جوړه کړه

## غزل

یاره مجبور یم کاته زما په واک کې نه دي
لیده ګناه نه ده، لیده زما په واک کې نه دي
نه غواړم زه چې مې په خپله سینه اور پورې کړم
دا ستا له مینې خلاصېده زما په واک کې نه دي
لیونی مینې راته پرېښوه د سلګیو لړۍ
چینې د اوښکو وچېده زما په واک کې نه دي
زه لیونی یم، نه پوهېږم چا نه څه وغواړم
د حسن خوا ته نه ورتله زما په واک کې نه دي

دوې شعري ټولګې لرم چې لاتراوسه نه دي چاپ شوي، خو که دچاپ زمینه برابره شي چاپ کولو ته یې چمتو یم.

# علم جان (پتمل)

زما نوم علم جان «پتمل» د خلیل الرحمان زوی، د وردګو ولایت د سیدآباد ولسوالۍ دتنګي د درې اوسیدونکی یم. (۲۲) کاله مخکې د لومړي ځل لپاره په دنیا کې وزېږېدم.

لومړنۍ زده کړې مې د تنګي درې په یوه محلي ښوونځي کې او وروسته ثانوي زده کړې مې د امام ابوحنیفه رح په عالي لیسه کې سرته رسولي چې په ۱۳۷۹ هـ ل کال د کانکور د آزموینې له ګډون څخه وروسته د کابل پوهنتون، ژورنالیزم پوهنځي ته بریالی شوم، چې دوه کاله تعجیل څخه اوس د پوهنځي په څلورم ټولګي کې یم.

له دوو کالو راهیسې مې د شعر او لنډو کیسو لیکلو ته مخه کړې چې تر اوسه مې کوم آثار نه دي چاپ شوي چې یوه بېلګه یې دادي:

د شعرونه بېلګې:

## قطعه

زما له سوي زړه تاوونه ګرم ګرم خيژي
او هم له خولې مې حوصلې ډېر نرم نرم خېژي
پټ په سينه کې مې زړګی کباب کباب شولو
نفس مې ګوره چې هرځای کې زه و درم خيژي
ستا د وصال چېغې وهي ورو ورو تړپونه وهي
خالي جسد زما جانانه لوړ له شرم خيژي

## ځلوريځې

د يار د غنم رنګه مخ له لاسه زه بيماريم
په زړه يې يم ويشتلی زخمي پروت يمه افګاريم
جوړښت مې په ديدن نه په ملا نه په درمل شته
د حسن د جانان مې په هروخت کې تابعدار يم

*************

دې غنم رنګه اننګو خو دې جهان تباه کړ
زما د زړګي ټول ارمانونه دې پناه پناه کړل
دا د «پتمل» د زړه ازار دې ګوره واخيستلو
چې د نيمګړي آرمانونه د عاشق بېګاه کړ

## د اوښکو سېلاب (لنډه کېسه)

د ماښام شېبې وې د واورې سپين بخرکي کرار کرار راتويېدل او کله به چې د کوم بخرکي يو مخ د ګروپ رڼا ته ښکاره شو نو يو ډول زړه وړونکې ښکلا به يې کوله او ما ددغې ښکلا سيل کولو چې يو ناڅاپه مې د رنګ دېوال چې يوه وړه څپرګی يې د څنګ سره جوړه

شوې وه پام شو، او يوه توره څېره مې تر سترګو شوه او په بدن مې يو څه وېره راخوره شوه خو بيا هم د وېرې سره سره د دېوال ځنګ ته ور روان شوم. کله چې د دېوال خوا ته لږ ور نژدې شوم نو يو ډول اوښ، اوښ اواز مې تر غوږو شو ، په دې وخت کې چې څومره د دېوال خوا ته نژدې کېدم اواز هم په زوره کېدو کله چې د دېوال ځنګ ته ورسيدم، ګورم چې يو ښکلی هلک د دېوال ځنګ ته تر ورې ځېرې لاندې ناست دی او خپلې د لاسو ګوتې يې په خوله اوښ، اوښ کولې او د يخنۍ له لاسه يې بدن په لړزه وه. ما خپل ځان د هلک ځنګ ته وررسو له لږ ځنډ درېدو څخه وروسته مې د هلک په اوږه لاس کېښود او هغه خپلې مړاوې سترګې زما خواته را واړولې حيران، حيران يې راته کتل ، له لږ وخت چوپتيا څخه وروسته مې ورڅخه وپوښتل: هلکه ته دکوم ځای څخه راغلی يې ؟ او ځنګه په دې يخنۍ کې ناست يې ؟

ايا ته نه وېرېږې ؟ چې دلته به د يخنۍ له لاسه مريض شي او يا به خپل ژوند له لاسه ورکړې، هلک په ژړغوني او کرار اواز راته وويل: کاکا! ما څه کوي همدلته مې پرېږده تر دې څخه خو مې مرګ ښه دی، چې همدلته د يخنۍ له لاسه مړ شم ، او بيا يې خپل سر په زنګنو کېښود.

نو ما بيا غږ پرې وکړ هلکه! پاڅه چې دواړه کور ته ځو ته ځنګه دا توره شپه په دې يخنۍ کې سبا کوې؟

ددې خبرې په اورېدو سره هلک خپلې د اوښکو ډکې سترګې زما طرف ته راواړولې او په لړزېدلي اواز يې راته وويل : کاکا!

زه ته لاړ شه او زه نه شم کولی چې ستا سره کور ته لاړ شم.

نو په دې وخت کې مې چې لږ د هلک پښو ته په ځير وکتل نو ګورم چې د هلک پښې هم نشته او لوڅې پښې ناست دی، بيا مې په لږ تونده لهجه ورته وويل : پاڅه په دې توره شپه او يخه واوره کې لوڅې پښې او لغړ بدن ناست يې اخر خو به ليونی نه وې!!؟

هلک زما ددې خبرې په اورېدو له ځايه پاڅېد او په پټه خوله دواړه د کور خوا ته روان شو، په دې وخت کې زموږ تر کوره پورې يو څه واټن موجود ؤ خو هلک مې په چټک ټګ سره تر خپل کور پورې ورساوه، کله چې کوټې ته ننونو نو کوټه ډېره توده وه د يو څه وخت په تېرېدو سره دهلک د پښو ګوتو درد پيل کړ. نو بيا زه پاڅېدم په يوه لوښي کې مې يخې اوبه راوړلې او

هلک ته مې وویل : چې خپلې ګوتې په اوبو کې کېږده ځکه ما دا خبره له خپل بابا څخه اورېدلې وه چې کله ګوتې ډېرې یخې شي نو د ګرمېدو سره په درد راځي، نو ددې لپاره چې درد په ارام شي باید د یو څه وخت لپاره په یخو اوبو کې کېښودل شي.

په دې وخت کې د هلک د ګوتو درد یو څه په ارام شو. او بیا ما له هلک څخه وپوښتل: ته څوک یې ؟ او څنګه په دې یخه او توره شپه کې د باندې ناست وې؟

هلک راته په ژړغوني اواز او ډکو سترګو وویل : کاکاجانه! زه دهغې بر کلي د منګل زوی بشیر یم، څلور میاشې کېږي چې زموږ په کور باندې داد بشرد حقوقو ټیکه دارانو بمبار وکړ او په هغې کې زما مور، پلار، دوه وروڼه او یوه خور ووژل شول او زه په هغه شپه د ترور کره مې تللی وم او ژوندی پاتې شوم.

او بیا هلک په زوره ، زوره وژړل او په ژړا کې یې وویل :

کاشکې زه هم په دغه شپه د ترور کره نه وای تللی او زه هم مړ شوی وای، خو خدای زه د همدې غمو لپاره ژوندی پرېښی یم.

بیا یې ژړا یو څه ارامه شوه او د (آه) له اواز څخه وروسته یې خپلو خبرو ته دوام ورکړ او وې ویل : پس د خپل پلار او مور له مرګه مې زه د یو تره سره اوسېدم خو دوخت په تېرېدو سره د تره او دهغې د کورنۍ چلند زما سره مخ په خرابېدو وو چې بلاخره مې د تره ښځې یوه ورځ راته وویل : چې ځه تر کومه وخته به زما په کور کې په ټیټو سترګو ژوند کوې د ځان لپاره دې ځای پیدا کړه او په دې کور کې نور دستا د اوسېدو لپاره ځای نشته. نو ما مې بیا دا خبره کاکا ته وکړه او هغه هم د خپلې ښځې خبره راته وکړه.

نو زه په همغه سهار د تره له کوره راووتلم او روان یم چې ځان لپاره داسې یو ځای پیدا کړم تر څو دا د ژمي سړې شپې په کې تېرې کړم او بیا ددې خبرې سره د هلک د سترګو څخه سیلاب را روان شو او خپل سر یې په زنګنو کېښود او د یو څه وخت د تېرېدو سره همداسې سر په زنګنو اېښی ویده شوی وو.

# عبدالله (شیرزی)

نوم مې عبدالله تخلص مې شيرزی د خدای نور شيرزي زوی په ۱۳۵۸ هجري لمريز کال کې د ميدان وردگو ولايت د نرخ ولسوالۍ په ده حيات کلي کې زېږېدلی يم.

په ۱۳۷۸ هجري لمريز کال په پېښور کې د ميوند له عالي ليسې څخه فارغ شوم چې وروسته مې په اداره او منجمينټ کې هم زده کړې وکړې. درې کاله کېږي چې په ليکنو مې پيل کړی چې يو شمېر ليکنې مې په هېواد او اراده ورځپاڼې، افغان ملت جريده، غوښتنه او ډيوه مجلې، وحدت اونيزه، تول افغان ويېپاڼه او دريځ مياشتنۍ مجله کې خپاره شوي دي. چاپ شوي مجلدآثار نه لرم خو ګڼې ليکنې لرم چې د موضوع د ورته والي له مخې د کتاب ګوتې ښه خپلولی شي.

د لیکنې بېلګه:

د خپلواکۍ د ورځې په یاد!
د افغان د ګلو بڼه خوشبويي دې مبارک شه
له انګریز نه دې ګټلې خپلواکي دې مبارک شه
ستا منزل وو په تیارو کې د تیارو لارې وې ګرانې
چې یې لمر ته راووتلې رڼایي دې مبارک شه

دا یو څرګند حقیقت دی چې انسان فطرتاً خپلواک او آزاد پیدا شوی تر څو خپل ژوند ، عبادت او د ژوند په چاپیریال کې ستونزې په خلاص مټ او خپلواک ذهن سره حل او د لابڼه توب لپاره یې ښې لارې چارې وسنجوي. افغانان هم چې د انساني کورنۍ غړي بلل کېږي کېدای شي چې د هغو ملتونو په ډله کې یې حساب کړو چې خپلواکي یې له خپلو وینو څخه ګرانه بللې ځکه چې په استعمار او غلامۍ یې مرګ غوره ګڼلی او تل یې د خپلو وینو په تویولو سره خپله خپلواکي ساتلې او دا یې د ځان لپاره ویاړ بللی.
آزادي تر پاچاهیه لاتېری کا
چې د بل د حکم لاندې شي زندان شي
له نن څخه پوره اووه اتیا ( ۸۷ ) کاله وړاندې کله چې اعلیحضرت غازي امان الله خان خپله د خپلواکۍ اعلامیه خبره کړه او داسې یې وویل : « زه ځان او خپل هېواد له کورنۍ او بهرنې نظره په تمامه معنی خپلواک، مستقل او خودمختاره اعلانوم زما هېواد به وروسته له دې د نړۍ د نورو قدرتونو او هېوادونو په څېر خپلواک وي. هېڅ بهرني قوت ته به دیو ویښته په اندازه هم اجازه ورنکړل شي چې زموږ د هېواد په کورنیو او بهرنیو مسایلو کې لاسوهنه وکړي او که څوک غواړي په دې کار لاس پورې کړي توره یې پورته او په همدې توره به یې سر ور پرې کړو. » د غازي امان الله خان دا اعلامیه حاضرینو د الله اکبر او نصر من الله والفتح قریب سره بدرګه کړه او ویې ویل تل دې وي افغانستان ، ژوندی دې وي امان الله خان غازي.

د افغانستان د خپلواکۍ اعلان په هېواد او بهر کې زلزله پيدا کړه ، په ټول هندوستان او د عربو په هېوادونو کې خلک د افغان ملت دې نوي ګام ته حيران پاتې شول. سره له دې چې افغانان په اقتصادي لحاظ ډېر بې وزله وو او په داسې حال کې چې دوی په لومړنيو وسلو ( تورو او ټوپکو ) باندې ميدان ته دانګلي وه چې د انګريزانو د داسې پوځ مقابله يې کوله چې په مډرنو ټانګونو او الوتکو سمبال وو، دوی په دې پوهېدل چې وبه وژل شي کورونه به يې وران شي، خو خپله خپلواکي ورته تر ډېرو شيانو غوره ښکارېده، هماغه وو د پښتنو په شرقي او جنوبي برخو کې پاڅونونه وشول ټولو نارينه ؤ او ښځو د تکبير په غږ سره راپورته شوي او د ښکيلاک په وړاندې ودرېدل د دوی رهبري او مشرتابه لپاره په جلال آباد کې سپه سالار صالح محمد خان، په پکتيا کې سپه سالار نادرخان او په کندهار کې سردار عبدالقدوس خان وټاکل شول. سره لدې چې انګريزانو په خپل ټول توان مقاومت کاوه. خو ملت ارده کړې وه او نه يې غوښتل چې د ښکيلاک کړۍ يې غاړې ته واچول شي ځکه دوی خپلواکه هېواد غوښته!

آزاد يم زېږېدلی بنده ګي کولای نه شم

بنده د پاک مولا يم که وم وم که نه وم نه وم

وروسته له ډېرو سربښندنو څخه چې دې ملت وکړه، افغانان د ۱۲۹۸ ليږديز لمريز کال د زمري په ۲۸ نېټه په دې وتوانېدل چې خپله خپلواکي ترلاسه کړي او د افغانانو دا خپلواکي په رسميت وپېژندل شوه. دا ورځ دې ټولو په دين او وطن مينو خلکو ته مبارک وي.

سرلوړی دې وي خپلواک افغانستان.

# غلام فاروق

زه غلام فاروق د اروابناد عبدالروف زوی د وردګو ولایت د شیخ آباد په زین خان خېلو کلي کې په ۱۳۳۷ هـ ل کال د دلوې په میاشت کې زېږېدلی یم، لومړنی او منځنی زده کړې مې د سیدآباد په عالي لیسه کې ترسره کړې، او د کانکور تر آزموینې وروسته د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځی پښتو څانګې ته بریالی شوم. د پوهنتون له فراغت وروسته سمدلاسه په ۱۳۶۱ هـ ل کال کې د جهاد په صف کې د مجاهدینو ورونو سره یو ځای د روسانو په مقابل کې په عملي جهاد لاس پورې کړ، تر دوه کاله عملي جهاد وروسته پاکستان ته مهاجر شوم او هلته مې د مجاهدینو په فرهنګي کمیټه کې دوه کاله او څو میاشتې دنده ترسره کړه، ورپسې بېرته خپلې سیمې او منطقې ته راغلم او د روسانو د وحشي او یرغلګر پوځ تر ماتې خوړلو او وتلو پورې په عملي جهاد بوخت وم. کله چې سرې یرغلګرې روسي لښکرې زموږ له ګران

هېواد ځخه د مجاهدینو د توانمنو متو په زور او د الله جل جلاله په غیبي مرسته ووتلې نومې خپل هغه پخوانی انتخاب شوی مسلک چې معلمي ده په خپله سیمه او ولس کې شروع کړه او په ډېر سختو شرایطو کې مو ورته دوام ورکړ چې دادی تراوسه پورې کله معلم او کله د لېسې مسؤل او کله استادانو ته په میتودي او پیداګوژیکي سیمینارونو او ورکشاپونو په ټرینینګونو کې بوخت یم.

غلام فاروق ۱۳۸۵\۷\۲۴

# فریدالله «ساحل»

زه فریدالله «ساحل» د نصرالله زوی د میدان وردګو ولایت د نرخ ولسوالۍ د شهاب الدین په کلي کې مې په کال ۱۳۲۳ هـ ل کې دې فاني دنیا ته سترګې پرانیستې.

لومړنۍ زده کړې مې د میدان وردګو ولایت د شهاب الدین او خالد بن ولید په لیسو کې سرته رسولي دي او له ۱۳۸۳ هـ ل نه راپه دېخوا د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو په پوهنځۍ کې په زده کړه بوخت یم، له دوو کلونو راهیسې مې ځینې لیکنې د لنډې کیسې، طنزاو ادبي ټوټې تر عنوانونو لاندې لیکم، خو زما د خوښې وړ فورم طنز دی. تر ننه مې تقریباً تر دېرشو عنوانو لاندې نثرونه لیکلي چې ځینې یې په مجلو او اخبارو کې خپاره شوي دي، او کله کله مې په ادبي غونډو کې کره کتنې ته هم وړاندې کړي چې د خلکو لخوا ستایل شوي

دي. خو د اقتصادي او څنې نورو ستونزو له امله په کتابي بڼه نه دي چاپ شوي او هيله کوم چې په راتلونکي کې د لوستونکو لپاره په کتابي بڼه چاپ کړم.
د کلام بېلګه:

زه او د کابل ښار

لومړی ځل مې ؤ چې کابل ښار ته راغلم، په کوټۀ سنګي کې د موټر په انتظار ولاړ وم، يو خوا او بله خوا مې نظر اچوه ورانې کنډوالې، سپېرې څپرې او جمپ داره سرک تر سترګو کېده، موټر ډېر کم راتلل او خلک ډېر پرېمانه ؤ، په يوه کې هم د سپرېدو ځای نه وو، د انتظار شېبې وې تېرېدلې ناګهانه يو راف موټر راغی او کلينر يې نارې وهلې شاراو، شاراو، ټولو خلکو يې تود هرکلی وکړ او په لوري يې ورترپلل په دې ګڼه ګوڼه کې هر چا خپل کار کاوه کيسه برانو څو جيبونه په استر کړل او د جيبونو خولې يې له خندا شنې کړې، په دې ګڼۀ ګوڼه کې ما هم ځان دَ موټر دروازې ته ور نژدې کړ او لومړی پښه مې ورجګه کړه په دې حالت کې د موټر سرعت زيات شو او زما دوېمه پښه په دروازه ډولې ځای ولړېده او لړ ګوډ غوندې شوم په دې حالت کې د پوهنتون يو محصل چې د موټر په دروازه کې ناست وو ماته يې لاس راکړ، ما چې سم له لستوڼي ونيوه او زور مې کړ د محصل لستوڼی له يخن قاق څخه بېل شو او دمحصل بې چاره د پنځو روپيو يخن قاق مې ورته وشکاوه او په دې حالت کې کيلينر په ټيله ټيله موټر ته ورپورته کړم او محصل د خپل يخق قاق تاوان راڅخه واخيست، خو کيسه برانو بې چاره ګانو چيرته زما جيب وهلی شوی، داسې کلک مې لاس نه ؤ پرې ايښی.
د موټر حالت په دې ډول وو بريک خو لاپرېږده چې اشترينګ هم سم کار نه کاوه، د اوسپنې زنګونو خاص رنګ او خوند د موټر چوکيو او سيټ ته وربښلی ؤ او څوکۍ يې يو بل ته مخامخ وې او دهلېز يې د ولاړو لپاره ؤ او موټروان خپله کيسټه په لوړ آواز اورېدله نابېره دې موټر زغلولو د لوبې لوبغاړی شو يو وار موټر په جمپ کې ولګېده ما دځان تکيه کولو لپاره د يوه ځيرۀ پښتانه پر سر لاس کېښود او له جمپ سره مې د پښتانه ماما لونګۍ ول ول په غاړه کې راخطا کړه، نژدې ؤ چې ښه کلک مې ووهي خو خلکو څنې خلاص کړم، بيا موټر په جمپ کې ولګېد او ما د يو لرغوني مامور په پر سر لاس کېښود چې په ذربين به دې هم له شپږ

تاره وېښتانو زيات نه ؤ پيدا کړي او گرمي هم په آخره درجه خولې کړې وې او چې سم مې لاس پرې کېښود نو لاس مې وښوېده او د قوال هگيو په ټوکرۍ کې ورولويدم، اوس نو مجبوره يم چې دا تاوان په غاړه واخلم او تاوان ورکړم کله مې چې له دې جنجال نه ځان خلاص کړ نو يو مهربانه سړی چې په موټر کې ناست وو ډېر يې زړه راباندې وخوږېده کله يې چې زما په مخ د هگيو پوستکي سريښ وليدل او کالي مې په موټر کې تک تور شوي ؤ او پښه مې هم گوډه او خلک له خندا راته شنه وو او ځوانانو رشخند راباندې واهه يو خوا او بله خوا يې په موټر کې ټېل وهلم مخامخ سړي ته يې وويل وروره مسلمان خو يې ځای ورکړه له دې سره هغه هم لږ ځای راته خوشې کړ او راته يې وويل : راځه وروره دلته مخامخ راته کېنه کله چې زه لږ کوپ شوم او په ځای کې کېښناستم د کوپ والي په حالت مې سرد مهربانه ماماجان پوزې ته ښه برابر وو په دې وخت کې بيا موټر په جمپ کې ولويد او زما سر د مهربانه ماما له پوزې سره وجنگېده او پوزه يې ويني شوه، خو طالع مې وې چې سړی له جنگه غورځېدلی و او ما له ډېره ډاره يو غټ ټوپ وواهه او پښه مې د يوې ترور په چادري کې ونښتله او په بله ترور ور ولويدم او لاندې مې کړه او له شانه مې د ترور د سړي يو سوک په سر وخوړ خو طالع مې وې چې کلينر د کرايې د ټولولو لپاره راورسيد او ورځخه خلاص يې کړم او هغه سړي له ډېره قهره غاښونه راته چيچل اخري سلگون ؤ چې په جيب کې راسره پاتي و دا مې چې ورکړ او ځان مې دروازې ته رسولی ؤ او زما د ښکته کېدو ځای رارسيدلی وه. د دروازې دستگير مې ټينگ نيولی وه او په انتظار وم چې نورې پيسې مې راکړې او په دې هم پوه وم چې د موټر بريک خو نشته او مجبور يم چې ځان په رفتار کې وغورځوم په دې وخت کې بيا موټر يو جمپ وخوړ او دست گير زما او سلگون د کلينر په لاس کې پاتې شو، اوس له ما سره يو اتاني هم نه وه پاتې او په سلگونو آرمانونه مې په زړه کې پاتي شول لکه د سينما د تللو، ايسکريم خوړلو، ژوبڼ ته د تللو، او د مردکيو داخيستلو حتی د لارې کرايه مې هم نه د رلوده چې بېرته ځان کورته پرې ورسوم.

# فضل الرحمان «عمرخیل»

فضل الرحمان «عمرخیل» د گل الرحمان زوی په ۱۳۵۴ هجري لمریز کال کې د میدان وردگو ولایت د نرخ ولسوالۍ د عمرخیلو د تاوې په کلي کې زېږېدلی یم. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې مې د نرخ ولسوالۍ د سراج المدارس په لومړني ښوونځي او د حضرت خالد بن ولید رض په عالي لیسه کې سرته رسولي دي او په کال ۱۳۷۸ هـ ل کې د نوموړې لیسې له دولسم ټولګي څخه فارغ شوی یم. لوړې زده کړې مې د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځۍ د قضایي او څارنوالۍ په څانګه کې پای ته رسولي او په ۱۳۸۳ هـ ل کال کې له نوموړي پوهنځۍ څخه فارغ شوی یم او اوس د افغانستان د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د کمیسون د تعیناتو په بورد کې تحقیق او تحصیلي اسنادو د څېړنې مسؤل یم. زه لا

د ښوونځي د نهم ټولګي زده کوونکی وم چې په ډارمو لیکلو مې پیل وکړ چې وروسته مې د حضرت خالد بن ولید رض د عالي لیسې د فرهنګي جرګې غړیتوب تر لاسه کړ.

باید وویل شي چې نوموړې جرګې د هغه وخت د سیاسي او فرهنګي محدویتونو سره سره د هغې سیمې د لیکوالانو او شاعرانو په راغونډولو کې مې د پام وړ هڅې کړیدي. کله چې په هېواد کې نوی سیاسي بدلون رامنځته شو او لیکوالانو وکولی شول خپل قلمونه وخوځوي نو مې خپل قلم راپورته او په هېواد دننه مې په یو شمېر چاپي خپرونو کې خپلو لیکنو ته دوام ورکړ. چې ځینې لیکنې مې د کابل ښار د ژغورنې، افغان غږ، دریځ او افغان ځوانانو په خپرونو کې چاپ شوي او اوس په میدان وردګو ولایت کې د دریځ د علمي او کلتوري ټولنې د مشرتابه د ډلې غړی او د نوموړې ټولنې د خپرونکي ارګان (دریځ) مرستیال مدیر یم.

چاپ شوي مجلد آثار نه لرم خو په چاپي او انټرنیټي خپرونو کې مې ګڼ شمېر لیکنې چاپ شوي دي.

بېلګه:

## ملي کلتور او ملي ستراتیژي

که چېرې سړی د نړۍ د ګڼ شمېر هېوادونو ته ځیر شي نو دا به په ډاګه شي چې د ځمکې د دغې خاورېنې کرې پرمخ ډېری هېوادونه د خپل ملي کلتور او ملي ستراتیژۍ پر بنسټ جوړ شوي دي، کلتوري ستراتیژي او هڅې ملي ستراتیژي او د ملت مټ غښتلی کوي نو همدا لامل دی چې په نړۍ کې زیات شمېر سیاسي رژیمونه د خپل ملت د پاینښت، پرمخیون او سوکالۍ لپاره د ډېرو نورو دلایلو تر څنګ دا ستر عامل تل په پام کې نیسي او هڅه کوي تر څو داسې چارې ترسره کړي چې له پورته یادو شوو ټکو سره په ټکر کې نه وي، زموږ په هېواد کې هم د افغانستان له جوړېدو راهیسې بیا د غوایي ترکودتا پورې اکثرو حکومتونو خپل سیاسي تګلورۍ څه ناڅه د ملي ستراتیژۍ پر بنسټ عیار کړې وو. خوله بده مرغه چې د غوایي له کودتا را وروسته پېښو دا وښوده چې زموږ د حکومتونو د کړنلارو ډېره برخه د ملي پر ځای په پردیو اصولو باندې ولاړې وې.

هر هېواد خپل کلتور او تاریخ لري او هغه ملتونه چې په ملي روحیه روزل شوي وي تل خپل کلتور او فرهنګ پالي او د پردیو کلتورنو پالل د ځان لپاره عار ګڼي نو دغه ټکي ته په پام سره باید وویل شي چې افغاني ټولنه یوه اسلامي او دودیزه ټولنه ده چې د اسلامي روایاتو تر څنګ ښکلي، ملي دودونه هم لري چې دغه دودونه د دغې ټولنې د ملي کلتور شمزۍ جوړوي چې د افغانستان هر سیاسي بدلون باید دغه اصل ته پاملرنه وکړي او د دغه کلتور په لابډاینه کې خپلې هڅې ونه سپموي. ډېره به یې نه شاربو او رابه شو د هېواد د دغه حساس پړاو په کلتوري برخه کې د افغان حکومت د کلتوري چارو د سمبالوونکو دندو او مسؤلیتونو ته:

اوسنی افغان حکومت چې د بن د تړون د درې ګوني پړاو ورستۍ برخه ده چې د خلکو د آزادو او مستقیمو رایو په پایله کې رامنځته شوې چې دنده یې د خلکو او ولس چوپړ ده او حکومتي چارواکي هم شپه او ورځ دا نغاره ډنګوي چې ګڼې زموږ حکومت د ولس د رایو په پایله کې رامنځته شوی او هڅه کوي هغه څه ترسره کړي چې خلکو او ولس ته دخوښې وړ وي. په رښتیا هر هغه سیاسي نظام ته چې ولس رایه ورکړې وي او د ملت له خوا ټاکل شوی وي نو دغه ډول نظام ته وایي د خلکو حکومت او دغه بهیر ته بیا وایي ولسواکي. ځکه ولسواکي د هغه حکومتي سیستم نوم دی چې موخه یې په یوه ټولنه کې د همغې ټولنې د وګړو دودیزو، مذهبي او اقتصادي ارزښتونو په رڼاکې د ولس د ټولنیزو چارو تنظیمول دي نو کله چې دیوه ولسواک نظام دنده د پورته ارزښتونو په رڼا کې د ولس چوپړ ده پوښتنه راولاړېږي چې آیا زموږ هېواد د کلتوري چارو سمبالوونکو هم د خپل هېواد کلتوري چوپړ ته ملا تړلې او که څرنګه؟

او که یې تړلې وي ایا ریښتینې او بریالۍ ده او که نه ؟ چې زه غواړم د خپلې لیکنې په لړ کې په لنډه توګه ځواب ورکړم او هغه دا چې :

د افغان حکومت د اطلاعاتو او کلتور د څانګې چارواکو سره لدې چې تل افغان کلتور ته د چوپړ نارې وهي خو داسې بریښي چې د دوی دا نارې ریښتینې نه دي ځکه د کابل په ښار کې ورستیو تش په نوم کلتوري هڅو دا په ډاګه کړه چې د افغان حکومت د دغې برخې چارواکي د افغان کلتور پرځای پردي کلتور ته ژمن دي ځکه هغه څه چې دوی ورته افغان کلتور ته چوپړ وایي، له آره چوپړ نه بلکې د دغه لرغوني کلتور سپکاوی دی. افغان کلتور ته به

هغه مهال خدمت ترسره شي او هله به بډای شي چې د یوې ګډې ملي او اسلامي ستراتیژۍ پر بنسټ ولاړ وي له دې پرته به ټولې هڅې تش په نوم شعار وي او بس.

که چېرې موږ دهېواد په لر او بر کې د حکومت کلتوري سیاست ته ځیر شو نو راته جوته به شي چې له بده مرغه په هېواد کې یوه پراخه ملي او کلتوري ستراتیژي له سره شتون نه لري چې دهغې پر مټ د هېواد کلتوري سیاست طرحه شي د بېلګې په توګه که چېرې سرې د هېواد په مطبوعاتي ډګر کې د تلویزون، سینما ، کیبل او .... خپرونو ته پام وکړي نو و به ویني چې لاتراوسه د اطلاعاتو او کلتور وزارت په دې نه ده بریالی شوی چې د یوې واحدې مطبوعاتي او کلتوري ستراتیژۍ په رڼا کې د هغوی د خپرونو لپاره کړنلاره جوړه کړي.

همدا راز د کابل ښار وروستیو کنسرتونو دا وښوده چې له بده مرغه د هېواد ددغې څانګې سمبالوونکو لاتراوسه د خپل هېواد د تاریخ او په ځانګړي توګه د غه اوسنی حساس پړاو نه ده درک کړی زما په اند که چېرې هغوی د خپل هېواد د تاریخ ځینې حساسې شېبې وپېژني هېڅکله به دا ډول کړنو ته اجازه ورنه کړي ځکه دغه کنسرتونه او هغو ته ورته ځینې نورې تلویزوني او سینمایي خپرونې خو آن دکابل د ښار په پنځه کیلومترۍ کې هم ناشوني دي.

همدا راز د چاپي خپرونو څارل او تنظیمول د اطلاعاتو او کلتور وزارت بله هغه ستره دنده ده چې باید ورته پاملرنه وکړي چې له بده مرغه دغه وزارت په دې برخه کې هم پاتې راغلی ځکه یوازې په کابل ښار کې داسې چاپي رسنۍ تر سترګو کېږي چې چلوونکي یې پرته له دې چې په هېواد کې دمطبوعاتو نافذ قانون ته درناوی وکړي هرڅه یې چې خوښه شي هغه لیکي چې د هغوی ګڼ شمیر لیکنې خو آن زموږ ملي او اسلامي ارزښتونو او ملي یوالي ته سپکاوی وي لکه د تیر کال په وروستیو کې د مجله زن په مجله کې د ارتداد په هکله د محقق نسب لیکنه او دځینو تش په نوم سیاسي ډلو ټپلو اړوندې خپرونې چې داسې لیکنې په کې تر سترګو کېږي چې د هېواد اساسي قانون، ملي ترمینولوژۍ او په هېواد کې د میشتو وروڼو قومونو دغوښتنو خلاف وي. دا چې د کابل په ښار کې چې داطلاعاتو او کلتور وزارت تر ستوني لاندې دی، د مطبوعاتو ور کې دا حال دی نو دولایتونو چې ډېر خو یې آن په سلګونو کیلومتره د نوموړي وزارت له ودانۍ څخه واټن لري، څه حال وي نو پورته او ځینو نورو هغو بېلګو ته په پام سره چې یادول یې په دې لیکنه کې اړین نه بولم، باید وویل شي چې زموږ د هېواد د

کلتوري برخې چارواکي باید دا ومني چې یا دوی افغان کلتور ته ژمن نه دي او که ژمن وي نو بیایې په بډاینه کې پاتې راغلي ځکه افغان کلتور په هېواد کې د پلي کلتوري سیاست پر مټ نه بډای کېږي او نه پرمختګ کولی شي ځکه دد غه سیاست په پایله کې دی چې زموږ دهېواد د کلتوري پولو دروازې یې د ګاونډیانو او غیر ګاونډیو هېوادونو د کلتوري لاسوهنو پرمخ پرانیستي چې له مخې یې هره ورځ نوموړي هېوادونه د خپلو تالي څټو مټ په زرګونو مبتذل فلمونه ، کتابونه او ..... هېواد ته رادننه کوي چې له امله یې افغان کلتور ته ستر زیان رسېږي نو که چېرې د هېواد ددغې برخې مسؤل چارواکي دغې کلتوري ستونزې ته د افغانستان د ملي ګټو په رڼا کې جدي پاملرنه ونه کړي نو لرې به نه وي چې هېواد مو د نورو هېوادونو د کلتوري جګړې ډګر شي چې زیان به یې د تېر په څېر یوازې افغان ولس ته وي دا ځکه چې افغانان هر څه مني خو د دوی له ملي او اسلامي ارزښتونو سره جفا په هېڅ توګه نشي منلی نو ددې لپاره چې هم مو لال پلاس راوړی وي او هم مو یار نه وي خفه کړ ی نو حکومتي چارواکي او په ځانګړي توګه د اطلاعاتو او کلتور وزارت چارواکي باید د هېواد دغه نازک حالت ته په پام سره داسې کلتوري سیاست غوره او پلي کړي چې دهغه له مخې زموږ ملي او اسلامي ارزښتونه د پردي ناروا کلتور او دودونو څخه وژغورل شي چې په دې سره به یې هم د لوی خدای (ج) په وړاندې خپل مسؤلیت ادا کړی وی او هم به یې له ملت سره پخپلو کړو ژمنو عمل کړی وي په پای کې زه د یوه مسلمان او افغان په توګه حکومتي چارواکو ته وړاندیز کوم چې راځئ لکه څرنګه چې دعوی کوو په همغه ډول د خپل وران هېواد د هرې برخې ودانولو ته د خپلو ملي او اسلامي ارزښتونو په رڼا کې ملا وتړو او هڅه وکړو تر څو پخپلو کړنو سره لومړی د خپل خدای (ج) رضا او وروسته بیا دخپلې ځورېدلې ټولنې د وګړو رضایت ترلاسه کړو.

# گل دل

زه گل دل د پردل زوی د تاجبکی په کلي کې په ۱۳۲۲ هـ ل کال کې زېږېدلی یم ابتدایي زده کړې مې له اول ټولګي نه تر شپږم ټولګي پورې د سیدآباد په مکتب کې پای ته رسولي او په پای کې دغازي لیسې د دولسم ټولګي نه فارغ شوی یم او وروسته د کانکور له آزموینې څخه د طب پوهنځی ته بریالی ، خو بیا د وخت د صدراعظم ( سردار محمد داود ) لخوا د پوهنې حربي پوهنتون ته او په ۱۳۴۰ هـ ل کال کې له حربي پوهنتون نه د دوهم بریدمن په حیث فارغ او دکندهار قوا کې مقرر شوم. په ۱۳۴۵ هـ ل د کانکور له آزموینې څخه وروسته دوه کاله د زده کړې لپاره شوروي ته ولیږل شوم، او د زده کړې په پای کې بېرته په مهتاب قلعه کې تعین بست شوم، وریسې د ۱۳۵۷ هـ ل کال په لومړۍ شپه د پلچرخي په زندان کې زنداني او د همدې کال په وروستیو شپو کې له زندان نه خلاص او ظلماً په جبري توګه د ۳۲ کالو په عمر

له اردو نه اخراج چې په همدې وخت کې زه پېښور ته ولاړم او هلته په جهادي نظامي پوهنتون کې د توپچي د مضامينو د استاد په حيث مقرر شوم او ورپسې کله چې ګران وطن ته راغلم دلته د تنظيم له خوا د ډګرجنرالۍ رتبه راکړل شوه خو کله چې طالبان راغلل زما دا رتبه ونه منل شوه او زه بې برخليکه پاتې شوم چې په پايله کې د سيدآباد د عالي ليسې د محترمو آمرانو له خوا د سيدآباد په عالي ليسه کې د معلم په حيث مقرر او اوس د برحاله معلم په حيث د معلمي سپيڅلې دنده سرته رسوم او د دولسمو ټولګيو د فزيک او مثلثاتو درس ورکوم او تقريباً زيات وکم سل شعرونه لرم .

د کلام نمونه:

د يوه شهيد په مزار

وخت ماز ديګر ؤ چې ناڅاپه يوه ښکلا راغله
زما د نظر تر سلسلو سپينه رڼا راغله
ورته په ځير شوم ښکته پورته مې نظر وکاوه
د خيال دنيا کې يوه عجبه تماشا راغله
ماو يل ناڅاپه شوه سپوږمۍ د څوارلسمې ښکاره
د قبر خوا ته آهسته مسته ليلا راغله
د پښتو ننګ او غيرت رنګ يې کړې جلوې پر تندې
پاک دامني او صداقت کې يې رښتيا راغله
هک و حيران پاتې شوم پوه نه وم چې حال څه دی
د تصور بحر کې ډوب لويه سودا راغله
ورو ورو قدم سره قريب شوم د نازبينې پخوا
ګيډۍ د ګلو يې په لاس ورته مسکا راغله
ګيډۍ د ګلو يې نيولې وه سينې د پاسه
د احترام خميده ګي يې پاس پر ملا راغله

گيډۍ د گلو يې په ناز کېښوده قبر باندې
زما زړګي ته د پوښتنې تمنا راغله
په احترام مې د پوښتنې اجازت واخيسته
د ځواب د پاره نازنينې ته رضا راغله
ما ويل ننګينې خورې حال د ماجرا غواړم
ځکه هيله د دې خبرې مې له تا راغله
پښتنې پورته لوړې سترګې کړې پخوا زما
د ناز خندا يې په سرو شونډو يو ځل بيا راغله
زه ((رحمت يار)) ځير شوم دا پيغلې نازپرورې ته
چې يې خبرې کړې آغازې حيرانتيا راغله
ويل دا قبر کې چې ګورې زلمی ورور دې زما
د غليم جنګ کې شو شهيد د رب قضا راغله
د احترام لاس په نامه ورته بار بار اېږدم
دا سره ګلونه د شهيد ورور په مزار اېږدم

# فضل الربي (احمدي)

نوم مې فضل الربي او تخلص مې احمدي د معلم گل احمدخان زوی او د محمد وصیل خان لمسی یم . د وردگو ولایت د چک د ولسوالی دچک د کلي اوسیدونکی یم. چې په ۱۳۶۴ هـ ل کال کې په همدې کلي کې زېږېدلی یم او ابتدایي زده کړې مې د آبیدان د شهیدانو په ابتدایي ښوونځي کې او منځنۍ زده کړې د حضرت عمرالفاروق په عالي لیسه کې په ۱۳۸۵ هـ ل کال کې پای ته د رسیدو په حال کې دي. خو د تعلیم په دې دوره کې د یو لړ ستونزو له کبله مې ونه شوای کړای چې په مسلسله توګه خپل تعلیم ته دوام ورکړم نو ځکه یو څه وخت ځنډ په کې راغلی دی.

تقریباً درې کاله کېږي چې شعر لیکم چې له ۱۳۸۲ هـ ل کال راپدیخوا د شعر په لیکلو توانېدلی یم خو له شعر سره مې له کوچنیوالي څخه ډېره مینه وه او همیش به مې

شعرونه لوستل، خو اوس مهال زه داسې معشوق نه لرم چې د شعر ليکلو ته مې تشويق کړي او زما د شعرونو کمۍ (غلطۍ) را په گوته کړي تر څو مې شعري استعداد زيات شي او زما شعرونه اصلاح او نيمگړتيا نه خلاص شي.

وايي چې:: ((خپل عيب د وليو کت دی)) نو ماته هم په خپل شعر کې چې کومه نيمگړتيا ښکاريږي هغه اصلاح کوم خو بايد زما شعر د بل چا په نظر هم نيمگړتيا ونه لري. تقريباً د سلو په شاوخوا کې مې شعرونه ليکلي دي. چې غير له غزل څخه مې زيات شمير آزاد شعرونه او لنډۍ هم ليکلي دي چې مجموعه به يې ۱۲۰ ته رسيږي او د لنډيو خو تعداد په دقيق ډول نه دی معلوم.

د کلام بېلگې:

پرون په سترگو کې مې راغله ستا رنگينه څېره
درته چې ځير شو ښکاريدله ستا غمگينه څېره

زموږ د باغ په شنه چمن کې هلته
زما په مخ کې وه ولاړه ستا لمرينه څېره

جانانه تا ته وايم تا يادوم
ومې ليدله په رښتيا ستا نازنينه څېره

احمدي غوښتل درته څه ووايي گرانه اشنا
شوله په سترگو کې مې ورانه ستا حسينه څېره

غزل

پوی شولم اشنا پر ما مين ديه
ښکلی دی ښايسته دی خو غمجن ديه
ما ورسره مينه خو ده ناز کاوه
اوس نو چې اظهار کړي دروغجن ديه

اور زما د میني هم پرې بل شو لو
سوځي په کې ژاړې ارمانجن دیه
بیا به ترې خلاصون څنګه پیدا کاندي
ښکلې چې د عشق په رنځ تبجن دیه
وایه اوس خبر له زخمي زړو چې شوې
زړه کې د مین څومره خوږلن دیه
ما له بې وفا بې وفا مه وایه
عشق د زما زړه کې څوکلن دیه
اوس نو چې مې خولې ته خندا نه راځي
شوی مې د زړه ښکلی ګلشن دیه
نور نو به له مېنې نه څه نه وایې
رنګ د احمدي غریب وطن دیه

غزل

کله مې عشق کله آرمان بدل شي — کله مې خیال کله جانان بدل شي
د میني وریځو کې مې لار ورکه کړه — کله سپوږمۍ کله آسمان بدل شي
د غریب یار کوځې ته خیال کې چې ځم — کله غریب کله په خان بدل شي
په مسکېدو یې شونډې ګل شي مګر — کله غوټۍ کله ګلان بدل شي
د احمدي زړګی چې نه رغېږي — کله قسمت کله یاران بدل شي

د ستونزو له کبله مې شعرونه په چاپ نه دې رسیدلي او تراوسه پورې مې په خاص ډول نوم هم د شعرونو د ټولګې لپاره نه دی غوره کړی.

# فضل محمد « قیومي »

فضل محمد « قیومي » د قیوم جان زوی په ۱۳۵۳ هـ ل کال کې د عرب خیلو په کلي کې مې زوکړه شوې ده.

په پښتو ژبه کې تر دوو سوو عنوانو پورې په هر فورم کې شعرونه لیکم چې له هغې جملې څخه مې ځینې په مجلو او اخبارونو کې چاپ شوي او خپاره شوي دي . خو د اقتصادي ستونزو له امله مې کومه شعري ټولګه نه ده چاپ شوې او ټول لیکلي شعرونه مې د کاغذ پرمخ پاتې دي.

## حماسي شعر

کاشکې يو ځل بيا زه د غيرت توره تر ملا کړمه
رنگه امريکا کړم، لاس ترزنې برتانيا کړمه
دا به مې غيرت وي چې د پلار په شان غازي شمه
بيا کفر والحاد ته محمدجان غازي پيدا کړمه
رنگه مې نقشه د روس کړه هغه مجاهد يمه
تا که تاريخ هېر وي زه به يې تا ته برملا کړمه
ما نه د نفاق او د شقاق لاسونه لنډ نيسه
زه هغه منصور يم په قيمت د سر سودا کړمه
وپوښته کارمل د شاه شجاع ښاماران څه وايي
زر به بهرنيه تا دده په شان رسوا کړمه
ته که د نجيب په شان د بل په لاس ترشا کړمه
زه د ملا مشک توره تراوسه ځان سره ساتمه
نن ته ليونی يې تا به هم خورجا خورجا کړمه
زه «قيومي» ترس نه کړم په ډاگه لفظ وايمه
ته که سامېري يې زه به ځان درته موسی کړمه

# گل رحمان رحماني

## د تل پاتې ښکلا د ښځتن په نو

مور مې وايي چې ته د پسرلي په يوه باراني ورځ دنيا ته راغلى يې نور به نو د ښكلا مالک ته مالومه وي خو طبيعت مې آن له ماشومتوبه د پسرلني باران، د غرنيو شرشرو او د للمو د فصلونو د ښكلا مريد دى، كه څه هم چې هغه وخت د وطن له ځمكو د ميني پسرلى راټوکېدل ، غرونو، شوديارو او خوړونو ته د غاټولو كډې را رواني وې خو له آسمانه وربانديٰ اورونه او بمونه ورېدل، د كلي زلمو اوړو ته ټوپكونه اچولې وو او د غازيانو په ډله كې د سره ښامار مقابلې ته روان وو تر څو د مومن خان ياد تازه كړي د چينو او شر شرو اوبو څه چې د باران څاڅكو هم د وينو رنګ اخيستى وو بس د همداسې حالاتو تابلوګانې او وينو ته په ورته رنګ كښل شوي انځورونه دي.

هو شل پسرليه وړاندې چې ۱۳۶۵ هـ ل كال راځي د ودرګو ولايت د چک په ولسوالى كي زېږېدلى يم، پلار مې اروابناد مولوي عبدالرازق گل رحمان نوم راباندې ايښى او پوره نوم مې ګل رحمان رحماني دى. لمړنۍ زده كړې مې د الجهاد منځنۍ مې د چک روزنتون او د ليسې زده كړې مې د عمرفاروق رض په عالي ليسه كې كړيدي چې په ۱۳۸۳ هـ ل كال كې ترې فارغ شوى يم. د اووم ټولګي څخه مې شعر ليكلو، مشاعرو او ادبي بنډارونو ته تلم او بېلابېلو خپرونو سره د همكارۍ تر څنګ مې د ميدان وردګ ولايت د راډيو ټلويزون په اداره كې د وياند او اداري مدير، د ملي هدف اونيزې خبريال او همداراز د چک وردګ روزنتون د فرهنګي چارو مسؤل او د ادبياتو د ښوونكي په توګه دنده اجرا كړې د خپلو درنو ملګرو په همكارۍ د چک ادبي بهير كارونه هم په مخ وړو خو په دې وختو كې يو څۀ ورځخه

لرې شوی یم او په ننګرهار پوهنتون کې د ښوونې او روزنې پوهنځی د پښتوادبیاتو د څانګې د لمړي ټولګي محصل یم.

په درنښت

ګل رحمان رحماني

۲۲/۷/۱۳۹۸۵

د کلام بېلګې:

## ګلدان

د زړګي د یخ وهلي ګل
ګلدان مې
ستا د سترګو
د هندارې
مخ ته کېږده
ګوندې وي
د نظر لمر دی
په کې سا
د ژوندون پو کړي

۱۳۸۵\۵\۳ ننګرهار

## پال

ستاد کلي په کوڅه کې
هغه سترې بنګړیواله
په مخ راغله
ویل یې راشه
چې دې پال وګورم ځوانه

ما ویل نشته
په ورغوي کې مې کرښې
د ټوپک موټې له ځانه
سره وړي

۱۳۸۵\۳\۱۰ چک

غزل

تا ژړل ستا په سلګیو باران راغی
ګوره بیا په شنو غونډیو باران راغی
دا د کوم غاټول دعا کړه خدای قبوله
شین اسمان دې په للمیو باران راغی
د ماشوم شپونکي شپېلۍ سندرې بس کړې
د کوچیانو په کېږدیو باران راغی
لونګینې وږمې ګرځې په سیند غاړو
د ګودر په جینکیو باران راغی
خدایه کله به دا زیری په ما وشي
په وطن دې د خوښیو باران راغی
ډلې ډلې د ځنګل په لوري ځغلي
شنه صحرا کې یه هوسیو باران راغی
ښایي یو په کې زما مساپر یار وي
په څو سترو لارویو باران راغی

۱۳۸۲\۷\۸ چک

باران

که پسرلی راغللو

ته له بارانه مخکې
د مساپرو هدیرې ته راشه
په خړپړ قبر مې کړه تویې
ایله دومره اوښکې
چې مې د شناختو له بیخونو
سره ګلان راووځي

اثار:

| | | |
|---|---|---|
| ۱- سانده | (شعر) | چاپ |
| ۲- زه او ته چې ماشومان وو | (شعر) | ناچاپ |
| ۳- د هډوکو غاړکۍ | (لنډې کیسې) | ناچاپ |
| ۴- جیلوان | (ناول) | ناچاپ |
| ۵- د ملنګ هنداره | (شعر) | ناچاپ |

آزانګې (لنډه کیسه)

د اوږده ټولګي درې واړه کړکۍ خلاصې وې او نرم باد په کې په آزاد ډول چلېده کړکیو ته نږدې ونې هم ډېرې خوشحاله معلومېدې چې باد یې شنې څانګې یوه بله خوا په ناز ناز اړولې د مرغیو چوڼا شیبه په شیبه زیاتېدله کله خو به سپرلنۍ نرم نسیم له نږدې فصلونو څخه د ګلونو داسې ښکلی بوی تر کړکیو را ننه کړ چې د سړي د ماغ به ورسره تازه شو.

تر اوسه درسي ساعت نه ؤ پیل شوی د ښوونځی د سپورټ په میدان کې د والیبال ګرمه لوبه روانه وه، په میدان کې سپینو تازه لیکو داسې ښودله چې د زده کوونکو تر مینځ کومه سپورټي مسابقه ده. د سپورت د میدان ترڅنګ په شنه باغ کې هم د زده کوونکو شورماشور وو چې دې ټولو ننۍ ورځې ته زیاته ښکلا وربښلې وه او دا سې مې انګېرله لکه ما چې بله دا ډول ورځ په دې ښوونځی کې نه وي تېره کړې، هرڅوک خوشحاله مالومېدل، هرشی بیل خوند کاوه، زړه مې غوښتل لکه مرغۍ والوزم او د ښوونځی د باغ په څانګو څانګو

وگرځم د سپرلنۍ سهار سره مې هسې هم بې کچې مينه وه خو ګړۍ همداسې په دې خيالونو کې غرق وم چې د چپړاسي ماما د شپېلک غږ زما د خيالونو لړۍ پرې کړه.
د زده کوونکو غالمغال غلی شو، تر ګڼو ونو لاندې لين ودريده، سرښوونکی صيب چې لښته يې په لاس کې وه خپلې خبرې پيل کړې ډېر وغږېده، د وينا په اخير کې يې خبرې لږ غوندې نرمې کړې
زما ګرانو ورونو !!
تاسې د خپل هېواد، د خپلې خاورې، د خپلې ټولنې راتلونکي جوړونکي ياست! تاسې يې چې يو وخت به ددې خاورې مشري په غاړه لرئ، تاسې به بيا د وطن نور بچيان تربيه کوئ، دا جنګ ځپلی هېواد يوازې ستاسې کار او زحمت ته اړتيا لري.
ورونو!!
د خپلې خاورې خدمت په زده کړه سره کولی شئ نو د وخت څخه سالمه استفاده وکړئ او بې ځايه مه ګرځېږئ، د سرښوونکي دخبرو په خلاصېدو د ترانې ګروپ هماغه ترانه چې زما به ډېره خوښېده د لين په سر زمزمه کړه:

| | |
|---|---|
| دا زموږ زيبا وطن | دا زموږ ليلا وطن |
| دا وطن مو ځان دی | دا افغانستان دی |

د ترانې په خلاصېدو ټول زده کوونکي خپلو ټولګيو ته لاړل زه هم د خپل ټولګي په لمړي قطار کې کښيناستم د ټولګي ور خلاص او پورې کېده، تراوسه مې ټولګيوال رانغوتل په څو دقيقو کې ټولګی د نور کله په شان ډک شو اوس د ټولو سترګې د وره په لور اوښتې وې او د ښوونکي د راتلو انتظار يې کاوه، ځينو يو د بل سره ستړي مه شي هم کول، لږ شيبه پس د وره تر شا د چا د قدمونو ښکالو تر غوږ شوه دوه ځله د وره ټک ټک جګ شو او بې له ځنډه د کيميا ښوونکی رانغوتلو، د ټولګي کپتان (ولاړ سئ) وويل ټول د احترام په خاطر جګ شو، ښوونکی د پخواني عادت په څېر مخامخه څوکۍ ته ورغی ټولو ته يې ستړي مه شې وويل او په چوکۍ کښيناست، حاضري يې چې واخيسته د تختې مخې ته ورغی او په ليکلو لګيا شو، لمړی يې بسم الله وليکله او بيا

مضمون: عضوي کیمیا
ټولګی : دولسم الف
ساعت : اول
وروسته یې ماته اشاره وکړه.
شاباس نوی درس د کتاب له مخې ووایه، پاځېدلم درس مې وویلو او بېرته کښیناستم ، درسي ساعتونه یو پر بل پسې ډېر ژر تېرېدل عجیبه خبره دا وه چې هر ښوونکی به د درس په اخیر کې دا خبره کوله: دا هېواد باید تاسو جوړ کړئ ، ستاسې د ځوانو ملتو زور ددې لپاره پیدا شوی چې دا وران وطن د کنډوالو په ابادولو کې اوبه شي.
د هغوی دا خبرې نوي نوي ښوونکو به هر وخت راته دا نصیحتونه کول. شپږم ساعت ؤ هغه هم جغرافیه چې په کتابونو کې بده ایسېده او په ساعت کې به یې هر وخت خوب راته، ځکه خو اوس هم شیبه په شیبه خسته کېدلم د ښوونځی سهارنۍ شورماشور اوس یوې ښکلې چوپتیا خوړلی ؤ ، د ټولګي ترڅنګ په ونو کې مرغۍ نه ښکارېدې، پانې یې تاوده لمر مړاوې کړې وه، د خوب اوږدې ټالۍ وړی وم چې ښوونکی له غوږه کش کړم، پاڅه!
پورته مې ترپ کړل سترګې مې په مخامخ ودانۍ ولګېدې هماغه د تهران ښار وو د خاورو او ګاټو په منځ کې مې د کولنګ لاستی له موټې خطا شو غوږ مې د ښوونکي په ځای زما د ایراني صاحب کار په لاس کې وو د هغه دې خبرې مې تر ډېره په غوږ کې ازانګې کولې «اینجا محل کار است ، محل خواب گاه نیست»

# محمد آصف (غمگین)

زما نوم محمد آصف د پلار نوم مې عزیز خان دی او غمگین تخلص کوم د اوسیدو ځای مې د چک په ولسوالۍ کې د چک تاریخي اولرغوني کلی دی. تر شپږم ټولګي پورې مې زده کړه کړې او نورې زده کړې نه لرم او په پنځلس کلنۍ کې مې په شعر ویلو پیل کړی دی خو د جهاد په وخت کې یانې کله چې د روس سرو لښکرو زموږ په ګران هېواد یرغل وکړ او زموږ غیرتي ولس دهغه په ضد جهاد پیل کړ نو ما هم زیات شعرونه د مجاهدینو د حماسو او اتلولیو په باره کې، د شهیدانو په ستاینه کې د روسانو او د هغه دمزدورانو په غندنه کې جوړ کړل او دهغه نه وروسته د خپل وطن او د خپلو خلکو د ستونزو او مشکلاتو په باره کې ، د مشرانو د مسؤلیتو او بې پروایې په باره کې ما شعرونه ولیکل چې د اټکل له مخې به دوه درې سوه ټوټو ته رسیږي خو افسوس چې د هر چا هره ټوټه خوښه شوه رانه یې واخیسته او ویوړه یې، بې له

دې چې زه يې کومه فوټوکاپي ولرم زياتره لاس په لاس شول او کوم شی چې زما په لاس کې موجود دی که امکانات مې پيدا کړل زړه مې غواړي چې چاپ يې کړم او له خپله ځانه څخه يو يادگار پرېږدم انشاء الله تعالی.

د کلام بېلگې:

د کورني جنگ او جگړې غندنه
داسې رواني په هر لور به ويني سرې نه وی
که دغه جنگ او دا جگړې نه وی
نه به دا کونډې يتيمان وو زموږ
نه به بې پلاره ماشومان وو زموږ
نه به بې شمېره معيوبان وو زموږ
په مخ رواني دهرچا به اوښکې مرې نه وی
که دغه جنگ او دا جگړې نه وی
ولې به پاتې ؤ وطن زموږه
په هجرت ولې تلو هر تن زموږه
څله کمپو کې ؤ مسکن زموږه
که مو کورونه په راکټو کنډوالې نه وی
که دغه جنگ او دا جگړې نه وی
نن به موږ ولې مزدوران وو د بل
په پردي ملک به نوکران وو دبل
د دروازې به خاکرويان وو د بل
که ورانې کړې موږه خپلې فابريکې نه وی
که دغه جنگ او دا جگړې نه وی
که خپلو مځکو ته وزگار وی موږه
مشغول په کښت او په خپل کار وی موږه

په خپل وطن په خپل دیار وې موږه
بل ته احتیاج به موږ هیڅکله د غلې نه وی
که دغه جنگ او دا جګړې نه وی
داسې بې علمه بې تحصیل به نه وو
په مخ د خلکو کې ذلیل به نه وو
ویده به موږ په غوږ د فیل که نه وو
ټول به پوهان وو که مو سوې مدرسې نه وی
که دغه جنگ او دا جګړې نه وی
خلکو ته ګوره په آسمان کې ګرځي
په لروبر واړه جهان کې ګرځي
د بحر تل او کهکشان کې ګرځي
موږه به شاته ټیل وهلې زمانې نه وی
که دغه جنگ او دا جګړې نه و ی
که موږ په خپلو کې ټول خپل وی وروڼو
په محبت کې له یو بل وی وروڼو
د خدای د حکم څه منل وی وروڼو
زموږ په سینه به د پردیو دا نیزې نه و ی
که دغه جنگ او دا جګړې نه و ی
راځئ چې پس له دې هوښیار شو واړه
روغې او سولې ته تیار شو واړه
له دې ګیلو بانو بېزار شو واړه
ټول به آرام وو که یو بل ته دا ګیلې نه و ی
که دغه جنگ او دا جګړې نه وی
موږه درنې درنې حجرې لرو
هم دمشرانو مرکې لرو

نو د جنګ ولې تلوسې لرو
غمګینه سخته به وه هله چې جرګې نه وی
که دغه جنګ او دا جګړې نه وی

بل

د نوي ولسوال صاحب د هرکلي لپاره
مرحبا هر کله راشې په راتلو د یو خوشحاله
په خیر راغلې ستړې مه شې محترمه ولسواله
ستا راتله دې مبارک وي ستا قدم دې بختور شي
ددې سیمې لروبر دې ستا له مخه منور شي
فیض د خیر او ښېګنې دې هم ورسه هر چا له
په خیر راغلې ستړې مه شې محترمه ولسواله
خدای دې وکا زموږ غمخور شې هرې ستونزې ته دې پام شي
په راتلو ستا آسوده زموږه دغه غریب قام شي
راته حل هر یو مشکل کړې رانه لرې کړې کشاله
په خیر راغلې ستړې مه شې محترمه ولسواله
په سرک په خپله راغلې هیڅ حاجت د بیان نشته
ټول بندونه زموږ وران دي یوهم چیرته ودان نشته
د اوبو سیستم خراب دی نظر وکړه شاوخوا له
په خیر راغلې ستړې مه شې محترمه ولسواله
انجیو ده که شرکت دی که څه نورې مؤسسې دي
نورو خواوو ته یې پام دی ترې نه هېرې زموږ قصې دي
ته یې دې خوا ته را پام کړه چې داسیمه شي سوکاله
په خیر راغلې ستړې مه شې محترمه ولسواله
هره ستونزه زموږ حل شي منطقه مو شي آباده

دا نیکي به دې تل ساتو همیشه په زړه کې یاده
که سحر وي که ماښام وي دعاګانې به کړو تاله
په خیر راغلې سترې مه شې محترمه ولسواله
او بل دا چې عدالت او هم انصاف دې خپل عادت کړې
اداري څخه دې لرې واسطه او هم رشوت کړې
نو که خدای کا ته به هم چېرې ونه مومې زواله
په خیر راغلې سترې مه شې محترمه ولسواله
او هم دا چې شاګردان مظاهره کې وژل شوي
ډېر زخمیان دې په روغتون کې په مرمیو ویشتل شوي
ددې هم پوښتنه وکړه موږ ځولۍ غوړو تاله
په خیر راغلې سترې مه شي محترمه ولسواله
عدالت ته یې حاضر کړه په تلوار دا مجرمان
ددې جرم او جنایت په ښه ترتیب وکړه پرسان
نه به خلق څوک خفه وي نه قانون به وي پیماله
په خیر راغلې سترې مه شي محترمه ولسواله
بس د خلکو دا غوښتنې د غمګین په خوله بیان شوې
څه چې غوارې د ولس په دغه شعر کې عیان شوې
نور به تاته توفیق غواړو له خالقه ذوالجلاله
په خیر راغلې سترې مه شي محترمه ولسواله

# محمد مبارک «مایار»

نوم مې محمد مبارک «مایار» د پلار نوم مې سکندر او په ۱۳۲۷ هـ.ل کال کې د وردګو ولایت د سیدآباد ولسوالۍ په شیخ آباد کې زېږېدلی یم.
لمړنۍ زده کړې مې د سیدآباد په متوسطه کې او درحمان بابا د لیسې څخه فارغ او بیا مې د ادبیاتو پوهنځی ولوسته، چې په ۱۳۵۳ هـ.ل کال کې له نوموړې پوهنځی څخه په اعلی درجه فارغ او هلته تر ۱۳۵۹ هـ.ل کال پورې د استاد په توګه په هغه پوهنځی کې مې دنده ترسره کړې او د پوهنیارۍ علمي رتبه مې هم اخیستې ده.

د کمونیستي انقلاب په دوره کې ۱۳۵۹ هـ.ل کال په پای کې د پنځو کالو لپاره په پلچرخي زنداني کې زنداني شوم. په ۱۳۷۵ هـ.ل کال کې د ناروې په کمیټه کې د غزني په ولایت کې د ښوونکي لارښود (ټیچر ټرېنر) په حیث دنده ترسره کړې ده او په ۱۳۸۲ هـ.ل کال د

شیخ آباد په لیسه کې د استاد په حیث او په ۱۳۸۳ هـ ل کال کې ددې لېسې د مدیر په توګه تر ننه پورې کار کوم.

۱- په ۱۳۵۳ هـ ل کال کې یو مونوګراف د «وردګو د واده او مړي دودونه» تر عنوان لاندې لیکلی.

۲- د پوهنیارۍ علمي ترفیع لپاره مې «د وردګو د قوم لهجوي توپیرونه له معیاري لهجې سره» تر عنوان لاندې لیکلی چې چاپ شوی هم دی.

## محمد نعیم (معرفت)

زه محمد نعیم او تخلص مې معرفت دی، د وردګو ولایت د چک په کلي کې ۳۲ کاله وړاندې پیدا شوی یم. د لمړي ټولګي څخه تر دولسم ټولګي پورې مې زده کړې د حضرت عمرفاروق رض په لیسه کې ترسره کړي دي. په کال ۱۳۷۵ هـ ل کې مې د کانکور په آزموینه کې ګډون وکړ او ساینس پوهنځي ته بریالی شوم.

په کال ۱۳۷۹ هـ ل کې د کابل پوهنتون د ساینس له پوهنځي څخه په پنځمه درجه فارغ شوی یم او اوس د چک ورده ګ په دارالایتام کې د ساینسي مضامینو د استاد په توګه دنده ترسره کوم.

د شعرونو بېلګې:

خدایه څنګه بې وفا شوه زما مینه
په ژوندون له ما جدا شوه زما مینه
د اوبو په ځای مې وینې د زړه ورکړې
اوس په تمه د بل چا شوه زما مینه
د ژوندون ترخې شېبې ما سفري کړې
افسوس بل ته په خندا شوه زما مینه
د مجنون او د لیلا داستان یې هېر کړ
وه هر چا ته تماشا شوه زما مینه
د معرفت د زړه آرمان به پوره نه شي
چې له سترګو یې پناه شوه زما مینه

## غزل

په دنیا کې زه تر ټولو خوار زار شوم
ستا په غم د عاشقۍ چې ګرفتار شوم
نه طبیب نه مې دوا نه مې علاج شته
تورو شپو کې ستا د زلفو چې حصار شوم
بل به مست په دې دنیا له مانه نه وي
ستا د شونډو په شرابو چې خمار شوم
نه نور ظلم نه زیاتی په دنیا وینم
چې له خپل او له پردي څنې بېزار شوم
د پتنګ په څېر د شمعې په لټون کې
ستا د عشق په اور ستي په سور انګار شوم
بل به هېڅ زما په مثل نادار نه وي
معرفت چې ستا د حسن خریدار شوم

# محمد شفيق

نوم مې محمد شفيق د عبدالطيف زوی په ۱۳۴۷ هـ ل کال کې د وردګو ولايت د سيدآباد ولسوالۍ د دوآب کلي په يوه کليواله کورنۍ کې زېږېدلی يم. لومړنۍ زده کړې مې د تنګي په متوسطه کې ترسره کړېدي. د جهاد له پيل وروسته پېښور ته مهاجر شوی يم، هلته مې ثانوي زده کړې کړي او په ۱۳۶۷ هـ ل کال کې له شرعي او تربيوي دارالمعلين څخه فارغ شوی يم.

له فراغت وروسته مې دخپل اميد سره سم په ۱۳۶۸ هـ ل کال کې د تنګي په دره کې د لجنة الدعوه دخيريه مؤسسې په مرسته د لومړي ځل لپاره يوه ليسه جوړه شوه چې تراوسه هم د امام ابوحنيفه رح د ليسې په نامه سره يادېږي، په ليسه کې له څه مودې استادۍ وروسته مې په پېښور، کابل، کندز او وردګو ولايتونو په ځينو نورو سيمو کې مختلفې دندې

ترسره کړي، چې ټولې دندې د تعلیم او تربیې په چوکاټ کې وي. د ښوونکي، سرښوونکي، معاون، آمر او مدیر په توګه مې کار کړی دی.
له ۱۳۸۱ هـ ل کال راپه دېخوا د امام ابوحنیفه رح دلیسې د مدیر په توګه دنده لرم. د دارالمعلمین له دورې مې د لیکوالۍ لور ته هڅې پیل کړي، ګڼې مقالې، رسالې، مضامین مې ژباړلې ، لیکلي او راټول کړیدي، خو د شرایطو نه مساعدت، اقتصادي ستونزو، ناامنیو او کلیوال چاپېریال له امله مې کمې مقالې په مطبوعاتو کې چاپ شویدي. له ۱۳۸۰ هـ ل کال راپه دېخوا مې د شعر لیکلو سره مینه پیدا شوې چې زیات کار ته اړتیا لري.
په ژوند کې کومه اقتصادي لاسته راوړنه نه درلوده ، خو یوه سرمایه چې مې لاس ته راوړې او زه پرې ویاړم ، هغه دا چې د ملک په ډېر ستونزمن پړاو کې مې په سلګونو ځوانان د علم او کلتور په رڼا کې وځلول، تراوسه الحمد لله زما په لاس تقریباً ( ۷۰۰ ) تنه ځوانان له دولسم ټولګي څخه فارغ شوي، له ( ۳۰۰۰ ) څخه زیاتو شاګردانو مې د اقتصادي او ټولنیزو ستونزو له امله د دولسم ټولګي ته له رسیدو مخکې خپلې زده کړې نیمګړې پرېښې دي او همدا اوس هم ( ۱۵۰۰ ) تنه زده کوونکي لرم.

د شعر بېلګه :

خپل شاګرد ته !

اې! زما شاګرده وروره — لږ وماته ته وګوره !
ته زما د امید ګل یې — ته زما د زړه بلبل یې
تا ته کړم د ژوند کیسې مې — تجربې او خاطرې مې
لکه شمع درته سوځېږم — د څراغ غوندې بلېږم
تر څو ستا ژوند کړم روښانه — ستا راتلونکې په ښه شانه
چې بیا ته نیغ سم روان شي — د سیالانو د کاروان شي
غوږ شه ماته زما وروره — لږ خبره مې ده نوره
ګوره! ته که کوچنی یې — هم که ځنې یا زلمی یې
تاته پاتې دا نړۍ ده — د سیند منځ کې دا بېړۍ ده

درچاپېر دې رقيبان دي | ښه هوښيار ټول غليمان دي
غوارې ستا ژوندون اسير کړي | په جالو کې دې راګېر کړي
هسکه غاړه ته روان شه | هم په غرو او بيابان شه
دې وطن ته ښه خادم شه | د مظلومو ښه حاکم شه
د آيين کوه ساتنه | د خپل دين کوه پالنه
پيدا شوى مسلمان يې | هم په خټه ته افغان يې
دې نړۍ کې ته پښتون يې | نن راګير په لوى آزمون يې
پام کړه ګوره خطا نه شې | په ذلت هېڅ رضا نه شي
دا وطن ته ښه سمسور کړه | مورې نه لېرې نور پېغور کړه
که قبول دې زما وصيت کړ | هم منظور دې دا دعوت کړ
بيا به ته هم ميرويس خان وې | هم بابا او هم جان خان وې

زما ليکلي آثار متاء سفانه چې تراوسه چاپ شوي نه دي او يواځې يو کتاب مې تر چاپ لاندې دی چې انشاء الله ژر به يې لوستونکو ته وړاندې کړم، نور ليکلي آثار مې چې ځينې د چاپ لپاره تيار او ځينې منظم نه دي په لاندې ډول دي:

۱- د ځوانۍ منى (کتاب) : د روسانو د يرغل د کلونو د سترګو ليدلي حالات او ناخوالې.
۲- ښوونکي ته ! : (کتاب) ژباړه
۳- د کورنۍ د ورانېدو (۷) عوامل د زيادت سره (کتاب) ژباړه .
۴- د ميراث پښتو کتاب .
۵- عسيويت : تاريخ ، عقيده او شريعت، (کتاب)

لنډه کيسه :

بس بي بي خوارکۍ په ډېره منډه راورسيده ، خداى خبر چې دا اوږده لاره به يې څنګه وهلې وي ، نړه يې هېره وه، يوازې د چا په ليدو به يې د خبرې پوښتنه کوله، خو هېڅ‌چا هم ځواب نه ورکاوه، خو د هغې زړه خبر وو ، هغه پوهېده چې تل به يې زړه له دې ظالم کلي ورټول شي ، د

کلا په مخ د ښځو او نارینه ؤ ګڼه ګوڼې لاوارخطا کړه ، د کلا د مخ خلک ځېنې ورته راروان او ځېنې یوې بلې خواته خواره شول، په نارو نارو، د کلا مخ ته ننوته، څو ګامه وړاندې نه وه تللې په یوه چا یې سترګې ولګېدې چې زوړ څادر پرې خور ؤ، د څادر پیڅکه یې پورته او په لیدو یې د خدای شکر ادا کړ ، هغه یې په داسې حالت کې تر څنګه کښیناسته چې په سترګو کې اوښکې وچې وې، حیرانه یې یوې او بلې خوا کتل، د ولاړو کسانو له سترګو د اوښکو سیلابونه روان ؤ خو بیا یې هم خوارکۍ ته په صبر ډاډ ورکاوه، هو د بس بي بي خوارکۍ د لور ژوند همدومره ؤ، دا دهغې د ژوند اتلسم پسرلی ؤ چې دنیا یې ددې نړۍ ظالمانو ته په میراث پرېښوده، د هغې په ژوند کې له هغې ورځې خزان راګډ شو کله یې چې پلار له دې نړۍ سترګې پټې کړې، کاشکې چې ورور یې درلودی چې د ظالمو انسانانو د ظلم څخه یې ساتلې وی، د ماشومتوب ناخوالو یې د بدن هډوکي خوړلي ؤ، زړو شلیدلي ، خامو او چاودو پښو یې د یتیمتوب زیری ورکاوه، دا خترونو او ودونو په ورځو بهٔ په خوارکۍ د غم شپه راخوره وه، خو سیلۍ وهلي مور به یې بیا هم ډاډ ورکاوه، دهغې بخت هغه وخت د ژمې سیلو وسیځه کله یې چې ظالم تربور د میراث لپاره خپل هغه زوی ته په نکاح کړه چې هغه ورسره له ماشومتوبه کینه لرله، د ماشومتوب ستونزې یې د خسر او خواښې د کور په کړاوونو له یاده ووتې. هغه اوس د کور ښځه نه بلکې د یوې مینځې بڼه غوره کړه ، هغې په کور کې خاوند نه بلکې یو دښمن درلود، چې یوازې د هغې په وینو به یې تنده ماته شوې وی، خو هغه مهال پرې د مصیبتونو سیلاب راغی کله یې چې د بنې دسمال کورته رادننه شو، بنې ته هم ډاډ ورکول کېده چې هر څه به یې مینځه ورته کوي، خو د واده شپه لاتېره نه وه چې د بس بي بي د لور جنازه د نامعلومو عواملو له امله خلکو ته ننداري ته کېښودل شوه.

# محمد اورنگ (مختار)

محمد اورنگ «مختار» د حاجي محمد اسماعيل زوی په **۱۳۵۷** هـ ل کال کې د وردگو ولایت د چک ولسوالی د نهه برجه په خانانو کلي په یوه دیندوسته کورنۍ کې مې دې دنیا ته سترگې غړولي دي.

د هجرت په دوران کې په **۱۳۷۳** هجري لمریز کال کې د حضرت بلال رض د I.R.C لیسې څخه د فراغت برې لیک ترلاسه کړی او په همدې کال کې د دعوت او جهاد پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی ته بریالی شوم. خو د **۱۳۷۵** هجري لمریز کال د تلې (میزان) په شپږمه نیټه د طالبانو په واسطه د کابل د نیولو له امله له هېواد څخه بهر ته ولاړم او هلته مې د اسلامي زده کړو ترڅنګ په کلتوري چارو هم بوخت شوم او په ۱۳۸۱ هـ ل کال کې مې اسلامي زده کړې هم بشپړې کړې. اوس مهال سره ددې چې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پښتو څانګې محصل

یم د نورو آزادو لیکنو ترڅنګ د هېواد ، انیس او راه نجات ورځپاڼو سره همکاري لرم چې دتیرو دوو کلونو راهیسې مې په نوموړو ورځپاڼو کې په سلګونو څېړنیزې، سیاسي او ادبي مقالې خپرې کړېدي.

د نثر تر څنګ شعر هم لیکم خو نثر مې د شعر په پرتله ځواکمن دی او د «خزان وهلو ځانګو» په نامه د لنډو کېسو یوه ټولګه لیکلې ده چې ډېرې کېسې مې ورځپاڼو او مجلو له لارې تر هېوادوالو رسولي دي د لنډو کېسو دغه ټولګه چې له نوم څخه یې ښکاري د هېواد د مظلومو نجونو او ښځو حال بیانوي چې د جګړې او افغاني دودونو ښکار شوي دي .

د لنډو کیسو او شعرو نو ترڅنګ د طنز او ډرامه لیکلو سره هم ډېره مینه لرم چې دهېواد د روانو ستونزو ډېرې پېښې د طنز له لارې خپروم، د یادونې وړ ده چې په ۱۳۸۳ هـ ل کال کې په ګویته انستیتوت کې د «ازدواج اجباري علیه خوردسالان» تر سرلیک لاندې په پښتو ژبه یوه (۱۱) مخیزه ډرامه ولیکله چې تر ټولو یې لومړی مقام ترلاسه کړ .

د خزان وهلو ځانګو له ناچاپ اثر څخه مې یوه تازه لیکلې کیسه د بېلګې په توګه تاسو ته ډالۍ کوم چې د روان کال د تلې په ۱۳ مه نېټه د هېواد ورځپاڼې په پنځم مخ کې یو ځل چاپ شوې هم ده .

یتیمه نجلۍ :

د شپې دوې بجې وې چې فرښتې خپلې مور ته وویل : مورجانې! مورجانې ! ناروغه یم ګېډه مې سخت درد کوي مور: خیر دی لورې مه ژاړه زه به درته ترخه په اوبو کې واچوم هغه به وخورې روغه به شې، هله ژر ژر مورې مړه شوم ډېر تکلیف لرم، ته ودرېږه لورې چې زه ډیوه روښانه کړم آه ، رښتیا په ډیوه کې خو تیل نشته څنګه به یې په دې تیاره کې پیدا کړم نیمه شپه ده ، څه وکړم خدایه ! مجبوره یم چې د کوم ګاونډي دېوال ور وټکوم او تیل ترې وغواړم تر څو مې د لور غم وخورم، هی هی په دې توره شپه کې اوس له چا څخه سوال وکړم که پلار یې ژوندی وای نو هرو مرو به په کور کې اوس دومره تیل وٶ چې ډیوه مو پرې روښانه کړې وای، بیا یې په ورو له ځانه سره وویل : سپوږمۍ خو هم په نیمایي اسمان کې ده ښایي همدا اوس شپه

نیمايي شوي وي، کاشکې مو په کور کې يو ساعت ( گړۍ) درلوداى چې د وخت پته مو پرې معلومه کړې واى، نه پوهيږم چې شپه لږ پاتې ده که ډېره ؟
مورې ! هيڅ طاقت مې نه کيږي مړه شوم هله يو څه ، مور مجبوره شوه او په سينه کې يې د زمري زړه کېښود د ښي لورې د گاونډي د کور د ديوال يې ور وټکاوه له ځانه سره يې وويل گونډې وي چې د مرجانې زړه رابانديې وسوځي او يو څه تيل راکړي خو بيا په زړه کې پښېمانه شوه او له ځانه سره يې وويل اخر زه خو ښځه يم څنگه په دې نيمه شپه کې د گاونډي ديوال ور وټکوم! د مرجانې تر غوږ د ديوال غږ شو په خاوند يې غږ وکړ سړيه ! او د جميل پلاره ! هله ځوک د ديوال ټکوي ، د نجلۍ مور په غلي اواز وويل : مرجانې زه يم، له خوبه مې ويستلې ، خداى دې ما بلا ورکه کړي څه وکړم بله چاره مې نه وه لور مې سخته ناروغه ده د نجلۍ ناروغۍ او سخت فرياد دې ته اړ ويستم چې يو څۀ تيل درڅخه وغواړم، او رښتيا په کور کې خو گوگړ هم نشته يو اورلگيت مې هم په کار دی، مرجانې توري کونډې ته د تيلو له بوشکې څخه د هغې ډيوه ور ډکه کړه، گوگړ يې هم په لاس ورکړ، يتيمي نجلۍ په وچ ډاگ باندې سپېرې شونډې زېږ مخ چيغې وهلې مور يې ورته د وچې شوې ترخې پاڼې په اوبو کې واچولې خو د يتيمې نجلۍ هيڅ درد يې ارام نه کړ، نجلۍ ټوله شپه وژړل ، د کونډې مور يې هيڅ وسه نه وه تر دې چې سهار شو په کلي کې ډاکټر هم نه ؤ يوازې په ولسوالۍ کې يو روغتون ؤ چې د جگړې تېپيان يې درملول، د ولسوالۍ لاره هم ډېره لرې او کنډو کپره وه کله به د دښمن له لورې کمين هم نيول کېده، د کونډې هيڅ وسه نه وه په کور کې يې يوازې يوه لور او يو پنځه کلن يتيم زوی درلود، خداى ته يې سوالونه کول ، له ځانه سره يې وويل : کاشکې د ډاکټرانو هغه گرځنده ډله چې کله کله به کلي ته راتله راغلې واى د سهار اته بجې وې چې د کلي په جومات کې په لاوډسپيکر اعلان وشو، د ډاکټرانو ډله راغلې ماشومان او ناروغان مو راولئ، کونډې له ځانه سره وويل :اوس مې د لور چاره وشوه او يو څه خوشاله شوه له ځانه سره يې وويل : خدايه په رښتيا هم چې پر خپلو بندگانو ډېره مهربانه يې ! له ځانه سره يې شکرونه ويستل او ويې ويل اوس به ډاکټر زما د لور علاج همدلته وکړي کنه نو ما بې کسه او بې وسه به چېرې خپله لور په دې جگړه کې تر ولسوالۍ رسوله بيا يې خپله لور د کلي جومات ته د ډاکټرانو د کتنې لپاره بوتله په جومات کې د ناستو کسانو له ډلې څخه يې د کلي يو تن سپين ږيرى

راوغوښت او د خپلې لور سپارښتنه يې ورته وکړه ، کونډه ښځه غلې د جومات د کړکۍ ترڅنګ ودرېدله سپين ږيري د هغې لور د ډاکټر پرمخ کې کېنوله، ډاکټر تر معاينې وروسته وويل : دا نجلۍ خو اپنډکس ده ، دا بايد ضرور خپل پلار د ولسوالۍ تر روغتونه ورسوي يوازې څو ساعته وخت لري په دې وخت کې يتيمې نجلۍ په خورا ناهيلۍ وويل : پلار خو مې لاپخوا راته جګړه مارانو وژلی دی.

د هېواد ۱۳ مه ګڼه د تلې مياشت

بهاره تاته وايم !

بهاره ! څومره ښايسته هوا او ښکلی نوم لرې، څومره دې چې نوم په زړه پورې دی هم هغومره ښکلاګانې هم له ځانه سره راوړې.

بهاره! پوهيږې چې د هر چا ولې دومره ډېر خوښيږې؟ ځکه چې ستا هغه پسته او لـه اداګانو ډکه وږمه چې له طوفاني خزانونو څخه يې کډه کړې وه بېرته ستا په همغږۍ خپل کور تـه راځي او د خپل وطن د مينانو ترمنځ عطرينه او ګلورينه هوا بدرګه کوي، مينه راوړې او کرکې لـه منځه وړې.

ګرانه بهاره! ته په دې هم پوه شه چې ستا د نشتوالي پر مهال د طبيعت ټوله ښکلا او سره او زېړ ... ګلونه چې په ليدو يې سترګې او دماغ روښانه کېږي، د خلکو زړونه خوشاليږي، د نازولو ناز پرې تازه کيږي، د عاشقانو مينه پرې ماتيږي، د بوډاګانو زړونه پرې ژوندي کيږي، د ځوانانو عاطفه پرې راپاريږي او د ماشومانو زړونه پرې غوړيږي .... او ستا هغه پـه زړه پورې هوا چې په دښتو او رغو کې ستاد رنګارنګ ګلونو پـه پـانو چلېږي، ځکه نو ګرانه بهاره ستا راتلل زموږ ټولو لپاره د قدر وړ دي. موږ ټول ځوانان، ماشومان.... ستا لاره په مينه څارو ځکه چې بهار له ځانه سره ميني راوړې خو زموږ ګرانه بهاره ! ته هم رښتينی بهار شه! او د مينې بهار شه ! په خپله غېږه کې سره او زېړ ګلونه راوړه ، خنداګانې، خوښۍ او ... راوړه .

ګرانه بهاره! تا چې کلونه کلونه له موږ څخه کډه کړې وه خو دراتلو پر مهال دې زموږ سره د ډېرو ګلونو د راوړلو ژمنه وکړه، خو اوس هغومره نه ښکاري لکه څنګه چې ستا ژمنه وه، تا خو له ځانه سره ګلونه راوړل ، هوکې ضرور به دې راوړل! ځکه چې تـه بهار يې ! بهار تـل ګلونه

راوړي، مينه ژوندی کوي او د طبيعت او کايناتو ترمنځ د مينې مزې غزوي، ګودرونه په شور راولي، بلبلانو ته د بڼونو پر لور بلنه ورکوي، مينانو ته د مينې ښکلی ګل په لاس ورکوي، نوځکه ګرانه بهاره ډېر ګلونه راوړه ! زموږ لمنې د اوږده خزان د طوفانونو او سيليو له امله کلونه ، کلونه خالي پاتې شوي دي، ځکه موږ ستا د ډېرو ګلونو هيله لرو.

ګرانه بهاره ! راوړه سره او زېړ... ګلونه، راوړه هسې نه چې له تا نه مو هم د خزان په څېر زړونه تور شي، زموږ زړونه د اوږده خزان سيليو کلک ځپلي، زموږ زړونه مات شوي، اوس چې زموږ ماتو زړونو ستا د راتلو له امله ټکور موندلی هسې نه چې بيا مات او خپه شي، ځکه چې زموږ زړونه نازک شوي ، نازک زړه د نازک ګل په څېر ډېر ژر مړاوې کېږي، نو راوړه ګلونه دومره ګلونه راوړه چې ښکلا يې هغه بېکاره او ګنده بوټي چې ستا په راتلو زرغون شوي له منځه يوسي دومره ګلونه راوړې چې زموږ په منځ کې مينه او الفت واچوې او کرکې مو له منځه يوسې، ګودرونه مو د مستو پېغلو او ځوانانو په زړه راښکونکو خندا ګانو او د طبيعت د نازکو پېرزوينو په آتڼونو بدرګه شي، نو ګرانه بهاره ! هميشه بهار شه ! زموږ له زړونو څخه د خزان د کرکې ټغر ټول کړه ! موږ د مينې په ګلونو خوښ او معطر کړه ! موږ د خزان، بادونو ډېر ځپلې يو بهار شه ! او هميشه بهار زموږ د هېواد او کورونو بهار او زموږ د مينې بهار.....!

هېواد ورځپانه ۲ مخ د وري لسمه نېټه ۱۳۸۵ هـ لمريز

## اواز د مينې

لکه لمبه چې په شبخون تېرېږي — هسې مې زړه ستا په بېلتون ځورېږي
وايه ! وصال دې ولې دومره ګران دی ؟ — په تمه ، تمه نن پرون تېرېږي
ښکلا دې ډېره ده د تورو سترګو — ځکه بېلتون دې په کړوون تېرېږي
قيمت يې وايه که په وس مې رسي — سر مې ستا مخکې په زبون تېرېږي
دا ښکلي، ښکلي زما ډېر خوښېږي — ځکه شپې مې په جنون تېرېږي
ګناه مې څه چې رانه لرې ګرځې — د ځوانۍ ژوند مې په ژړون تېرېږي
که يو اواز د مينې وکړې ښکلې — د «مختار» ژوند به ټول سکون تېرېږي

آثار:
۱- خزان وهلې څانګې: ناچاپ، د لنډو کیسو ټولګه ده چې د جګړې او ناوړه دودونو له امله زموږ د هېواد د ښځو او نجونو حال په کې رانغښتی دی.
۲- په سلګونو تحلیلي، ادبي او سیاسي مقالې. چاپ

## مجیب الرحمان (امیري)

مجیب الرحمان امیري د پشم ګل زوی په ۱۳۶۴ هجري لمریز کال کې د وردګو ولایت د سیدآباد ولسوالۍ د تنګي درې د دولت خیلو په کلي کې زېږېدلی یم. لومړنۍ او ثانوي زده کړې مې د همدغې درې د امام ابوحنیفه رح په عالي لیسه کې ترسره کړېدي. تر فراغت

وروسته په کال ۱۳۸۳ هجري لمريز کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځۍ، پښتو څانګه کې ومنل شوم او اوسمهال د همدې څانګې د درېيم کال زده کړيال يم.

د کلام بېلګه:

غزل

ستا له وربښمينو شونډو اورم اوس د غم سندرې
د سوز په تار باندې پېيلې د الم سـندرې
چې مې د ذوق پر لار اغزي د ښنو سلام ته راځي
څنګه ساه وانخلي په سترګو کې د نم سندرې
زما د ساده تخيل سپين منبر يې وداغلو
له کومه راغلې د لمبو د جام وجم سندرې
بيا مې تر غوږه شوه سر او تال د نغمو لارې وکړې
ښايي چې راوړي تر ضميره د ماتم سندرې
څو مختورن د زمانې راشي خرقه کې د حق
په خوله ګونګۍ په روح خپه کړي د صنم سندرې
دا بدنظره دا دوه مخې کورنۍ د شيطان
دتور په داغ باندې کړي رنګ زموږ د چم سندرې
د ژوندون شمعه بلول هم سربښند نه غواړي
په سستو زړونو ګټل کېږي د خرم سندرې

آثار:

۱- د ډرامو ټولګه (ناچاپ)
۲- شعري ټولګه (ناچاپ)
۳- د لنډو کيسو نيمګړې ټولګه (ناچاپ)

# محمداجمل ( هوډمن )

محمداجمل (( هوډمن )) د الحاج محمدرفيق زوی په کال ۱۳۵۷ هـ ل د وري د مياشتې په ۷ نېټه د ميدان وردګو ولايت د مرکز ( ميدان ښار ) د امرخيلو د نايبانو په کلي کې مې سترګې نړۍ ته پرانيستې.
لومړنۍ او منځنۍ زده کړې مې په کابل کې د علاالدين په تجربوي ښوونځي او د حبيبې په عالي ليسه کې سرته رسولي دي او په کال ۱۳۷۸ هـ ل کې د ميدان وردګو ولايت د حضرت خالدبن وليد له عالي ليسې څخه فارغ شوی يم. د کانکور په آزموينه کې له ګډون وروسته د کابل پوهنتون دحقوقو او سياسي علومو پوهنځی ته بريالی شوم او په ۱۳۸۳ هـ ل کال کې مې د نوموړي پوهنځي د اداري او ډپلوماسۍ له څانګې څخه په دوېمه درجه بری ليک ترلاسه

کړ. اوس د حقوقو په نړیواله ټولنه کې د حقوقي مرستندوی (مدافع وکیل) په توگه دنده ترسره کوم.
لا په ښوونځی کوم چې د شعر او نثر په لیکنه مې پیل کړې وه خو د بیان د آزادۍ په وړاندې پرتو ستونزو د قلم خوځولو اجازه خو کله چې د افغاني ادب په ډگر باندې د آزادۍ پلوشې وغوړېدې، د نورو لیکوالو په څېر مې قلم ته زور ورکړ او په بېلابېلو برخو کې گڼې لیکنې وکړې چې د افغان غږ، ډیوې، مشعل دیموکراسي، گوربت، خانواده، اراده او نورو خپرونو کې خپرې شوې او له پوهنځی څخه تر فارغېدو وړاندې د افغان غږ اونېزې، د لیکوالې ډلې غړی وم چې وروسته بیا د ژغورنې د جرېدې مسؤل مدیر او اوس مهال د دریځ د میاشتنۍ خپرونې چې کلتوري او ټولنیزه خپرونه ده مسؤل مدیر په توگه دنده ترسره کوم او د لیکنو شمېر مې نږدې دوه سوو ته رسیږي چې د نثرونو پرتله مې شعرونه لږ دي چې ځینې یې په خپرونو کې چاپ شوي هم دي.

د لیکنې یوه بېلگه:
د خلکو داستوگنځیو (کورونو) مصؤنیت ته باید درناوی وشي!
د شخص استوگنځی له تیري او تعرض څخه خوندي دی هېڅوک او حتی د دولت مامورین حق نه لري چې د واکمنې محکمې له حکم او د قانون له وړاندوینې پرته دچا کورته ننوځې. خدای ج کور د وگړو د شخصي چاپیریال په توگه خوندي بللي او نور یې په هغه باندې له تیري څخه راگرځولي، ځینې وخت پولیس، امنیتي کسان او آن ځینې خپلوان او گاونډیان چې یو له بل سره کورنی تگ او راتگ لري پرته له دې چې قانون ورته اجازه ورکړې وي په خپل سر پرته له اجازې او یا هم د دروازې له وهلو دخلکو کورونو ته ورننوځي چې دا عمل د کور او استوگنځي مصؤنیت له گواښ سره مخامخ کوي.
خدای ج د نور سورت په ۲۷ او ۲۸ ایتونو کې په دې هلکه داسې لارښوونه کړې:
«ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی، پرته له خپلو کورونو څخه د نورو کورونو ته مه ننوځئ تر څو مو چې اجازه نه وي اخیستي او دهغه (کور) په اهل مو سلام نه وي ویلی او دا ستاسو لپاره غوره ده ښایي چې پند واخلئ. او که څوک مو په هغه کور کې پیدا نه کړل مه

ورننوځئ. تر څو چې اجازه يې نه وي درته کړي او که يې درته وويل چې بېرته وګرځئ دا ستاسو لپاره پاکي او سپيڅلتوب ده. »

د قرآن کريم له دې مبارکو آيتونو څخه څرګنديږي چې خداى (ج) مسلمانان د نورو د کورونو په مصؤنيت باندې له تيري څخه منع کړې او ښکاره خبره ده چې د خداى (ج) له لارښوونو څخه سرغړونه ګناه ده .

دغه راز د افغانستان اساسي قانون چې داسلامي شريعت ارزښتونه يې په پام کې نيولي پخپله ۳۸ مه ماده کې يې دکور له خونديتوب څخه داسې ملاتړ کړي:

« د شخص استوګنځى له تيري څخه خوندي ده هېڅوک د دولت په ګډون نه شي کولى د استوګن له اجازې يا د واکمنې محکمې له قراره پرته او بې له هغو حالاتو او لارو چې په قانون کې ښودل شوي د چا کور ته ننوځي او يا يې وپلټي. »

په دې اساس ويلى شو چې د هېواد اساسي قانون د استوګنځي مصؤنيت ته درناوى کوي او دولت د هغه په رعايت کولو مکلف بولي خو يو ټکى بايد له پامه ونه غورځول شي چې د څرګند جرم په مورد کې مسؤل مامور کولاى شي چې د محکمې له مخکنې اجازې پرته د يو شخص کور ته ننوځي او يا هغه وپلټي خو ددې لپاره چې له دې استثنا څخه ناوړه ګټه وا نه خيستل شي. مامور مکلف دى چې له پلټنې وروسته د قانون له خوا په ټاکلې موده کې د محکمې قرار ترلاسه کړي.

همدارنګه د بشر دحقوقو نړيواله اعلاميه د مدني او سياسي حقوقو نړيوال تړون او د بشر د حقوقو اسلامي اعلاميه د استوګنځي مصؤنيت د اشخاصو حق بولي او په هغه باندې د تيري مخالفت کوي. د پورتنيو نړيوالو حقوقي اسنادو له نظره د هر انسان کور او استوګنځى له لاسوهنې او تيري څخه خوندي ده هېڅوک حق نه لري چې د انسان د کور حرمت ته سپکاوى وکړي او د خاوند له اجازې پرته په زور او غير مشروع ډول هغه ته ورننوځي. هيڅوک حق نه لري چې د چا سرپناه او کور وران کړي او اوسيدونکي يې بې کوره کړي ځکه چې استوګنځى د وګړو د هوساينې او د اسرارو د ساتنې ځاى ده خو په ډېره خواشينۍ سره بايد وويل شي چې دغه اصل ته لاتراوسه هم زموږ په هېواد کې پاملرنه نه ده شوې.

# نصیراحمد «امیدي»

نصیراحمد «امیدي» د محی الدین «ترابي» زوی د میدان وردگو ولایت د سیدآباد ولسوالی د چارده‌ي په کلي کې په ۱۳۶۵ هـ ل کال کې زېږېدلی یم.
تر نهم ټولګي پورې مې زده کړې وکړې او وروسته مې دیني علومو ته مخه کړه. د شعر سره مې ددې لپاره زیاته مینه ده چې هېواد حالات او د زړه غمونو مو په شعر سره څرګندوه، اته کاله کېږي چې په شعر لیکلو مې پیل کړی او تر اوسه د (۷۰) شعرونه مې د قلم تر څوکې تېر کړیدي چې نعتونه، سندرې او آزاد نظمونه په کې رانغښتي دي چې تراوسه مې کومه ټولګه تر چاپه نه ده رسیدلې

د کلام نمونه

عقیده مې د ابراهیم ده جسدونه ماتوم
په میخانه کې د شرابو به جامونه ماتوم
پلار نیکه مو په اسلام کې پیدا او مړه دي
نو زه به دې اسلام ضد لښکرونه ماتوم
په ټول جهان کې به د اسلام ډیوې کړم بلې
د یهودو نصاراو به پلانونه ماتوم
د غیرت توره به مې ځلیږي په جهان کې
بچی د احمدشاه یم د ملحدو به پوځونه ماتوم
مطلب مې اعلی کلمت الله ده
همت مې د حمزه دی د جهل بهٔ کاروانونه ماتوم
د غزنوي په شان به تاریخ پریږدم
په هند کې بهٔ بوتانو سرونه ماتوم
څوک چې فرعون غوندې تنګ نظره شي
زه به د داسې تنګ نظرو فکرونه ماتوم
افغاني مینه مې راغوښتې ځانته
زه امیدي به د کفارو زولنې او زنځیرونه ماتوم

شعرونه مې یو څه د کندهار ولایت د «هوډ» په مجله کې چاپ شوي او یو شمیر یې په یوه بله مجله چې د کندهار په نامه خپریږي چاپ شوي دي. لکه مخکې مې چې یادونه وکړه کومه ټولګه مې چاپ شوی نه ده خو په راتلونکي کې یې د چاپ کولو هوډ لرم.

# وحیدالله (( جلالزی ))

زه وحیدالله (( جلالزی )) د غلام حضرت زوی د وردګو ولایت د سیدآباد ولسوالۍ د دشت توپ غازنجیلو په کلي په ۱۳۶۵ هـ ل کال کې زېږېدلی یم.
په ۱۳۷۴ هـ ل کال د دشت توپ په لومړنی ښوونځی کې شامل او په ۱۳۷۹ هـ ل کال کې د نوموړي ښوونځی د شپږم ټولګي څخه فارغ شوم چې بیا په ۱۳۸۰ هـ ل کال د شیخ آباد په عالي لیسه کې داخله وکړه او اوس د همدې لیسې د دولسم ټولګي زده کوونکی یم.
له نثر لیکلو سره مینه لرم او درې کاله کېږي چې په نثر لیکلو مې پیل کړی دی.

د نثر بېلګه:

## د مور او د ښایسته ګلونو روزنه

یوازې ښایسته ګلان هغه نه دي چې د غرو په لمنو او د ښتو کې زرغون او شنه وي. بلکې یوې ټولنې ته د یو ښه مسلمان روزل هغه د یو ګل مثال لري چې نه یوازې ټولنه پرې ښایسته وي بلکې ګټه یې نورو انسانانو ته هم رسیږي او کله هم د نورو لپاره لارښود او رهبر جوړ شي.

نو باید هره مسلمانه مور په خپله غیږ کې داسې ګلونه وروزي چې د ټولنې لپاره د ویاړ او افتخار وړ وګرځي، تر څو د خلکو او ټولنې لپاره خدمت ملا وتړي او د خپل پیغمبر حضر محمد صلی الله علیه وسلم لاروی واوسي، داسې اغزي ونه کري چې د ټولنې او خلکو ته غمونه او مصیبتونه وزېږوي.

هو مور ده چې خپل اولاد په روزنه کې مهم رول لوبوي که یې د هغه په روزنه کې زحمت وویست هغه یې خپلو مسؤلیتونو ته متوجه کړ، د هغه د ګرځېدو کار، عبادت او ورځني ژوند څخه یې ځان خبر کړ نو نه یوازې د اولاد راتلونکی به یې په دنیا او آخرت کې روښانه وي بلکې مور به هم په خپله د خپل اولاد په کارنامو په دنیا او آخرت کې سرلوړې وي

او که یې بې غوري ورسره وکړه د هغه د ژوند، کار، اخلاقو څخه بې خبره پاتې شوه او یا یې پروا ونه ساتله نو هرومرو بهٔ یې له یو لوري د خپل اولاد راتلونکی تریخ ویني او ترڅنګ به یې د دنیا او آخرت شرم مل وي او د ټولنې وګړي به پرې لعنت وایي، نو زه د ټولو میندو څخه په درنښت هیله کوم چې باید په اوسني سخت وخت کې د خپلو اولادونو د روزنې لپاره ډېره پاملرنه وکړي.

په درناوی

زما د نثرونو شمېره (۲۰) ته رسیږي چې تراوسه یې په چاپ کولو نه یم بریالی شوی.

# د غزني ولایت شاعران او لیکوالان

# انجینر عبدالهاشم « ناصري »

انجینر عبدالهاشم « ناصري » د عبدالله زوی په کال ۱۳۵۷ هـ لمریز کې د غزني ولایت د قره باغ ولسوالۍ د موشکي په صغرا نومي کلي کې یې نړۍ ته سترګې رالوخې کړېدي.

لومړنۍ زده کړې مې له خپل پلار څخه کړي او په ۱۳۷۵ هـ لمریز کال کې په خپل سیمه یز منځني ښوونځي « شهید عبدالسلام » کې تر شپږم ټولګي پورې زده کړې وکړې او وروسې د زده کړو د دوام په موخه د قره باغ د سلطان محمود غزنوي په لیسه کې شامل او په ۱۳۸۱ هـ لمریز کال کې له همدې لیسې څخه په ښه درجه فارغ شوم.
د کانکور د آزموینې په پایله کې د خپلې خوښې انتخاب یعنې د کابل پوهنتون د زراعت پوهنځی ته بریالی شو.
۱۳۸۲ هـ لمریز کال کې مې په لوړو زده کړو پیل وکړ او دا دې انشاء الله سږ کال ۱۳۸۵ هـ ل د فارغېدو کال دی او لوړې زده کړې مې د بشپړېدو په حال کې دي.

له وړوکوالي څخه مې له شعر او ادب سره خورا ډېره مینه لرله او شاعرانه طبیعت مې همیشه د شعر په ویلو بوخت ساتلی.

د شعر ترڅنګ ممثل هم یم، تل به مې د خوږې ژبې او پښتو مګر له مانا ډکو الفاظو په وسیله ملګري میلمانه کېدل او د ملګرو مجلس به مې جوړوه.

له نهم ټولګي څخه مې په شعر ویلو پیل کړی، لکه څرنګه چې مې یادونه وکړه یوه تکړه ممثل هم وم نو زما شعرونه په لومړي سر کې طنزي او اصلاحي بڼه درلوده. مګر د لوړو زده کړو له پیل سره سم مې د شعر لوری بدلون وموند. د طنزي کلیمو او الفاظو کارول مې په شعر کې بند کړل. اوسمهال د نور کله خلاف، غزل، آزاد شعر، نظمونه او خاصتاً داستاني شعرونه په داسې بڼه لیکم چې د لوستونکو او اوریدونکو تنده پرې ماته شي.

شعر په ډېره ساده ژبه لیکم همدا سبب دی چې لوستي او نالوستي هېوادوال هم زما د شعر په ژبه پوهېدای شي.

د کلام بېلګه:

چې کړې هغه به رېبې

یوه کیسه مې اورېدلې له مشرانو

ګټوره پندوره ده یارانو

یو سړی چېرې یو کلي کې استوګن وو

د ژوند سختو سره مخ په زړه غمجن وو

له بچې سره یې تل شخړې او جنګ وو

د غمو په اور سېځلې و پتنګ وو

د ژوند سختو سره مخ لاس او ګرېوان وو

له خپل لاسه رسېدل ورته حېران و

نه په ژوند کې یې خوښي ونه لیدلې

نه له چانه ښه خبره اورېدلې

څکه دی وو ټولو خلکو پېژندلی

په ښه کار کړنه کې چا نه و لېدلی
د هرچا په لورې برګ، برګ یې کاته وو
د نفرت پنډونه زړه باندې پراته وو
تېرېدل پرې د ژوند مېاشتې او کلونه
پوخ عادت یې وو ښکنځلې او جنګونه
چې ځواني یې شوله تېره او بوډا شو
چې د خپل او د بل ټولو د خندا شو
چې یې عمر د زګېروو په بدرګه شو
له جنګونو خخه پاتې شو سوکه شو
د بچې د خپل او بل په قدر پوه شو
وخت پرې تېر وو هسې خوشې په چورتو شو
نه خبره یې په چا ښه لګېدله
خپل کاله کې یې خبر چانه منله
ټول په تنګ یې له ژوندونه له زګېرو وو
خپل بچې یې هم دوکې په سوجو وو
یوه ورځ بچې روان کړ د مرګ خولې ته
ورته وې ویل چې ځو شفاخانې ته
د بچې په خیال کې مرګ یې دریابې وو
غورځول د دریاب منځ ته یې حتمي وو
پلار خبر لالدې رازه خخه نه وو
لا خیالونه یې د ژوند سر کې پراته وو
چې نېژدې شول د دریاب غاړې ساحل ته
تېر وختونه شول وریاد د پلار قاتل ته
د بچې لور ته یې مخ کړ په وینا شو
رنګ یې ژړ شو په سلګو او په ژړا شو

ویل زویه په همدې ځای سمندر ته
مې ګذار کړه ځنګ ته ځم د خپل پدر ته
بچی ودرېده هک پک شو ویل پلاره
ځنګه پوه شوې لاخو پاتې ده ژوند لاره
لاګرېوان ځخه مې نه یې رانیولی
لاد سیند ځپو کې نه یې زنګېدلی
لاکبانو دې بدن نه ده ځکلی
د دریاب ژوو دې شړپ نه ده اورېدلی
ځنګه پوه شوې چې د ژوند شېبې ختمېږي
سمندر ته نېژدې کېږي لاکمېږي
د پلار اوښکې په ښو ولې پېلې
ځو ځناره تر ګرېوانه رسېدلې
په سلګو سلګو بچي ته په ګویان شو
تېر وختونه شول ور یاد هک او حېران شو
ویل زویه په کلو کلونو وړاندې
په همدې ځای مې په پلار وکړلې ساندې
زما پلار چې بوډا شوی وو بې توانه
په همدې ځای مې نېولی له ګرېوانه
په همدې دریاب لاهو مې کړ په خپله
حیا نه راتله له خپله اوله بله
په بې رحمه مې ګذار کړ دې دریاب ته
پام مې نه وو همدې ورځې دې حساب ته
چې له ماسره به هم همدا چلند شي
زما روح په دې دریاب کې په ختن شي
د بچي وېښتان یې جګ شولو له وېرې

ویل پلاره چې څه تېرې هغه هېرې
تا له ماسره چې کړي څه ظلمونه
په دنیا کې دې دوزخ کړل زما عمرونه
انتقام در څخه نه اخلمه پلاره
که مې واخیست زه به هم ځم په دې لاره
چې کړې هغه به ریبې همدا متل ده
که نن وکرم سبا خو یې ریبل ده

د لیکوال او شاعر اثار:
لاتراوسه مې کوم اثر نه دی چاپ شوی خو اثار مې د چاپولو په تمه انتظار باسي.

# احسان الله (احسان)

زه احسان الله ((احسان)) د غزني ولایت د قره باغ ولسوالۍ د باران کلا په کلي کې په ۱۳۶۴
هجري لمریز کال کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې. خپلې
لومړۍ زده کړې مې په خپله سیمه کې کړې دي چې اوس مهال د همدې ولایت مرکز د
ښوونځي په دولسم ټولګي کې زده کړه کوم. په ۱۳۸۳ هـ ل کال کې مې له شعر سره مینه
پیدا شوه چې تر اوسه مې (۱۵۰) پښتو شعرونه لیکلي دي. ددې تر څنګ اوسمهال د غزني
ولایت په مرکز کې د امیدجوان راډیو د پښتو څانګې په برخه کې کار کوم.

د کلام نمونه:

په دې مهلت کې به مې څوک تر هغه ښاره يوسي
څوک به په ما شي مهربان چې مې تر ياره يوسي
پښتون عاشق يمه هېڅکله پښتو نه ماتوم
مينه به کړم که مې منصور غوندې تر داره يوسي
لاس به له مينې نه وانخلم دا په جهر وايم
که مې ټولی د رقيبانو تر ښاماره يوسي
له هغې مينې به په شا لکه بلال نه شمه
که مې يهود او نصارا بيا تر سنگساره يوسي
لکه يوسف د زليخا چې مې په تور ونيسي
پاچا د مصر ته به څوک ما تر درباره يوسي
زه احسان سر به ترينه ځار کړم چې عاشق يم باندې
که مې خليل غوندې نمرود تر سره انگاره يوسي
(غزني ښار، پښتون آباد کلی)

د شاعر آثارو په برخه:
له هرې موضوع سره مې هم د هر شعرونه ليکلي خو تر اوسه مې د خپلو شعرونو ټولگه نه ده چاپ شوي خو لومړنی ټولگه مې د (د شپې اوښکې) په نوم، دويمه ټولگه د (د گودرجنازه) په نوم ناچاپ آثار دي چې لاتراوسه نه دي چاپ شوي.

# احمد شاه (ماکو)

زه احمدشاه ماکو د محمد توکل ماکو زوی ۱۳۵۱ هـ ل کال کې د غزني ولایت د خواجه عمري ولسوالۍ د جره کات په کلي کې سترګې دنیا ته غړولي دي. لومړنۍ زده کړې د غزني د شمس العارفین په ښوونځي کې او ثانوي زده کړې په پېښور کې د ډاکټر عمر شهید په لیسې کې ترسره کړېدي. په کال ۱۳۸۱ هـ ل کې د غزني ولایت د ځوانانو او کلتور ریاست کې د کتابتون د آمر په توګه په دنده پیل وکړ او له دې سره جوخت د راډیو تلویزون د پښتو څانګې ویاند او سربېره پر دې څه موده د سنايي اونیزې د تحریر دهئیت د غړي په توګه، همدارنګه د کلید اوونیزې او راډیو سره د خبریال په توګه پاتې شوی یم او تر اوسه پورې د ځوانانو او کلتور په ریاست کې کار کوم.

لنډې کیسې او څه ناڅه په مختلفو موضوعاتو باندې لیکنې کړې دي چې لاتراوسه نه دي چاپ شوي او لامل يې اقتصادي ستونزې کېداى شي.

# اسدالله (بلهار جلالزی)

نوم مې اسدالله (بلهار جلالزی) د غزني ولایت د انډړو ولسوالۍ د فاني بابا په کلي کې زېږېدلی یم ، په پښتو او دري لیکنې کوم خو کله کله شعر هم په خپلو ګوتو کې رانغاړم ، څه موده د سنايي اوونيزې مسؤل مدیر او د زمزمې د اوونيزې مرستیال او همدارنګه د لونګ د مجلې مرستیال پاتې شوی یم. همدا راز د افغانستان د اوونيزې خبریال هم وم. د تهران د راډیو کارکونکی وم اوسمهال په غزني کې د بي بي سي سیمه ایز خبریال یم.
له مطالعې سره مې مینه زیاته ده او لیکني هم کوم چې ځینې لیکنې مې د هېواد په بېلابیلو خپرونو کې خپرې شوې دي

د کلام نمونه :

د لارې لیونو دې له درباره وشړلم
زاهد په میکده کې له خماره وشړلم
پوښتنه د گودر مې له چناره ځینې کوله
تحسیب په قهر قهر له چناره وشړلم
د مینې په ستوتزمنو لارو ټینګ ږدمه گامونه
قسمت شو مرور زنې له داره وشړلم
د ا ونه مې تل له خزان ځینې ویرونه
دا هسک غضبي بیا هم له بهاره وشړلم
وخته دا یادونه راسره ساته په زړه کې
په جبر، جبر جبر دې له یاره وشړلم
په ورو ورو ترنګېدمه ددې غرونو په لمنو
نغمه ومه د مینې چاله تاره وشړلم
سحر ویل ماښام ته نن په چېغو چېغو راشې
په کومه یوه گناه دې له بلهاره وشړلم

زیات شمېر شعرونه مې لیکلي چې څه ناڅه یې په سنایي اوونېزه او ندای غزنه کې چاپ شوي خو د کتاب په بڼه مې تراوسه کوم اثر نه دی چاپ شوی او ناچاپ اثار مې دادي:
۱- مات بنګړي او مات ګودرې (شعري ټولګه) ناچاپ
۲- مقالې څه! (د طنزونو ټولګه) ناچاپ
۳- داسې دې درياد شم لکه ته چې مې یادېږې (شعري ټولګه) (ناچاپ)

# در محمد (سردارزی)

زه درمحمد « سردارزی » د سردارخان « سلطاني » زوی چې په ۱۳۲۲ هجري لمریز کال کې د غزني ولایت د واغز ولسوالۍ د ترنه په کلي کې نړۍ ته سترګې غړولي دي.
د ښوونځي له فراغت څخه وروسته د واغز د محمدخان د کلي په عالي لیسه کې دوه کاله د ښوونکي په توګه دنده ترسره کړې او بیا وروسته په ۱۳۸۳ هـ ل کال کې د غزني ولایت عالي دارالمعلیمن ته شامل او په ۱۳۸۴ هـ ل کال کې فارغ شوم. همدارنګه درې کاله مې دغزني ولایت د وکیل محمدجان کوچي په لیسه کې د ښوونکي دنده سرته رسولي ده او اوس د غزني ولایت د فرهنګیانو په ټولنه کې د نده لرم.

تراوسه پورې مې کوم شعر نه دی لیکلی خو ځو مقالې مې د هېواد او نورو ستونزو په اړه لیکلي دي چې لاتراوسه یوه یې هم نه ده چاپ شوي او په راتلونکي کې غواړم چې یې چاپ ته ورسوم.

# رحمت الله (طبيب زاده)

زه رحمت الله طبيب زاده د حاجي غلام محی الدين زوی د غزني ولايت د اندړو ولسوالۍ د غبرګلونو په کلي کې زېږېدلی يم لومړنۍ زده کړې مې د اندړو په ولسوالۍ کې کړې او ثانوي زده کړې مې په سنايي ليسه کې سرته رسولې دي همداراز لوړې زده کړې مې د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځی په پښتو څانګه کې کړېدي چې په ۱۳۵۲ هجري لمريز کال کې فارغ او له فراغته وروسته لس کاله د ښوونکي په توګه پاتې شوی يم. وروسته له دې چې هغه څه په هېواد کې رامنځته شو مخ مو بلې خوا ته واړوه او مهاجر شو د هجرت په موده کې مې مختلفې دندې سرته رسولې دي لکه په عدليې وزارت کې د اداري مدير په حيث او اوس د غزني ولايت د عالي دارالمعليمن د پښتو څانګې استاد په توګه دنده ترسره کوم.

نثري کلام نمونې ډېرې دي او په زياتو مجلو کې مخکښې راوتلي دي چې دبېلګې په توګه لونګ له غزني څخه دوه مياشتنۍ خپريدونکي مجله ده د ( څوک غوره کړو ) تر سرليک لاندې زما ليکنه غوره شوې ده .

# شیراحمد حیدر

شیراحمد حیدر د غزني ولایت په قره باغ ولسوالۍ کې په ۱۳۵۴ هـ ل کال کې زېږېدلی یم. لومړنۍ او ثانوي زده کړې مې د کډوالۍ په چاپېریال پېښور کې د سیدجمال الدین افغان په لیسه کې او د ثانوي دورې بری لیک مې په کال ۱۳۷۲ هـ ل کې دقره باغ د سلطان محمود له لیسې څخه لاسته راوړی دی.
په ۱۳۷۷ هـ ل کال کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو له پوهنځی څخه فارغ شوم، د پوهنځۍ له فراغته وروسته په بېلابېلو کلتوري ادارو او خپرونو کې مې کار کړی دی.
د یو کال په شاوخوا کې د کندهار په اطلاعاتو او کلتور ریاست کې، څه کم یو کال د پوهنې وزارت د خپرونو په ریاست کې. همدارنګه دوه کاله مې د کلید اوونېزه کې او دوه کاله مې په غزني ولایت کې دپژواک اژانس سره د خبریال په توګه دنده ترسره کړېده.

د لیکنې بېلګه :

مجرم( لنډه کیسه )

دا مې دربېمه شپه وه چې د هوټل په تیاره او یخه تل خونه کې مې تېروله، لاره چاره مې ورکه کړې وه نه پوهېدم چې پر کوم لوري وتښتم، په دې درېو ورځو کې مې تقریباً شل پلانونه وسنجول، خو ژر به بېرته پښېمانه شوم، یوازې یوه ګټه مې دا کړې وه چې په یوه ښه هوټلې اوښتی وم.

هوټلې پخوانی عسکري صاحب منصب ؤ، خو اوس یې د خپلمنځي جګړو له امله ، دولتي وظیفه پرې اېښې وه. او دیوې ګولۍ ډوډۍ پیدا کولو لپاره یې دا یو کال کېده چې دا هوټلګی پرانیستی ؤ.

هوټلې ته به ټولو خلکو ضابط صاحب ویل، ښه په کارپوه سړی ؤ، خو زما لپاره هم یو ښه مشاور و، ډېر زړه سواندي یې لرله سره لدې چې زما به یې هر ساعت احوال اخیست، خو په خپل کار کې هم ډېر مصروف و. ضابط صیب غلام نبي ښه ځوان ؤ ، په ونه نرۍ جیګ، خو په غوښه یو څه پټ و، د ضابط صیب د هوټل ټول نظم د هماغه عسکري پلان له مخې پر مخ تلو، هوټل ښه پاک، خواړه یې ډېر خوندور چې اوس له ده هم ښه اشپز جوړ شوی و ماته به یې ویل : او کله کله د خلکو د ودونو اشپزي هم کوم ډېرې پیسې راکوي، ژوند مې ښه دی.

بېګاه چې به کله د خپل هوټل له کاره بې غمه شو نو ماته به راغی، یو ساعت خواله به یې راسره وکړه، زما د خلاصون لپاره یې په دې دریو ورځو کې څو طرحې راته وړاندې کړې، بلکې ترپایه یې راسره د مرستې ژمنه هم وکړه .

زه اوس له تېرو دریو ورځو رایسته د یوه مجرم په توګه د ضابط صیب د هوټل په کې تل خونه کې پروته وم. د پولیسو او پټو حکومتي څارګرو تر تعقیب لاندې وم، پر ما دا تور و چې په یوه دولتي اداره کې مې د تشریفاتو د څانګې په مېلمستون کې څو تنو مېلمنو ته په خوړو کې زهر ګډ کړي و، په دې مېلمنو کې په څو تنو کورنیو مېلمنو سربېره شپږ تنه یې بهرنیان وو، زه اصلاً د تشریفاتو مسؤل وم، خو د ډوډۍ پخول او تیارول د نورو کار ؤ، اوس چې مېلمانه

بېخوده پراته وو، نو په دې تور زما لمن هم ککړه شوه چې ګویا له اشپزانو او د مېلمستون له نورو کارکوونکیو سره مې لاس یو و ، اشپزان او څو تنه د مېلمستون کارکوونکي په هماغه لومړي ساعت کې نیول شوي وو، خو دې نیول شویو کسانو اوس زما ګوته هم نیولې وه.

زه باید نه وای تښتېدلی، او د هماغه لومړي ورځې په تحقیقاتو کې مې ځان سپین کړی وای، خو زه له دې وېرې وتښتېدم چې په حکومت او نظامي څانګو کې چنداني د پلټنې قانون نشته . نو تر یو کال پورې دې ولاکه دوسیه خلاصه شي، بس همدا تېښته مې غوره وبلله. تر تېښتې یوه ورځ وروسته د ضابط صیب په واسطه خبر شوم چې په زهر خوړلو مېلمنو کې درې تنه بهرنیان او دوه تنه کورني مېلمانه مړه شوي دي، اوس نو که غل هم نه وم خو په غره کې مې ځای ورک وو.د ضابط صیب هوټل په دوهم پوړ کې د مساپرو لپاره څو کوټې هم لرې، خو زه له دې دریو ورځو راهیسته یوازې په کوټه کې پروت وم، دا له ماسره د ضابط صیب مرسته وه چې پټ مې وساتي او څوک مې ونه ویني.

پلان داسې وو چې زه باید د څلورمې ورځې سهار وختي د ضابط په مرسته او مشوره له کابله غزني ته تښتېدلی وای، خو دا پلان هغه وخت ګډوډ شو، چې اندېوال ضابط هم راباندې بد ګومانه شو. د څلورمې ورځې په سهار وختي چې زه تازه له خوبه راوېښ شوی وم او د ضابط صیب د راتګ انتظار مې ایست، نو دپاس کوټې درې تنه مساپر چې دوه یې ښځې وې ، یو ماشوم ورسره و یوه ښځه په دې ګومان چې زما کوټه به تشناب وي را ننه وته ، په کوټه کې تپه تیاره وه، زه یې نه لیدلم، دې په دېوال لاس تپول او زما خواته را روانه وه، زه هم نه پوهېدم چې څه وکړم او څه ورته ووایم، دا له ځانه سره بنګېده ، خو زه یې په خبره نه پوهېدم او له دې سره نوره هم ماته رانږدې شوه، پرما یې لاس ولګېدو، له وېرې او وارخطایي یې یوه چیغه له خولې ووته او له دې سره ضابط صیب او له ښځې سره ملګري سړي زما کوټې ته را منډه کړه ، ښځه یې زبون وهلې تر لاس ونیوله زما له کوټې یې وویستله ، زه لکه بت پټه خوله د کوټې په کونج کې ولاړ پاتې شوم.

شل دقیقې وروسته څلور تنو پولیسو سترګې را پلستر کړې، لاسونه یې تر شا راوتړل له هوټله چې ایستلم یوه پولیس راته وویل : مونږ نن دریمه ده په دې مجرم پسې ټول ښار ولټوه خو ضابط ورته وویل : دا دې ماهم په لاس درکړ.

زما لاجرم ثابت نه و او نه کوم قاضي او محکمې زما د جرم سزا راته ټاکلې وه، خو د نیم ساعت لارې په اوږدو کې چې د نوي زندان تر تل خونې پورې رسول کېدم، په موټر کې د پولیسو د ټوپکو تر قونداغو لاندې مې درنه سزا ولیدله. له تندي او خولې مې وینې روانې وې او څو ځایه مې بدن د وهلو ټکولو له لاسه سخت خوږېدو. پولیسو راته وویل : یو خو د څو تنو قاتل یې او بل دې په جرم د پاسه بل جرم، ته باید داسې سزا ووینې چې نه ژوندی شې او نه مړ. نه پوهېدم چې کوم ځای به ، خو هماغه تیاري او هماغه یوازې کوټه ، خو دلته زما په څېر ډېرو کسانو په تور تیارو کې د ناځرګند برخلیک او ناهیلو سزا ګانې لیدې.

په پنځم سهار مې کوټې ور پرانیستل شو او درې تنه له لاسې بکسو سره راننه وتل، پوه شوم چې ایله مې نن دتحقیقاتو دوسیه پرانیستل شوه، په لومړۍ پوښتنه کې دا خبره وه ، چې ولې وتښتېدې ؟ خو تحقیق کوونکي دا راته وویل : ستا جرم پوره ثابت نه دی، ته د مېلمستون د اشپزانو او څو تنو کارکونکیو له لورې د وژنې په تور ککړ یې او ویلې دي، چې په ډوډۍ کې زهر تا ګډ کړي و، درېیمه پوښتنه دا وه ، چې پر جرم سربېره جرم، له ما دتحقیق په لومړي سهار یوازې دا درې پوښتنې وشوې، خو ځواب یې سبا ته راځخه وغوښتل شو.

زه سره له دې چې بې جرمه بندي وم، خو خپل برخلیک ته زیات ځورېدم، ناروغ هم وم او دپولیسو له لاسه د وهلو ټکولو له امله د زخمونو درد هم ناکراره کړی وم. له همدې درانه فشار سره سره مې د سبا لپاره دریو پوښتنو ته په ذهن کې ځوابونه جوړول رنګول، دهمدې ورځې په ماښام ناوخته ، دبندي خانې یوه کارکوونکي ډوډۍ راوړه، کاسه یې ترمخ راته کېښوده وې ویل : انجینر جمال ته یې ؟ ما د هو په اشاره سر ورته وښوراوه، خو ده خبره اوږده کړه : تاته چې په هوټل کې کومه ستونزه پیدا شوې وه، د هغې په اړه څه فکر کوې ؟ ما د ډوډۍ لوښی ځان ته رابېرته کړ و مې ویل : ددې خبرې ځواب له ما سبا پوښتل کېږي، زه به سبا ځواب ووایم او ته به هم خبر شې، په زړه کې مې دا راتېرېدل چې دی د زندان کارکوونکی نه بلکې کوم پلټونکی دی، خو ده خبره اوږدوله وې ویل : زه دا درته وایم چې ته به څه ځواب وایې ؟

ما ورته وویل : که ته د سهارنیو دریو تحقیق کوونکیو استازی یې نو ځان را وپېژنه، چې ځواب درته ووایم او که کوم کارګر یې نو څه خپل کار دې کوه، ورته ومې ویل : زه مجرم نه یم نو د هېڅ جرم په اړه فکر هم نه کوم، زه یو بې ګناه بندي یم.

ده شاوخوا وکتل یو څه رانږدې شو وې ویل : هو! ته بې ګناه یې او زه خواخوږي درسره لرم او هم درسره مرسته کولی شم، ما پورته ورته وکتل ده پسې زیاته کړه : هغې ښځې ویلي چې دا په ناپوهۍ ددغه سړي کوټې ته ورغلې او دده په کوټه یې دهوټل د تشناب ګمان کړی و، نو اوس ستا د خلاصولو لپاره له ښځې سره ملګري سړي او دهوټل خاوند په ګډه هڅې پیل کړي ، سړي دا خبره وکړه او له کوټې ووت، په ما پسې یې له شا ور کولپ کړ. زه په لومړیو کې یو څه خوشاله وم، پوهېدلم چې د سبا لپاره مې د یوې پوښتنې ځواب پیدا کړی او دلوبې د ګټلو پای ته نږدې شوی یم، خو ډارېدم چې هسې نه لوبخاري قضاوت بدل کړي. غرمې ته لا وخت و، چې پروني درې کسان کوټې ته راننه وتلو دوسیې یې پرانیستلې پرته له دې چې ما څخه د پرونیو دریو پوښتنو ځواب وغواړي یو یې چې لنډ چاغ سړی و، زېړې عینکې یې پر سترګو وې راته وویل : سره له دې چې جرم دې ثابت نه دی خو پټې محکمې پرېکړه وکړه چې ته به پنځه کاله بند او دوه لکه افغانۍ نغدې جرمه پرې کوې، حیران پاتې شوم، چې څه ووایم او پټه محکمه یې لاڅه بلا ده ، خو چې دوی ولاړېدل ومې ویل : ولې پرونۍ درې پوښتنې بېځوابه پاتې شوې، یوه یې چې لږ له ونې جګ او خړ پټکی یې په سر و مخ راواړوه وې ویل : پټې محکمې هغه درې پوښتنې رد کړې او له دې سره ووتل زما کوټه یې له شا راپسې وتړله.

اوس مې نو بیخي تمه وخته، خو دا هیله مې لاوه چې څارونکي او ساتونکي مې راته ویلي و په هوټل کې ښځه ستا کوټې ته په غلط فهمۍ د رننه وتې وه او هم له ښځې سره ملګري سړي او ضابط مې د خوشې کېدو هڅه پیل کړې وه خو یوه خبره لادا هم وه چې تر اوسه پورې د هغه ادارې څوک نه و راغلي چې ما په کې کار کاوه، خو دا تمه مې وه چې یوه ورځ به د تشریفاتو د ریاست په نوم او داصلي جرم د څېړنې لپاره رسمي پلټنه پیل کېږي.

څو ورځې وروسته چې لازما د ښه او بد هېڅ لوری نه و مالوم، غرمه مهال څلور کسه کوټې ته راننه وتل او پرته له دې چې څه راته ووایي زما ترلې لاسونه یې راخلاص کړل، سیخ یې له ځانه سره بوتلم، زموږ د ادارې د غونډو تالار ته یې وروستم، په تالار کې شاوخوا پنځوس کسه ناست ؤ، زه پوه شوم چې اوس اصلي دوسیه پرانیستل کېږي، مخامخ یې پر ستیج باندې ایښې چوکاټ باندې کېښنولم، لومړی یې رانه وپوښتل شول چې زما د تېښتې له ورځې تر نن پورې ټول جریان ورته ووایم.

ماته له اوله ځان بې ګناه ښکارېده او چې څنګه راڅخه پوښتل شوي و، نو مې ټوله کیسه ټکی په ټکی ورته تېره کړه، یو څو کسان چې زما تر څنګه ناست وو، زما خبرې یې لیکلې، پر ناستو کسانو مې شاوخوا نظر واچاوه، د دولت ځینې لوړ رتبه کسان، د وژل شویو مېلمنو بهرنیانو د هیوادونو ځینې استازي، زموږ د ادارې مشران چارواکي او شاته لرې په چوکیو کې مې لیدل، چې ضابط صیب او له ښځې سره ملګری سړی چې ماله تر دې مهاله په نامه نه پېژانده ناست و، خبرې مې خلاصې کړې د ځواب د اورېدو په تمه کېښناستم.

زما له خبرو ورسته سمدستي زما تر څنګ په ستېج ناست یو کس چې زما خبرې یې لیکلې وویل : ستا دوسیه بشپړه شوې، د څو ورځو پر له پسې څېړنو وښوده چې ته بې ګناه یې خو جرم دې شته او هغه ستا تېښته وه، چې ستا جرم یې ثابتاوه، له بله پلوه د څېړنو په جریان کې ستا د ریاست کارکوونکیو او څو تنو اشپزانو په ډوډۍ کې د زهرو په ګډولو اعتراف کړی او په دې کې زموږ د هېوادونو استازیو ته تسل وایو او اصلي مجرمین به مجازات کوو.

خو وروسته یې یوه خبره دا ورزیاته کړه چې انجینرصیب به تر یو کال پورې په هېڅ دولتي اداره کې د دندې د ترسره کېدوه اجازه ونه لري، ماته یې وکتل وې ویل ګناه ګار نه یې خو د تېښتې جرم دې شته.

له لنډو کیسو ، شعرونو او ادبي لیکنو سره مېنه لرم او هم مې لیکلي او لیکم یې چې د لنډو کیسو یوه ټولګه، یو ناول او د لنډو کیسو په اړه ژباړه مې چاپ ته تیار دي او یو ناول مې تر کار لاندې دی.

۱- ببرېوان ( ناول) چاپ ته تیار.

۲- د لنډو کیسو لیکلو لارې ( ژباړه) چاپ ته تیار

۳- د لنډو کیسو ټولګه تر کار لاندې.

۴- شعري ټولګه ( ناچاپ)

## عبدالصمد ((غزنوي))

زه عبدالصمد ((غزنوي)) د عبدالرازق زوی د غزني ولایت د قره باغ ولسوالۍ د دهګانانو د کلي اوسیدونکی په کال ۱۳۴۳ هـ ل کې په نوموړي کلي کې زېږېدلی یم

په کال ۱۳۵۰ هـ ل کې د لمړنیو زده کړو لپاره د سلطان محمود لېسې لومړنې ښوونځې کې ګډون او تر کال ۱۳۵۷ هـ ل پورې مې خپلې زده کړې له دوېم ټولګي څخه تر نهم ټولګي پورې په دوېمه درجه کې پای ته ورسولې خو دانقلاب د بدلونونو د رامنځته کېدو سره د کډوالۍ په بهیر روان او په پېښور کې د دارالانشاپه دفتر کې مې کار کاوه او له دریو کالو وروسته بیا بېرته وطن ته راستون او په عملي جهاد مې لاس پورې کړ، له درې نیمو کالو جهاد وروسته د

خپل منځي جګړو له امله بیاد سفر پنډه وتړله او تر کال ۱۳۸۰ هـ ل پورې د پاکستان د کراچۍ په ښار کې مې ژوند کاوه، چې په کال ۱۳۸۱ هـ ل کې د قره باغ ولسوالۍ د پوهنې مدیریت سره تړاو پیدا کړ چې همدا لړۍ تراوسه پورې دوام لري او اوس هم د قره باغ د پوهنې مدیریت سره تړاو لرم.

د کلام نمونه:

د سترګو رپ

زه یم باریک بینه یوه ذره راته لوی غر ښکاري
ماته د اسمان د اوبو څاڅکي سمندر ښکاري
عقل مې حیران شي چې ذرې د وړانګو وینمه
هره یوه ذره کې د جانان ښایسته بشر ښکاري
ناغ چې یې د خاورو وي او خاورو ته ورتیټ نه شي
سپین ځلانده ستوری د اسمان د غره په سر ښکاري
دې دنیا کې خان دی که ګدا ،فقیر، ملنګ بابا
خاورو له چې ورشي لاروي د یو ګودر ښکاري

شعرونه ډېر لرم خو د اقتصادي ستونزو له امله و مې نه شو کولای چې یا یې چاپ او یا یې له کومې ادبي او کلتوري ټولنې ته د ګډون لپاره ورکړم.

# محمد ابراهیم (خاني خیل)

نوم مې محمد ابراهیم د پلارنوم مې حاجي محمد رحیم او تخلص مې خاني خیل دی چې په ۱۳۳۹ هجري لمریز کال کې د غزني ولایت د اندړو ولسوالۍ د خاني بابا په کلي کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستې.

لومړنۍ زده کړې مې د علي هجویري په ښوونځي کې لوستلي او ثانوي زده کړې مې د سلطان شهاب الدین په لیسه کې بشپړې کړي دي ، د لوړو زده کړو په امید د خپلې خوښې او انتخاب سره سم د ژبې او ادبیاتو پوهنځي ته بریالی شوم. ددې پوهنځي په دوهم ټولګي کې وم چې د

وخت ناخوالو مې تحصيلي لړۍ پرې کړه او پخپل کور کښېناستم په دې وروستيو کلو کې درسمي دندو په لړ کې لومړۍ د غزني ولايت مرکز د سنايي عالي ليسې مدير او بيا د همدغه ولايت د پوهنې او روزنې رياست د نظارت امريت دنده راپه غاړه شوه، همدا راز د دووکلو راهيسې د سنايي ورځپاڼې په ترکيب کې هر ځل دوه مضمونه او مقالې ونده لرم چې دا لړۍ مې د قلمي زيار په برکت جاري ساتلې او په مختلف ډول مې ډېر مضامين د هېواد په بېلابېلو خپرونو کې چاپ شوي.

د هدايې معتبر کتاب مې په پښتو ژباړلی او هم مې د وطن مينه، او زما د نظر هينداره دوه ټولګي د چاپ په هېله پراته دي.

د کلام بېلګه:

معلم وپېژنئ

هغو چا چې د زمانې نوابغ روزلي او لـه کوچنيو شاګردانو څخه د طبيعت په برلاسی د غرونو ورمېږونه مات کړي او بحر فضا يې د يوې منډې ميدان کړه دا دمعلم نوښت ګره ښوونه ده.

هغو چا چې تهذيبي هنګامې ګرمې کړې د طبيعت رنګ او ونګې تـه يې تغير ورکړل، پـه مجهولاتو يې ساينسي او فلسفي عملي د تجربې لـه قلمرو سره ويستلي دا ښاغلی معلم دی. هغه څوک چې د الله ګران رسول يې په انتساب وياړي او د ګمراه بشريت د لارښوونې لپاره معنوي ډېوه په لاس څمڅمنه لار روښانوي و پوهېږئ چې دا خيرخواه او خيرانديش معلم دی. د ننی دنيا او د عصري اتوماتيک قدرت د ابتکار جوګه او دحيرانوونکو ساينسي اختراعاتو لامل هغه ستر انسان دی چې په معلم سره شهرت لري چاته چې د زمانې لوی امپراطوران د تاج او بخت خاوندان د احترام په خاطر څوګامه د مخه د تعظيم سر ټيټوي او د لاس مچوني حق يې په ځان فرض ګڼي نو دا لوی شان معلم ته رسيدلی دی.

هغه څوک چې کرۍ شپه د ښه مضمون شعر او فورمول په هيله لټ په لټ خوب حرام بولي ځکه سبا دشاګردانو د ځواب او زده کړې مسؤليت په غاړه اخيستی دی نو ګومان کوم دا سپېڅلې دنده معلم ته رسيدلې ده.

هغه څوک چې نه سره لري نه سپین نه بېلډینګ لري نه اپارتمان نه پېجارو لري نه لنډکروزر ولې دا هرڅه دده د هڅو او هاند په نتیجه کې د بشري سعادت لپاره پېرزو شوي دي نو دا سخي او پېرزو کړی شخص معلم دی. له هلکتوبه تر ځوانۍ او له ځوانۍ تر مرګه دده هغومره مزد چې دیوې غوړې مړۍ او اوبو ذمه نه شي وهلی حتی پس له مرګه هومره پانګه نه لري چې د کفن غمه یې وخوړه شي دا څوک دی دا افغانی معلم دی او معلم دی.

# محمد هاشم (بهادري)

نوم مې محمد هاشم تخلص مې بهادري د پلار نوم مې مولوي بهادرخان د غزني ولایت د قره باغ د ولسوالۍ د باران کلا د کلي اوسېدونکی یم. ایله مې تر اووم ټولګي پورې زده کړې کړې دي او نور د انقلاب د ناخوالو له کبله له رسمي زده کړو څخه بې برخې پاتې شوی یم. په ۱۳۲۱ هـجري لمریز کال کې پېښور ته لاړم او هلته مې کلتوري نړۍ ته مخه کړه ، د ښو لیکوالانو او شاعرانو تر اغېزې لاندې راغلم او ورسره پخپله هم لیکنو اوشعر ته وهڅېدم او له هغه راهیسې مې خدای شته یو څو شمېر لیکنې کړې دي. په ۱۳۷۲ هـ ل کال کې د کندهار د طلوع افغان اوونېزې مسؤل شوم او په ۱۳۷۷ هـجري لمریز کال کې د غزني ولایت د سنایي اوونېزې مسؤلیت دنده راپه غاړه شوه. په کال ۱۳۸۸ هـ ل کې د غزني راډیو مسؤل او په ۱۳۸۱ هـ ل کال کې مې د غزني په راډیو تلویزون کې د ویاند او لیکوال په توګه دنده درلوده خو اوس مې د یو شمېر کورنیو ستونزو له امله رسمي د نده نشته

یوه وړه شعري ټولګه او یو ژباړلی کتاب د چاپ لپاره تیار لرم او د بیا لپاره به انشاءالله د قلم خوځولو ته دوام ورکړم.

د کلام بېلګه:

خدایه څومره وي، ظالم خمار د سترګو
نه روغېږي په درمل ګذار د سترګو
نه روغېږي د دنیا په دارو ګانو
خدای دې نه که څوک په زړه بیمار د سترګو
خدای دې څوک د تورو سترګو هدف نه کړي
خطا نه ځي له هدفه وار د سترګو
د د وزخ د اور له زوره پناه غواړم
ما لیدلی په دنیا کې نار د سترګو
د یوه نظر سوغات یې عاشقي وي
ګوره عین پادشاهي وي کار د سترګو
د نرۍ ګلونه واړه ښایسته وي
ولې نه به شي پیدا ګلزار د سترګو
دا پېغام مې هغو سترګو ته حضور کړه
د هاشم ځواني دې شه نثار د سترګو

د لیکوال اثار:

۱- اسلامي وروروليي څه شی ده؟ (ناچاپ) (له فارسي څخه پښتو ته ژباړه)
۲- د ماشوم روزنه. (ناچاپ) (له بیلابیلو کتابو څخه ژباړه)
۳- شعري ټولګه. (ناچاپ)

# محمد هاشم عثماني

زه محمد هاشم «عثماني» د عبدالحق خان زوی د غزني ولایت د اندړو ولسوالۍ د خاني بابا د کلي اوسیدونکی یم. په ۱۳۳۰ هـ ل کال کې مې د وجود بنیاد کېښودل شو، تر دولسم ټولګي پورې مې باقاعده زده کړې کړي د د ولسم ټولګي له فراغت وروسته مې د ګران هېواد د خدمت لپاره ملتې را بډ وهلي نږدې ۳۲ کال مې په بېلابېلو پوستو ماموریتونه تر سره کړي دي او هم مې په دې اوږده دوره کې د قلم یارانه ټینګه ساتلې. تل مې د هېواد له جریدو او ورځپاڼو سره همکاري کړې. په غزني کې د زمزمه جریده چې زما ابتکار یو څه خلا ور وبښله او اوس مې د ډېرې کتابچې په طنزونو، لنډوکیسو او ادبي مضمونونو ډکې کړي دي او د چاپ لپاره یې لاس تر زنې ناست یم

څنګه چې زما مضامین اوږده دي نو له همدې کبله و مې نه شو کړای چې په دې ځای کې یې د نمونې په توګه ور وټومبم

د ليکوال اثار :

اثار مې تراوسه په مجلد ډول نه دي چاپ شوي خو په مختلف ډول يې د هېواد په اکثرو مجلو او جريدو کې مې ليکنې خپرې شوي دي.

که چېرې وخت راسره ياري وکړه نو په راتلونکي کې به خپلې ليکنې د يو کتاب په ډول لوستونکو ته په مخ کې کېږدم، تر هر څه په طنز ليکلو کې مې قلم خپله څوکه خورا په مهارت سره کنټرول کوي.

# محمد گل (کوچی)

محمدگل کوچی د وکیل محمد جان کوچي زوی په کال ۱۳۳۵ هجري لمریز کې د کوچیتوب د لالهانده ژوند په بهیر کې زیږېدلی یم. له لومړی څخه تر دولسم ټولګي پورې مې د کابل د رحمان بابا په لیسه کې زده کړې ترسره کړي او دلیسانس دیپلوم مې په لومړی درجه د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی د پښتو ژبې او ادبیاتو په څانګه کې ترلاسه کړی دی. د ژبو او ادبیاتو د ماستری د لومړی دورې (۱۳۴۲ - ۱۳۵۲) ممتازو فارغانو د کانکور په ازموینه کې د عمومي اول نمره په توګه بریالی شوی وم. خو په ګران هېواد کې د کمونستي فتور د ناوړه شرایطو او ناخوالو له کبله مې په بشپړه توګه دغه تحصیلي دوره پای ته ونه شوه رسولی.

له ۱۳۵۲ هـ ل کال څخه تر ۱۳۵۸ هـ ل کال پورې د پښتو د نړیوالو څېړنو مرکز د علمي غړي په توګه دنده ترسره کړې ده.

له ۱۳۸۰ هـ ل څخه تر ۱۳۸۱ هـ ل کاله پورې د غزني د ښوونکو روزنې د مدير او دسنايي ليسې د استاد په توګه.
له ۱۳۸۱ هـ ل څخه تر ۱۳۸۴ هـ ل کاله پورې د غزني ولايت د پوهنې ريس په توګه دنده ترسره کړې، همدارنګه مې د غزني ولايت د فرهنګيانو د يووالي د ټولنې او د غزني د کوچي قومونو د شورا د افتخاري رياست دندې ترسره کړيدي.
د بېړنۍ لويې جرګې او د اساسي قانون د تصويب په لويه جرګه کې مې د غزني، پکتيکا او باميانو ولايتونو د منتخب استازي په توګه ونډه اخيستي ده .

د کلام نمونه :

عقل به اېرې کړم ، که مې ګران وطن ودان شي
د پوهې په ګېنه باندې مې ښکلي افغانان شي
عزت د ځان او قام دی، په کمال پورې تړلی
چې يې جهل شي په برخه، نو غلام د نور جهان شي
دا لويدلی ولس خدايه، له سيلاتو سره سيال کړې
د ژوند لوی آرمان مې دادی، که مې سر دغه ارمان شي
د ورورۍ احساس پيدا کړې، ددې خاورې په بچو کې
څو د کرکې تغر ټول شي، په کې جوړ امن و امان شي
دا مو کور دی ، دا مو ګور دی، دا مو روح دی، دا موتن دی
هغه لاس تر متو شنه کړې، چې پيرزو يې په تاوان شي
ژېړ ګلونه د ګلشن مو، خزانېږي، لا رژېږي
ځکه اوښکې لارې، لارې، مې راتويي په ګرېوان شي
په (کوچي) به دوباره شي، هغه تېره خواني غبرګه
چې تباه او پوپنا يې، له رمې خونې ليوان شي

۱۳۸۵ هـ ل کال د تلې اوولسمه

د ليکوال ناچاپ اثار:

۱- په اوسنيو کوچيانو کې د پخوانيو اريايانو کلتوري بېلګې

۲- د ستړې قافلې په نوم د اشعارو جونګ

۳- په ځينو شرقي ادبياتو کې د شاعرانه تصلفاتو ( باتې ) بېلګې .

او په سلګونو نورې علمي او تحقيقي چاپ شوې مقالې او مضامين .

## محمد عارف (روان)

زه محمد عارف روان نژدې اته ویشت (۲۸) کاله وړاندې د اندړو په ولسوالۍ کې دې دوړنې نړۍ ته د ژوند لومړنۍ ګام د محمد رسول خان په کهاله کې کېښود. هغه د انقلاب په سوځنده بټۍ کې مې د خوانۍ ترخې او خوږې سبا کړې د کلیوالي محیط په چاپېریال کې مې لومړنۍ ابتدایي دوره ولوستله د زیاتې معنوي لړۍ د استحکام په اړه مې لیسه او پوهنځۍ د کابل په زړه کې بشپړه کړه. څنګه چې خانګړې دنده مې ژورنالیستي او ډیپلوماتیکې زده کړې دي نو له فراغته سره جوخت مې د غزني ولایت د اطلاعاتو او کلتور په ریاست کې د آژانس په لوی مدیریت کې ومنل شوم او ورسره د راډیو تلویزون د پښتو او دري ژبو د نطاق دنده ترسره کوله. او د نطاقۍ په اصولو اړوند کرکټرونه د ډېرو لپاره په زړه پورې وو او په لنډ وخت کې مې د

دغه ریاست په ډېرو پوستو کې مې قلم وچلېده او اوسنۍ وظیفه مې د ټول ریاست د اداري چارو مدیریت خدمت دی او همداراز اوسمهال د زمزمه د مدیر مسؤل په حیث کار کوم.
ازادۍ او خپلواکۍ سره مینه لرم او له ټولنیزې بدبختۍ څخه رنځ وړم. د هېواد د بیا ودانول او د ځوانانو هڅې په دې برخه کې لازمې گڼم او دا هیله لرم چې افغانستان د سولې او روغې په رڼا کې پرمختگ وکړي. له ادب او کلتور سره مې هم مینه زیاته ده شعرونه او لیکنې لیکم.

د لیکوال د کلام نمونه:

دیار خیال

خیال چې د یار راشي واړه خیال راځنې تښتي
سترگې یې رایادې کړم هلال راځنې تښتي
اثر دکوم جادو ده چې پرې هسې زه شیدا یم
هر څه رانه هیر شي سر اومال راځنې تښتي
د حسن قافلې یې همیش ما لوټ او تالاکا
په مینه کې یې عقل او کمال را ځنې تښتي
تازه نوی بهار یم زه دخیال له برکته
شړلی مې خزان ده او شمال راځنې تښتي
جانانه زه دې کړمه سکنۍ ورور د مجنون
دا ستا له حسنه پرته نور جمال راځنې تښتي

چاپ شوي اثار نه لرم خو ناچاپ اثار مې ځنې مقالې او شعرونه دې چې لاتر اوسه راټول شوي نه دي.

# محمد زمان

زه محمد زمان د ارواښاد حاجي محمدانور زوی چې په کال ۱۳۴۱ هـ ل د قوس په ۱۴ نېټه دچهارشنبې په شپه د قلعه نو خواجه روښنايي غزني په کلي کې دې نړۍ ته سترګې وغړولې او په همدغه کلي کې اوسېږم. د سنايي عالي ليسې د دولسم ټولګي څخه په کال ۱۳۵۹ هـ ل کې فارغ شوی يم او د امنيتي ستونزو او دشوروي اتحاد د تيري له کبله له لوړو زده کړو څخه پاتې شوم. د ښوونځی له دورې څخه تراوسه ليکنې ليکم چې دا ليکنې په پښتو، دري ژبه باندې دي چې داستانونه، ټوکې او تمثيلي کوميډي پارچو څخه عبارت دي

د کلام نمونه :

## د ورکې یو ضروري اعلان (طنز)

یوه اندازه پیسې او یو عدد موبایل د جنت گل ماما څخه د ولایت او قوماندانۍ د سرک ترمنځ ورکي شوي دي او که چا پیدا کړي وي، نو دخپل ایماني او وجداني وجیبې په لحاظ دې دغه موبایل په خپل پوښ کې دې ښه وساتي او گرد او غبار ته دې دهغه پر مخ اجازه نه ورکوي ځکه زه خفه کېږم هو یوه خبره مې اوس فکرته راغله چې د کوچنیانو د لاس څخه یې وژغوري ځکه ماشومان یې په قدر نه پوهیږي او بې موجب یې توکړې توکړې کوي، او بله دا چې تر هغه مې هم بله ضروري خبر را په یاده شوه چې پیسې د ضرورت په اندازه مصرف کړئ ځکه چې بې ځایه مصرف کول اصراف عمل دی تاسې خبریاست چې اصراف په شریعت کې یو ناروا کار دی خدای مه کوه چې گنهگار نه شي موږ د دغه اعلان په اورولو سره تاسو مبارک حضورته ډاډ درکو چې اجناسو د پیداکولو په وخت کې هیڅوک هم په خپلو سترگو لیدلی نه یاست که مو له دې کبله کوم تشویش زړه ته لویدلی وي او زړگی مو ناقراره وي او یا مو خپل اصلي رنگ د مخ څخه الوتی وي نو ددغه راډیو یې اعلان په اوریدلو سره مو خپل طبعې عادي حالت ته راوگرځئ، اوس ستاسې کولای شئ چې په مستقیمه توگه لکه خپل مال دشیانو څخه استفاده وکړئ ځکه ددغه اجناسو پیداکول ستاسو د سترگو او فکر کمال او حاصل دی موږ خپل غاړه نه بندوو موږ د هوا دځپو له لارې د ورکې د اعلان د اورولو نه وروسته ستاسو د گران حضور نه رخصت غواړو، د محشر تر ورځې پورې خدای په آمان..

آثار:

زما لیکنې په تیت او پرک ډول د سنایي په اخبارو کې او په نیسان مجله کې چاپ شوي دي خو په مجموعي توگه د اقتصادي ستونزو له امله نه دي چاپ شوي.

# نصرالله (رحیمي)

نصرالله «رحیمي» د متقاعد ولسوال عبدالکبیرخان زوی په ۱۳۵۳ هـ لمریز کال د غزني ولایت د اندړو ولسوالۍ د یعقوب په کلي کې زېږېدلی یم. لومړنۍ زده کړې مې د کابل ښار د جمال مینې په لومړني ښوونځي کې پیل کړي او بیا مې د جنګلک (باغ رئیس) د ایمني په منځني ښوونځي کې زده کړو ته دوام ورکړ او په ۱۳۷۱ هـ ل کال کې د کابل ښار د حبیبې د عالي لیسې څخه فارغ شوم.

د کورنیو جګړو له امله مې هماغه کال خپل پلرنی ټاټوبی یعنې د غزني ولایت د اندړو ولسوالۍ ته کډه وکړه. وروسته د یو لړ ستونزو له کبله د لنډې مودې لپاره د پاکستان د کوټې ښار ته لاړم، بیا مې د ناسمو حالاتو له امله ونشوای کولای تر څو په لوړو زده کړو پیل

وکړم، نو مې په ۱۳۷۴ هـ ل کال د خپل کلي په شهید مولوي سلطان محمد لیسه کې د ښوونکي په توګه دنده پیل کړه.

په کال ۱۳۷۸ هـ ل کې مې د کانکور په آزموینه کې ګډون وکړ او دخپلې خوښې سره سم د کابل د طب انستیتوت د اطفالو د طب پوهنځی په ۱۳۷۹ هـ ل کال پیل کړ او اوس د کابل د طبي پوهنتون د نوموړي پوهنځی د وروستي سمستر شپې او ورځې سبا کوم.

د ښوونځی پر مهال مې له ادب سره مینه درلوده کله نا کله به مې د حبیبې په لیسه کې او همدارنګه د ایمني په منځني ښوونځي کې ادبي غونډو ته ځان رساوه چې ځینې لنډې مقالې او شعرونه مې د کابل په جګړو کې د اور خوراک شول.

دادی بیا مې هم د پوهنځی په دوران کې شعر ته مخه کړې تقریباً د پنځوسو په شاوخوا کې معاصر شعرونه او غزلې لرم، ځینې شعرونه مې په پیام مجله، هوسۍ او نورو مجلو کې چاپ شوي دي او که خدای (ج) کول په راتلونکي کال کې به مې یوه شعري ټولګه چاپ ته تیاره شي.

د شعر یوه بېلګه:

بې وفا دردونه

خوبونه بې وفا شول، خیالونه بې وفا شول
داغونه ستا د مینې پرهرونه بې وفا شول
نن منی راستون شوی زما د زړه په چمنونو
پسرلی بې وفا شو سره ګلونه بې وفا شول
تا سترګې تورولې زما زړګی ؤ پرې روښانه
د سترګو به څه وایم کجلونه بې وفا شول
زما د بخت هما الوتی د بې پایه هسک تیارو ته
مخ دې پټ کړ په حجاب کې دیدنونه بې وفا شول
غمونه دې راسر شول زیروبم یې رانه ورک شو
سازونه دې په غم کې ربابونه بې وفا شول
داغونه د زړګي مې مسیدلي ستا په هجر

خواږه دا ستا د میني زما دردونه بې وفا شول
ما د عشق په تصور کې د بوډۍ تال وو جوړ کړی
دا دبخت یاري به څه کړم بارانونه بې وفا شول
د شیریني تصور کې په فرهاد پسې روان شوم
ددې لارې لاروي ته تور تور غرونه بې وفا شول
احساس مې غلی شوی ځکه ستا هیلې شوې ګرانې
شعرونه بې وفا شول غزلونه بې وفا شول
د فلک ساقي جامونه ستا د میني رانه تش کړل
رحیمي دا ستا و تندې ته خمونه بې وفا شول

د لیکوال او شاعر آثار:

د آثارو په هکله به دا ووایم چې ځینې مقالې په ټولنیزو او سیاسي مسایلو کې او همدارنګه د پنځوسو په شاوخوا کې د نوي شعر او غزل په بڼه چاپ ته چمتو لرم او په مناسب فرصت کې به یې چاپ ته وسپارم.

# محمد غني بهادري

زما نوم ډاکټر محمد غني بهادري د غزني ولايت د اندړو ولسوالۍ د نرمي بابا په کلي کې په کال ۱۳۳۴ هـ ل د ليندۍ په ۱۳ مه نېټه په يوه متوسطه کورنۍ کې زېږېدلی يم.
په ۱۳۴۲ هـ ل کال کې د اندړو ولسوالۍ د سلطان شهاب الدين غوري له ليسې څخه په اعلی درجه فارغ شوم او په همدغه کال کې مې د کانکور په آزموينه کې ګډون وکړ چې د کابل پوهنتون ، طب پوهنځۍ ته بريالی شوم. په ۱۳۵۷ هـ ل کال کې له همدې پوهنځۍ له فراغت څخه وروسته په درېيم بست کې د ارزګان په ولايت کې د عمومي مدير دنده راپه غاړه شوه او تر ۱۳۵۹ هـ ل کال پورې مې نوموړې دنده ترسره کړه وروسته د مکلفيت د دورې د جلب په خاطر له وظيفې سبکدوش او دوخت د مزدور رژيم د عسکري تر خدمت مې د ملت او دين خدمت ته ترجيح ورکړه ولې د تنظيمونو د ذات البيني اختلافاتو له امله مجبور د هجرت او

بېطرفۍ ته شوم او په ۱۳۵۹ هـ ل کال د ایران او وروسته پاکستان ته اواره شوم او بلاخره په ۱۳۸۳ هـ ل کال کې وطن ته راغلم او اوس د ولایتي شورا غړی یم. دا چې وخت کم ده خپله یوه څلوربیتي د نمونې په ډول چې زما په اثر د ذهنونو غذا په نامه کتاب کې چاپ شویده په لاندې ډول ده.

یتیمان کونډې منتظر چې یې خیرخواه راځي
خبر نه دي چې خوار له کومې خوا راځي
د غر کنډوالۍ له په ژړا که په خندا راځي
د اغیار په قومنده که د حریت لخوا راځي

*******

ته چې هر څوک ولې او هر څه غواړې
د معقولیت او خدمت په ګوله کې به یې نغاړې
خلک به دې وینې چې منطقي عملي ولاړې
بهادري دې ضمانت کړې چې خلاص له بلا راځي

*******

لکه څنګه چې ما مخکې یادونه وکړه چې کله زه له پوهنتون څخه فارغ شوم کوشش مې کاوه چې علمي تحقیقات وکړم حقایق په مستندو اسنادو تثبیت او د ټولنې د تنویر لپاره یې وړاندې کړم چې په دې اړوند مې لومړی اثر د مومن په ثبوت د (( ساینسي دلایلو په رڼا کې تر عنوان لاندې بشپړ، ولې د وخت د حکامو د تعقیب په اساس مې په زیرخانه کې پټ او هلته وروست شو.

وروسته مې یو بل کتاب (د ټولنې بلاګانو) تر عنوان لاندې ولیکه چې له سعودي نه پاکستان ته د راتلو په لارو کې د ورکي ښکار شو او له هغه نه وروسته مایوسه او زړه مې غوښتل چې نور څه ونه لیکم، خو بیا قلم منع نه شو او (د ذهنونو غذا) تر عنوان لاندې مې یوه شعري ټولګه او د (انقلاب که انفلاق) تر عنوان لاندې مې یوه نثري او شعري مختلطه په یوه

کتاب لومړی جلد کې پخپلو مصارفو چاپ کړه او دوهم جلد هم بشپړ شوی ولې چاپ شوی نه دی او سلسله یې دوام لري ..

# د پروان ولایت شاعران او لیکوالان

# رضوان الله ( همدرد )

زما نوم رضوان الله تخلص مې « همدرد » او د کورنۍ نوم مې سروري دی د شکرخان سروري زوی د ننګرهار ولایت د روداتو ولسوالۍ د کدی کلي اوسیدونکی یم چې پېدا ښت مې په کال ۱۳۶۳ هـ لمریز کال کې د پروان ولایت په بګرام ولسوالۍ کې شویدی. چې لومړنۍ زده کړې مې د روداتو ولسوالۍ د کدی کلي د روغانو نومې لومړنی ښوونځی کې کړېدي چې د نوموړي ښوونځۍ له فراغت څخه وروسته په کال (۱۳۷۸ ) هـ ل کې د حصار کمزیني عالي لیسې ته ور وپېژندل شوم چې بیا په کال ۱۳۸۴ هـ ل کې د نوموړي لیسې څخه په اعلی درجه فارغ شوم او د ۱۳۸۴ هـ ل کال د کانکور ازموینې په پایله کې د لوړو زده کړو وزارت له خوا د البیروني پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی ته ور وپېژندل شو م چې اوس مهال د همدې پوهنځی د انګلیسي په څانګه کې خپلې زده کړې پر مخ وړم.

دا چې ما څنګه شعر ویلو ته مخه وکړه ددې پوښتنې ځواب به په یوه شعر او څو کلیمو کې په لنډ ډول راونغاړم:

بېګاه مې خوب کې محبوبا ولیده
ما په رښتیا خپله لیلا ولیده
څه با ادبه حیاناکه جلۍ
رضوان الله همدرده تا ولیده

یعنې زما شعر ویل زما د مینې پورې اړه لري.

د کلام بېلګې:

غزل

بېګاه مې خوب کې محبوبا ولیده
ما په رښتیا خپله لیلا ولیده
د ډېره نازه وه کړه روانه
په خپلو سترګو باندې ما ولیده
ډېره حسینه او ښایسته ښکارېده
د ورایه ما چې د لربا ولیده
خمارې سترګې یې پناه وې له ما
ځکه د وړاندې مې تر شاه ولیده
زمونږ د کور د دروازې په مخه
تلله خپل کورته چې مې بیا ولیده
واړه واړه یې قدمونه وهل
د کلي مخ کې چې مې دا ولیده
څه با ادبه حیاناکه جلۍ
رضوان الله همدرده تا ولیده

بله بېلګه:

مینه چې نه وي محبت چې نه وي
منځ د دوستانو کې محبت چې نه وي
د هغه ژوند نه به خوند څنګه واخلي
چا سره غم د آخرت چې نه وي

د پلار او زوی او د دوه ورونو تر منځ
تل جنګ، جګړې وي نزاکت چې نه وي
حق د یو بل به په څه وپېژني
موجود په منځ کې عدالت چې نه وي
خپله کږه لار سمولی نه شي
ورسره عقل کې طاقت چې نه وي
مال او دولت یې مړولی نه شي
غرق دی قارون دی قناعت چې نه وي
رضوان الله همدرد پرې څه ولیکم ؟
د چا ضمیر کې دیانت چې نه وي

د شاعر او لیکوال آثار:
زما لومړی شعري ټولګه ((نیمګړې مینه)) نومېږي چې تقریباً د څلوېښتو په شاوخوا کې شعرونه لري او د ټولګې په توګه نه ده چاپ شوې خو څو غزلې مې په مختلفو مجلو، جریدو او ورځپاڼو کې چاپ شوي دي لکه: ډالۍ مجله کې، مینه مجله کې ....

# د لوګر ولایت شاعران او لیکوالان

# احمدضیا «ضیا»

احمدضیا «ضیا» د استانه گل زوی او د اخترمحمد لمسی، د لوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ د دوران خیلو په کلي کې په ۱۳۵۴ هجري لمریز کال کې زېږېدلی یم.

لومړنۍ زده کړې مې د اقاعلي شمس د هلکانو په منځنۍ ښوونځی کې په لومړۍ درجه سر ته رسولي دي. او بیا مې ثانوي زده کړې د حبیبي په عالي لیسه کې ترسره کړې چې د دولسم ټولګي څخه په لومړۍ درجه فارغ شوی یم او اوس د کابل پوهنتون د اقتصاد د پوهنځی د څلورم ټولګي محصل یم

د زده کړې ترځنګ د افغان ځوانانو د خپروني مسؤل مدير، او د کابل پوهنتون د مجلې د ليکوالانو د هيئت غړی يم.
چاپ شوي آثار نه لرم، او د ناچاپو آثارو نومونه دادي:
۱- ما هم يوه جونګړه درلوده. (ناول)
۲- د افغانستان او منطقې په اړوند سياسي او څېړنيزو مقالو ټولګه.

# احسان الله « محسن »

نوم مې احسان الله « محسن » د پلار نوم مې اسدالله د لوګر ولایت د محمد آغې ولسوالۍ د شش قلعه عقبه کلي اوسیدونکی یم چې په کال ۱۳۲۹ هـ ل کې د پاکستان صوبه سرحد ، کهی کنډو د لوګریانو په کیمپ کې زېږېدلی یم . خپل ابتدایي زده کړې مې په کهی کې تر دریم ټولګي پورې سرته رسولي او له هغه نه وروسته په اسلام آباد کې او له هغه وروسته خپل وطن ته راستون شوم او په شپږم ټولګي کې مې داخله وکړه چې اوس د محمدآغې عالي لیسې د لسم ټولګي زده کوونکی یم.

له شعر او شاعرۍ سره ډېره مینه لرم او شعري مجموعه مې « ۱۳۵ » شاوخوا ته رسیږي او زیاته عشقي بڼه لري ، په راتلونکي کې غواړم چې چاپ ته یې تیار کړم او چاپ یې کړم.

د کلام بېلګه:

### بېلتون

ته چې ولاړې زه به څنګه وکړم
چې نه مې غواړې زه به څنګه وکړم
یادېږي به مې هر وخت ستا دا تورې سترګې
دا په غم لړلې دې رنجورې سترګې
ستا ښایسته، ښایسته زلفان به مې یادېږي
کاږه باڼه دي لکه غشی د کمان به مې یادېږي
یار مې ځي د مینې جام مې چپه کېږي
په عشق چې مې درلود هغه مقام مې چپه کېږي
(محسنه) د بېلتون کور دلته ودان شو
ښکلی یار دې پاتې ستا د شعر په آرمان شو

### قطعه

چې موسکۍ شي چې د سترګو لاندې ګوري
داسې چې راتاو کړي خپل خمارې سترګې
زه هم موسکۍ شم درته وګورم د سترګو لاندې
د نرګس غوندې خمار لري مکارې سترګې

کوم چاپ شوی آثار نه لرم بلکې یوه شعري ټولګه چې مخکې مې یادونه وکړه د هغه شعرونو شمېر یې تقریباً (۱۳۵) شاوخواو ته رسېږي. او په راتلونکې کې غواړم چې څو نور شعرونه هم ولیکم او ترتیب یې کړم چې د چاپ لپاره تیار شي او له چاپه یې راوباسم.

# بسم الله ( نيازی )

بسم الله (( نيازی )) د سردار خان (( نيازي )) زوی په ۱۳۲۴ هـ ل کال کې د لوګر ولايت په مرکز د نيازيو په کلي کې زېږېدلی يم. لومړنی زده کړې مې د هارون خيلو په کليوال ښوونځي او کلنګار ابتدايه مکتب کې او وروسته د هوانوردی ملکي ليسې څخه فارغ شوی يم.

د ليسانس زده کړې د هواپېژندنې او هوانوردی په برخه کې د هندوستان په فونه ممبي، بنګلور، حيدرآباد او ډهلي کې کړيدي او نورې تجربوي زده کړې مې په ايران، سنګاپور او تايلنډ کې پای ته رسولي.

تقريباً دېرش کاله کېږي شعر ليکم، چې په سلګونو شعرونه مې ليکلي خو په کورنيو جګړو کې وسوځېدل او له منځه ولاړل خو اوس هم شعر ليکم او همدارنګه د نيازيو د انکشافي شورا رئيس او د محلي شورا غړی يم.

د شعر بېلګه:

په کنده مځکه پراته دي په خیمه بې واري اوري
ماشوم له یخه مړ شو د مورکۍ یې واویلا راځي
کنډواله د مراجي کې انسانان وږي پراته دي
تودې وږمې د کباب له هوټل سرینا راځي
په کورو بمبونه اوري د توپونو غړمبهاره
ماشوم په چېغو چېغو له مکتبه وارخطا راځي
د مجنون زیارت ته ولاړه په مین والوته لیلی
مشال یې سور په وینو له هوا په رپیدا راځي
اختر خو راروان ده د مصرف پیسې نشته
معلم بیچاره ګورې سرمایي ته په رښتیا راځي
د دریا په جرم باندې ناوي وخورې لغتې
شاه کیبل کاري شو سر قیچي شو له قضا راځي

زيات شعرونه مې وسوځېدل او نوي شعرونه مې هم لیکلي چې تراوسه یې دچاپېدو زمینه نه ده برابره شوي، که زمینه مساعد شي غواړم د کتاب په بڼه یې چاپ کړم.

# حبیب الله (ستانکزی)

زه حبیب الله ستانکزی د محمد عظیم زوی د لوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ دتاج خان دکلي اوسیدونکی یم. لومړنی زده کړې مې تر اتم ټولګي پورې د پېښور د شمشتو په کمپ کې د حضرت قیس بن سعد رض په عالي لیسه کې بشپړې کړې چې په کال ۱۳۸۳ هـ ل کې له پېښور څخه خپل ګران هېواد افغانستان ته راستون شوم چې اوس د محمدآغې په عالي لیسه کې د یوولسم ټولګي زده کوونکی یم

د کلام بېلګه:

## ښاپېرۍ

د پسرلي ښکلې هوا چلېده، مرغانو د پسرلي په راتګ سره يو بل ته د خوشالۍ زيری ورکولو په هر بڼ کې د مرغانو اوازونه او سندرې اورېدل کېدې، خو جانان اکا د پسرلي په راتګ سره خوشاله ؤ خو له بلې خوا د خپل ژوندون څخه بېزاره ؤ ځکه چې غريبۍ خپله مخه ورته ډېره پرانيستې وه. جانان اکا دوه زامن او يوه لور درلوده چې نوم يې ښاپېرۍ وه، هو! په رښتيا هم ښاپېرۍ وه هغه ډېره ښکلې وه چې سپوږمۍ هم نه شوای کولای د ښاپېرۍ د ښايست ډېوې د خلکو په زړونو کې مړې کړي.ټولو کليوالو غوښتل چې د جانان اکا زوم شي، ښاپېرۍ ډېر ريباران لرل داسې ورځ به نه وه چې د جانان اکا کور د ريبارانو څخه تش وي. ښاپېرۍ غوښتل چې د دولسم ټولګي د فراغت سند لاس ته راوړلو څخه وروسته واده وکړي، مور او پلار يې هم د ښاپېرۍ په رضا د هغې ريبارانو ته ځواب ورکولو.

يوه ورځ ښاپېرۍ د ښوونځۍ په لور روانه وه چې ګوري يو هلک چې لوړه ونه ، تور وېښتان، نرۍ خط او کندهارۍ خولۍ يې پر سر درلودل ورته ولاړ دی خو ښاپېرۍ د هلک له مخې لکه لکړه تېره شوه. څو ورځې همداسې تېرېدې ښاپېرۍ هم د خپل ښايست په اور خلک سوځول خو له ځانه خبره نه وه چې څومره خلک يې په جادويي سترګو ويشتلي دي، کله به آينې ته ودرېده په خپل حسن به نازېده له ځان سره به لګيا شوه: د غريب لور او دومره ښايست؟ بيا به له ځان سره وبنګېده چې ښايست د خدای ج ورکړه ده غريب او خان نه غواړي، بيا به په منډه له کوټې څخه ووته د مور سره به د کور په کارونو اخته شوه، يوه ورځ چې د ښوونځۍ په لورې روانه وه هدايت الله د موقع نه استفاده وکړه يو خط يې د ښاپېرۍ مخ ته واچاوه، ښاپېرۍ هدايت الله سر ترپايه وڅاره خط يې را اوچت کړ او بېرته د کور په لور وخوځېده، کور ته په رسېدو سره يې د ليک سر خلاص کړ چې داسې يې ليکلي ؤ: «په سلامونو مو لمانځم! ګرانې پوهېږې چې زه دې دعشق په لمبو سوځم! نه ته نه پوهېږې مګر زه پوهېږم چې ستا ښکلا ماته د مرګ زېرۍ راوړي. ګرانې! يوازې ته کولای شې ته مې له دې مرګ څخه وژغورې، ګرانې! زارې کوم زما مينه ومنۍ.» له ليک ويلو څخه وروسته ښاپېرۍ د سوچونو په درياب کې ډوبه شوه

له ډېرو سوچونو څخه وروسته ښاپېرۍ په دې سلا شوه چې خپل زړه هم دمینې په اور سوځولو ته چمتو کړي. څو ورځې وروسته ښاپېرۍ بیا د ښوونځی په لور رهي شوه چې ګوري هدایت الله یې په انتظار کې دی. ښاپېرۍ زړه د زمري کړ اودهدایت مخې ته ودرېده، هدایت الله دا وانګېرله چې ښاپېرۍ به مې اوس د سپي له لکۍ څخه هم وباسي، خو دښاپېرۍ د سرو شونډو قلفونه یو له بل څخه ښکته او پورته ولاړل، دغه نغمې یې له خولې څخه راووتې: ستاسو لیک مې ولوست زه ستاسو مینه منم. هدایت الله له ښاپېرۍ څخه د داسې خبرو طمع نه لرله د فکر په دریاب یې ځان لاهو کړ یو څه چوپتیا څخه وروسته ښاپېرۍ وویل: تاسو زما په مینه شک مه کوئ، له څه خبرو وروسته یو له بل څخه رخصت شول. ورځې همداسې تېرېدې، د هدایت الله او د ښاپېرۍ دوه میاشتې وشوې. یوه ورځ ښاپېرۍ هدایت الله ته داسې وویل: هدایت الله جانه! سبا دې خپل مور او پلار زما ریبارۍ ته راولېږه، تر څو به ناست یو.

هدایت الله هم د ښاپېرۍ خبره ومنله، یو له بل څخه رخصت شول. هدایت الله د ښاپېرۍ د ریبارۍ خبره خپل مور او پلار ته واوروله. د هدایت الله مور هم خوښه کړه او وې ویل: زویه! ګومان مې نه کېږي چې دا ورۍ دې شړۍ شي. ښاپېرۍ خو ډېر ریباران لري بیا جانان اکا کله به په مونږ ښاپېرۍ ولوروي، جانان اکا ډېر ماړه ماړه ریبارانو ته ځواب ورکړ، بیا پاتې مونږ!!!

زویه! له دې خبرې تېر شه یو بل ځای به درته وګورو.

هدایت الله وویل: خیر ده مورې! ته یو ځل ورشه چې څه وایي که یې ونه منله بل ځای خو شته. د هدایت الله خبره یې ګذار نه کړه، ماسپښین مهال د هدایت الله مور او دتره ښځه یې د ښاپېرۍ د کور په لورې وخوځېدل، کور ته په ننوتلو سره ښاپېرۍ ریباران وپېژندل، د ښاپېرۍ مور ریباران د ناستې خونې ته وروبلل، ریباران په خونه کې کېښناستل. د چای څښلو په ترځ کې د هدایت مور داسې وویل: د ښاپېرۍ مورې! مونږ غواړو چې تاسو سره خپلوي وکړو اوستاسو لور خپل زوی هدایت الله ته په نکاح کړو، ستاسو څنګه خوښه ده ؟

د ښاپېرۍ مور وویل: صحیح ده، زه به د ښاپېرۍ پلار سره په دې خبره وغږېږم، یو څه خبرو اترو څخه وروسته ریبارانو ته د بیا راتګ بلنه ورکړل شوه. کله چې دا خبره جانان اکا ته یاده شوه جانان اکا له ښاپېرۍ څخه د هغه رضایت پوښتنه وکړه . ښاپېرۍ وویل: ستاسو خوښه زما خوښه ده .

شپه تېره شوه د ګهیځ لمر خپلې شعاعوې د ځمکې په هر لورې خپرې کړې. د سبا ناری ځخه وروسته ریباران دجانان اکا په کور ورننوتل، له روغبړ او چای څښلو وروسته بیا د ریباری خبره یاده شوه، د ښاپېرۍ مور وویل : موږ هم غواړو چې تاسو سره خپلوي وکړو، مګر په دې شرط چې هدایت الله به څلورلکه ولور مني. دهدایت الله مور هم دغه خبره ومنله. کله چې هدایت الله سره د څلور لکه ولور خبره یاده شوه،هدایت الله ډېرخوښ شو مور ته یې وویل : زه ددې ولور پوره کولو لپاره به ایران ته ولاړ شم یو نیم کال وروسته به بېرته راشم، خو ته ضرور د جانان اکا څخه شیریني راوړې. مور یې وویل :هغوی وایي چې زه تر هغه شیریني نه درکوم تر څو هدایت الله ماته پوره ولور رانه کړې، خو زه هم بل چاته شیریني نه ورکوم.

څو ورځې وروسته هدایت د ایران د سفر موزې په پښو کړې له خپل کهول او ښاپېرۍ سره یې مخه ښه وکړه او دایران په لوري د یو عالم امیدونو سر د تهران ښار ته ورسید او په کار او بار یې شروع وکړه ، خو هدایت الله خپل برخلیک څخه نه ؤ خبر، کاشکې هغه خوار خبر وای.

یوه میاشت وروسته د جانان اکا په کور نوي ریباران ورغلل هغوی سره یې د ښاپېرۍ د شیریني ورلو په هکله وغږېدل. د ښاپېرۍ مور ریبارانو ته وویل : موږ غواړو د هدایت الله او ښاپېرۍ راتلونکی ژوند د دوی په خوښه جوړ کړو اوس مو هدایت الله سره خبره کړېده هغه اوس د ولور پوره کولو لپاره ایران ته تللی دی. کله چې هدایت راشي موږ هغوی ته شیریني ورکوو. یو ریبار داسې ورغبرګه کړه : ګوره د ښاپېرۍ مورې ! تاسو ته ښه معلومه ده چې زما زوی ( جاوید ) په لندن کې اوسېږي او دا هم درته معلومه ده چې د هدایت کورنۍ غریبه کورنۍ ده او تراوسه مو شیریني هم نه ده ورکړې څومره ولور چې هغوی درکوي موږ به د هغه ولور څخه زیات درکړو. کله چې د نوي ریبارانو خبره جانان اکا سره یاده شوه جانان اکا پرته له دې چې سوچ وکړي په دې خبره خوښي څرګنده کړه او پرته د ښاپېرۍ له رضایت څخه شیریني جاوید ته ورکړه. درې میاشتې وروسته د جاوید او ښاپېرۍ د واده مراسم چمتو شول د واده څخه درې میاشتې وروسته جاوید غوښتل چې ښاپېرۍ له ځان سره لندن ته بوځي خو د ښاپېرۍ رضایت نه ؤ.

جاوید ښاپېرۍ په دې رضا کړه چې ورسره لاړه شي، ښاپېرۍ هم بله چاره نه درلوده او جاوید سره د لندن په لورې ولاړه .

یو نیم کال وروسته هدایت الله د ایران څخه د خپل هېواد په لورې راوخوځېد ، له څو ورځو څخه وروسته خپل کور ته راورسېد ، د هدایت الله مور د هدایت الله په لېدو سره چغې او ناري پیل کړې او داسې یې وویل : زویه ! ته خو داسې بد قسمته نه وې ستا بخت ولې مړ شوی دی!

هدایت ورته وویل : مورې آخر څه خبره ده ولې ژاړې ؟

مور یې ورته وویل : هدایت جانه! هغه ښاپېرۍ چې ته یې د ولور پوره کولو لپاره ایران تـه تللی وې هغه د جاوید په ډولۍ کې لندن ته یوړل شوه او دجانان اکا خوله یې د پیسو څخه ور ډکه کړه . ددې خبرې په اورېدو سره د هدایت سر و څرخېد او په ځمکه وغورځېد. هدایت الله یې روغتون ته یوړو. کله چې په سد شو سترګې وغړولې که ګورې په روغتون کې دی، له سترګو یې مړې اوښکې وبهېدې او ویې ویل : جانان اکا خو ویلي ؤ چې زما لور به د ستا وي او ښاپېرۍ ولې بې وفا شوه!

له څلور میاشتو وروسته ښاپېرۍ خپل پلار ته یو لیک راولېږه چې لیکلي ؤ :(( ګرانه پلاره! افرین زما ژوند ته دې خوښې راوښله. په هغه ورځ چې د افغانستان څخه د لندن په لورې رهي شوم کله چې د لندن په هوایي ډګر کې کوزه شوم، جاوید سره د خپل کور ته ولاړم له څو ورځو وروسته یو بوډا سړی زموږ کور ته راغی له جاوید سره په انګلیسي ژبه وغږېده چې زه پرې ونه پوهېدم، بیا یې زما لاس د هغه بوډا په لاس کې ورکړ، جاوید ته مې وویل : چې لیونی شوی یې او که څه؟

جاوید په کړس، کړس وخندل، نه زه نه یم لیونی شوی، ستا پلار لیونی شوی چې خپل لور یې بوډا ته ورکړېده. ستا پلار زما په غوړو خبرو وغولېد مګر ستا پلار ته ماته نه بلکې دغه بوډا ته په نکاح کړې یې !

اوس دغه ستا خاوند دی ګډ ژوند مو مبارک شه، څه ورځه.

چهارشنبه، ۱۳۸۵\۱۲\۲۷

اوس مهال زه (۲۳) په بېلابېلو موضوعاتو لیکلي داستانونه او (۴۲) مختلف شعرونه په لاس کې لرم، که په راتلونکي کې وتوانېدم د کتاب په بڼه به یې د گرانو هېوادوالو په واک کې ورکړم.

## روح الله (امین)

زه روح الله ((امین))، د شهید نورالله زوی د لوگر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ د مغل خېلو د کلي اوسیدونکی یم اوس په یوولسم ټولگي کې په زده کړه بوخت یم.

د شعر او ادب سره مې ډېره مینه ده او د یو نیم کال راهیسې زه په خپله شعرونه لیکم او غواړم چې د شعر او ادب له لارې خپلې مورنۍ ژبې ته د خدمت مصدر وګرځم.

د کلام بېلګې:

دا موسم د ښکلا دا د ښکلا ناوکۍ
دا له غمونو خلاصه دا دخپل یار ناوکۍ
چې خزان پرې راشي شوه په ژړا ناوکۍ
ویلې جانان مې څه شو اشنا ، اشنا ناوکۍ
چې شوه په غمونو ډوبه د ناز او ادا ناوکۍ
کړې یې خاورې په سر دې د جانان ناوکۍ
دا وه د یو ځوان ناوکۍ
پاتې آرمانونو کې شوه دا د آرمان ناوکۍ

## ګیله

نذیره درته راوړې مې لږ شانتې ګیلې دي
یو څو خبرې مې د شعر په ژبه، ځنې خوږې ځنې ترخې دي
که مو خوښ شي او قبول یې کړې دا
ما «امین» درلېږلې څو شډلې ترانې دي

## غزل

هر طرفته راته ښکارې چې تیارې شوې زما زړه کې یاره جوړې تورې شپې شوې
ای نصیبه ولې ته دومره ظالم شوې تا زما د آرمانونو شمعې مړې کړې
زړه مې غواړې چې رشته درسره پرېږدم ستا دلاسه مې دښمن سره رشتې شوې

راته ښکاري د دنیا بد نصیب زه شوم          رڼا ورځې اوس په ما تورې تیارې شوې

خیر دی چې شه په دنیا کې هر یو غم شته

په «امین» باندې د غمونو جوړې هدېرې شوې

زما د شعرونو ټولګه چې غالباً د (۲۰) په شاوخوا کې شعرونه لري چې غزل، څلوریځې، مصرۍ، بیت او ازاد نظمونه په کې رانغښتل شوي دي او هم د نورو شعرونو په لیکلو بوخت یم.

## سید احمد (حریفال)

سید احمد «حریفال» د خان محمد زوی د لوگر ولایت د مرکز ولسوالۍ د زردگل حریفال آباد د کلي اوسیدونکی یم.
خپلې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې مې په بېلابېلو ښوونځیو کې سرته رسولي او د دولسم ټولګي څخه فارغ شوی یم. د څلورو کلونو راهیسې مې په شعر لیکلو پیل کړی چې همدا راز د لنډې کیسو او داستانونو لیکلو ته مې هم مخه کړېده تر څو هغه هم تیار او د چاپ وړ شي.

د کلام بېلګه:

دلته اوس راج د زورورو دی موږ څه نه وایو
موږ به د وخت په تقاضا کې خپل جانان ته رسو
موږ اوس کم وس یو د مظلومو په کتار کې ولاړ
د پاک څښتن په فیصله کې به لوړ شان ته رسو
موږ که هر څو یوځورېدلي نا امیده نه یو
ښه امیدوار یو چې به خپل عهدو پیمان ته رسو
قول مې کړی د اوله چې پر شا به نه ځو
په پاک اسلام به سر بایلو و ټول جهان ته رسو
د چا وشتو ته څه د طمعې لپوالتیا نه لرو
د پاک سبحان نه مدد غواړو و آسمان ته رسو
د زورورو راج که وي موږ یې پروا نه لرو
په کرامت به کرار درومو خپل آرمان ته رسو
څه چې هدف زموږ په زړه وي هغه بیا هم نه ځي
وخت ته به ګورو د بهار ښکلي زمان ته رسو
زه سید احمد درته خبرې په امید کومه
په پاکه مینه عقیده کې به خوبان ته رسو

د شعرونو دوه ټولګې لرم خو تراوسه مې کوم ځانګړی نوم نه دی ورکړی خو دچاپ لپاره تیار دي چې تراوسه چاپ شوي نه دي که دچاپېدو زمینه برابره شي غواړم چې چاپ کړم.

## شاه جهان (ساګر)

زه شاه جهان ((ساگر)) د عجب گل ماهیر زوی په کال ۱۹۸۷ میلادي کې د پاکستان په کاهي کیمپ کې دې دنیا ته سترګې پرانیستي دي. چې اصلي هستوګنځی مې د لوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ د قلعه نو میرزاخیلو کلی دی.

د شعرونو دنیا ته مې یو څه موده مخکې مخ راړولی چې مینه مې هم ورسره زیاته شوې او په ۲۰۰۵ میلادي کال کې مې په لیکلو پیل وکړ چې تراوسه مې د (۵۰۰) ټوټو شعرونو په لیکلو بریالی شوی یم چې تر اوسه یې چاپ شوي نه دي. هیله لرم چې په راتلونکي کې د چاپ په ښه د خلکو مخې ته کېږدم.

د کلام بېلګې:

سترګې رانه مه وباسه ما خو تش کتلي دي
خپله ګناه یاده کړه چې تا راته خندلي دي
دغه سره داغونه په لمن مې ګواهي کوي
ټوله شپه مې ویني په ګرېوان کې څڅېدلي دي
لږ ساعت نژدې جهان ته غلی غلی راغلمه
خلکو مې ګلونه په کفن باندې شیندلي دي
دا ظلم ستم، جور و جفا چې دې ورياده شوه
وايي چې ساګر په ځنکدن کې هم ژړلې دي

څومره به ښه وای چې پیدا نه وی — یا مې زړګی مین پر تا نه وی
په یو خندا باندې مې زړه وتښتي — یا جادوګره ستا خندا نه وی
چې مې لیدلي دې ستا سترګې نه وای — اوس به مې سترګې په ژړا نه وی
چې د زړه خال یې یار ته وویل خلکه — اوس به ساګر غریب رسوا نه وی

# عبدالرحمان

عبدالرحمان د صوفي جمعه دین زوی د غلام نقشبند لمسی په ختہ حسین خیل د لوگر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ اوسیدونکی یم چې په ۱۳۲۱ هـ ل کال کې مې زوکړه شویده.

په ۱۳۳۱ هـ ل کال کې مې په خصوصي زده کړو پیل وکړ چې تر صرف اونحوې پورې مې دیني زده کړه وکړه خو د ځینو اقتصادي ستونزو له کبله مې و نه شوای کړی چې پاتې زده کړو ته دوام ورکړم. په ۱۳۴۱ هـ ل کال کې د ملي دفاع په وزارت کې په رسمي دنده مقرر شوم، چې په ۱۳۷۰ هـ ل کال کې تقاعد او اوس کومه رسمي دنده نه لرم.

د کلام بېلګه:

سترګو ته دا وایه چې سیلونه ټولوه
او زړه ته داسې وایه چې فکرونه ټولوه
عاشقه ته داسې وایه ولې نه مرې له دې غمه
صنم ته داسې وایه چې نازونه ټولوه
بلبل ته داسې وایه چې نارې وهه تکړه شه
ملیار ته داسې وایه چې ککونه ټولوه
بدن ته داسې وایه چې چا سوری کړلې په غشو
جیګر ته داسې وایه چې زخمونه ټولوه
ساقي ته داسې وایه چې نن ډکې پیمانې که
شاعر ته داسې وایه خمارونه ټولوه
زاهد ته داسې وایه چې له زړه نه طواف وکړه
عابد ته داسې وایه ثوابونه ټولوه
هجران ته داسې وایه چې لمبې که پرما بلې
مین ته داسې وایه چې اورونه ټولوه
سپین مخ ته داسې وایه چې چا رنګ د ګلاب درکه
عطار ته داسې وایه چې عطرونه ټولوه
ګرېوان ته داسې وایه ولې لوند یې له ژړا نه
جانان ته داسې وایه چې آزارونه ټولوه
پتنګ ته داسې وایه چې ځان وسیځه په شمعې
ډیوې ته داسې وایه چې داغونه ټولوه
عبدالرحمان رحیل ته وایه چې دا ته ولې بیمار یې
زما زړه ته داسې وایه چې دردونه ټولوه

زما شعرونو په مناجات، نعت، عشقي، انتقادي، حماسي، وطني او ټولنيزو برخو باندې څرخي.

۱- دوه ټولګه : چې ( ۱۴۷۰ ) شعرونه مې په کې رانغښتي دي.

يوه بله ټولګه چې له ( ۱۸۷ ) شعرونو څخه رغېدلې ده چې همدارازيوه ټولګه چې په دري ژبه ليکل شوي او ( ۱۲۳ ) شعرونو څخه مشتمل دی. يوه بله ټولګه چې د چاپ لپاره تيار ده او له ( ۱۹۰ ) شعرونو په کې ځای شويدي ، د چاپېدو په لټه کې يم.

# عبدالرحمان ‹احساس حبیب زوی›

عبدالرحمان ‹ احساس حبیب زوی › د لوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ د احمدزیو کلي اوسیدونکی یم .
پر ۱۳۶۵ هجري لمریز کال کې مې زوکړه شوې ده . لومړنۍ او منځنۍ زده کړې مې د پېښور په حضرت قیس بن سعد لیسې کې بشپړې کړې او پر ۱۳۸۲ هجري لمریز کال کې د محمدآغې د لیسې د دولسم ټولګي د بریلیک له اخیستلو وروسته د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي ته بریالی شوم. اوسمهال د همدې پوهنځي د پښتو څانګې د دریم ټولګي محصل یم

د کلام نمونه :

## مناجات - د حمید مومند په پله

الهي د محبت سوزو گداز را
په دا اور کې د سهي سمندر ساز را
چې په آه مې تمام جهان سودمن شي
حنجره کې مې بلال غوندې آواز را
د دنیا کارونه واړه بې فایدې دي
په عقبا کې شمله راته ممتاز را
چې د مینې انتها مې حقیقت شي
ابتدا کې راته مینه د مجاز را
څومره خوند لري ستا مینه پاکه ربه
تل مې زړه انګړ ستا مینې لره باز را
څه ښایست دې پیدا کړی دې دنیا کې
خدایه ! تل مې ښایستو لره نیاز را
چې زما د خوږې مینې سپکاوی کا
دغه لاس مې ګرېوان کې د غماز را
چې الوت وکړم د شعر په دنګو غرونو
دغو غرونو کې وزرې لکه باز را
که احساس مې د پښتون حمید په پله ځي
په دا لاره کې یو ښکلی شان آغاز را

چاپ او ناچاپ آثار

۱- نرۍ، نرۍ باران دی. (چاپ) د کوچنیانو لپاره فولکلوري سندرې او لوبې دي

# فهیم الله (لودین)

زما نوم فهیم الله لودین د پلارنوم مې الحاج محمد شریف لودین دی چې په ۱۳۶۷هجري لمریز کال کې د لوګر ولایت د پل عالم ولسوالی د میرزا عبدالرشید په کلي کې وزېږېدم او اوس د کلنګار په جهادي لیسه کې د دولسم ټولګي زده کوونکی یم. دوه کاله کېږي چې لنډې کیسې لیکم او شپږ میاشتې مخکې مې په شعر لیکلو پیل کړیدی.

د کلام بېلګه:

په دې ګلشن کې د چا ظلم او ستم نه منم
په دغه کور، کلي وطن کې ویر او غم نه منم
دا د احمد محمود میرویس کور دی میراث راپاتې

په دې جونګړه کې د هر پردي قدم نه منم
دا چې تاریخ مې تل زرین دی غیرتي افغان یم
د بې ننګۍ پېغور په کرښه د قلم نه منم
زه یم باغوان په دغه بڼ کې د ګلانو په سر
د بې غیرتو نامردی ټوپک او بم نه منم
چې مې په تش لاس وشړل محکم انګلیسان
په مخ وتلي ظالمان روس او پرچم نه منم
ته خو د مور په شان پر ما حق لرې ای وطنه!
دا ستا پوړنۍ په ګولۍ کړم، کړم نه منم
ماچې همیش دښمن نسکور کړ خمیده وې راته
لودین همیش وایي غلیم ته به سر خم نه منم

شعرونه مې تقریباً شپیتو ته رسیدلي چې د چاپ د نه تیاري له کبله مې نوم هم نه دې ور ټاکلی. د لنډو کیسو د لیکلو لړۍ مې لاروانه ده په نږدې راتلونکي کې به چاپ ته تیار شي. غواړم چې د دواړو ټولګو له تیارېدو وروسته نومونه ورته غوره او چاپ کړم.

# مولوي حبيب الرحمان (حساس)

مولوي حبيب الرحمان ((حساس))، احمدزی، کوچی د میاورالدین زوی په ۱۹۷۹ میلادي کال کې د لوګر ولایت، محمدآغې ولسوالۍ د آبپیران په کلي کې زېږېدلی یم.

په ۱۹۹۲ میلادي کال کې د یو پاکستاني ښوونځی له دولسم ټولګي څخه فارغ شوم چې بیا مې د پلار په غوښتنه اسلامي زده کړو ته مخه کړه چې د ۱۹۹۲ میلادي کال د مې میاشتې څخه تر ۲۰۰۴ میلادي کال پورې اسلامي زده کړې پای ته ورسولې او دستاربندي مې د صدر په دارالعلوم کې وکړه. د یادونې وړ ده چې په (۷۰۰) طالبانو (زده کوونکو) کې یوازېنی افغان وم چې دریم مقام مې ترلاسه کړ. په انګلیسي او اردو ژبو باندې رواني خبرې کوم او د کمپیوټر له اتلس پروګرامونو سره په کاري توګې سره بلدتیا لرم.

په ۲۰۰۵ میلادي کال کې له خیبر ټلویزون سره دنده ه ترسره کړې ده او اوس د لوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ د پل کندهاري مسجد خطیب او د H.E.I.T اداري ډایرکټر مقرر شوی یم.

په اردو ژبه مې هم شعرونه ویلي چې په اردو ژبه کې یوه شعري ټولګه د ( دریا آمو سی دریا عباس تک ) په نوم لرم.

د کلام نمونې:

تاته به ټول صفا صفا ولیکم ... د زړه حالونه به اشنا ولیکم
خندا مې نشته ټول غمونه دي نن ... د خط عنوان به په ژړا ولیکم
د کور او کلي نه بېزار یمه زه ... د هجر حال به په صحرا ولیکم
مینه به وښیمه خلکو ته زه ... کتاب د مینې په په تا ولیکم
که دې پوښتنه زما وکړه په ژوند ... ستا په تاریخ کې به وفا ولیکم
حساس پروت په ځنکدن کې دی اوس
د مرګ خبر به یې درته بیا ولیکم

په خیال کې نن د زلفو په ټالونو زنګېدم
بورا غوندې په څوکو د ګلونو زنګېدم
زما سرکشي ګوره چې د خیال له بلندۍ نه
شغله لکه د لمر په سر د غرونو زنګېدم
نور هېڅ نه وه اثر وه د ساقي د مستو سترګو
لاغوړې مې کړې نه وه د جامونو زنګېدم
زاهده ما لړ پوه کړه ما یو خوب بېګا لیدلی
زه عشق ابراهیم وم په اورونو زنګېدم
حساسه ښکلی خوب وه د اوربل د سیوري لاندې

مجنون وم د لیلا په مړوندونو زنګېدم

یو نوی کتاب مې د (رنګین غزل، غمګین ماښام) په نوم انشاء الله په ډېر نژدې وخت کې چاپ کېدونکی دی. هیله کوم چې هېڅ غزل مې د مدني ټولنې څخه علاوه بل څوک چاپ نه کړي.

# میرعجب خان (شیرانی)

نوم مې میرعجب خان شیرانی د پلار نوم مې حاجي حضرت خان شیرانی دی. په کال ۱۳۶۵ هـ ل کې د پاکستان په کوټه کې زېږېدلی یم او د جهادي لیسي نه په کال ۱۳۸۴ هجري لمریز کې له دولسم ټولګي نه فارغ شوی یم او اوس د پکتیا ولایت په پوهنتون کې خپلې لوړې زده کړې سرته رسوم. او دوه کاله کېږي چې په شعر ویلو مې پیل کړی دی.

د کلام بېلګې:

ای چې ویشتل کوي په تورو سترګو
دا چې وژل کوي په تورو سترګو

زما زړګی چې دې زخمي زخمي کړو
داسې کتل کوي په تورو سترګو
زه کباب شوی ستا په مینې یمه
چې وریتول کوي په تورو سترګو
زه عجب یم عاشق دا ستا د حسن
چې قتلول کوي په تورو سترګو

د (۷۰) په شاوخوا کې مې شعرونه لیکلي خو لامې د کتاب په بڼه نه دي خپاره کړي، که په راتلونکی کې ماته زمینه برابره شوه نو د کتاب په بڼه به یې خپاره کړم.

# مجیب الرحمان « مخلص »

زما نوم مجیب الرحمان « مخلص » د حاجي امیرگل زوی په قوم مسعود د لوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ اوسیدونکی یم او په ( ۱۹۸۷ م ) کال د جنوبي وزیرستان د حصاره په کلي کې زېږېدلی یم او لومړنۍ زده کړې مې همغلته د مهاجرو په کیمپ کې سرته رسولي دي، اوس د لوګر ولایت د محمدآغې د عالي لیسې په لسم ټولګي کې په زده کړه بوخت یم. هېواد ته په راتلو سره مې په شعر ویلو پیل وکړ او مینه مې ورسره زیاته شوې ده

د کلام بېلګې

## د وطن لخوا افغان ته خطاب

ای افغانه مهربان شه پاخه پاخه
ته زما د زړه درمان شه پاخه پاخه
لږ مې یاد کړه لږ مې واخله له غمونو
خوارو زړونو ته احسان شه پاخه پاخه
لږ راوښې شه لږ مې پورته کړه له کندو
ته مې روح ته مې وجدان شه پاخه پاخه
غم ښادي مې ټولو خلکو ته بیان کړه
ته نطاق ته مې ویاند شه پاخه پاخه
لږ زما مینه په زړه کې راپیدا کړه
زه لیلا ته مې جانان شه پاخه پاخه
ای (مخلصه) د نفاق اورونه مړه کړه
اتحاد په لور روان شه پاخه پاخه

## څلوریځې

سپین رخسار سره دې لبان نازک نازک
کاږه بانه، تور دې چشمان نازک نازک
نرۍ وریځې د لړم غوندې کږې دي
تور وېښته دې ښاماران نازک نازک
زه دې هسې د هجران په لمبو وسوم
دستا غم زما ګرېوان نازک نازک
(مخلص) ګوښې د بېلتون په غونډۍ ناست دی
جوړ د اوښکو پرې باران نازک نازک

زما د شعرونو مجموعه له سلو (۱۰۰) څخه زياته ده او غواړم چې خپلو شعرونو ته دوام ورکړم او له دې لارې خپل وطن ته خدمت وکړم. يوازينۍ هيله مې داده چې په راتلونکي کې يو ښه شاعر شم او خپلو هېوادوالو ته ښه شعري ټولګه وړاندې کړم.

# د کابل ولایت شاعران او لیکوالان

# احمد ولي (يوسفزی)

احمد ولي ((يوسفزی)) د محمد اجان زوی د کابل ولايت د سروبي ولسوالی اوسيدونکی چې په ۱۳۲۱ هـ لمريز کال په کابل کې مې دې نړۍ ته سترگې پرانيستې.

لومړنی زده کړې مې په کابل کې د سيد نورمحمدشاه مينې په ښوونځي کې کړې دي منځنی زده کړې مې په پېښور کې او په ۱۳۸۲ هـ لمريز کال کې په پېښورکې مې د ابي ايوب انصار له عالي ليسې څخه د دولسم ټولگي د فراغت سند ترلاسه کړ.

د ليسې له فراغت سره سم مې په پېښور کې د هجرت په منځني ښوونځي کې معلمي پيل کړه چې يو کال يې دوام وکړ. د همدغې معلمۍ په اخرو شيبو کې د يو سفر لپاره روسې ته لاړم.

د ۱۳۸۴ هـ لمريز کال په اخرو شيبو کې له روسيې څخه بېرته راوگرځېدم او د هېواد دننه مې د ژورناليزم په ځينو ورکشاپونو کې گډون وکړ. اوس مهال د پرخې او پسرلي مجلې په کابل کې استازی او د افغانستان په ملي راډيو ټلويزون کې د ژورناليست په توگه دنده ترسره کوم.

د کلام بېلگې:

غزل

موږه خو خپل خمار په بنگ ماتوو
د ميو زور يې هم تر څنگ ماتوو
دا مغلي خيالونه بېرته ويسه
داسې وگړي موږ په جنگ ماتوو
خير که دې اوس پر موږ يرغل راوړی
تا هم د تېر تاريخ په رنگ ماتوو

زمونږ د کلتور او د مېړانې ننبه
چې په یوه سر لوی ګړنګ ماتوو
اوس که نظر کې د رقیب نه ورځو
که سره یو شو بیا اورنګ ماتوو

۱۳/۱۰/۱۳۸۴ کابل

## غزل

ستا حسن بللی یم    ستا غرور شړلی یم
بیا به کوم دستور کوې    بیا درته راغلی یم
ډېرو ته یم سخت تمام    ډېرو ته ښاغلی یم
ژوند یم چا سینګار کړمه    چا په یار بایللی یم
ګل یم ژوند به ښکلی کړم    چا که زه کرلی یم
چا د ازغو پښو ته دل    چا سر کې ټمبلی یم
ډېرو ته یم سخت تمام    ښکلو ته بیا غلی یم

۱۱/۳/ ۱۳۸۵ کابل

## دوه بیته

ښکلا ښکلا د ګل پر پاڼو شبنم
وې ووړ لیمو باندې ممانو شبنم
لکه د ګل د مینې زړه نه لري
کنه وریږي هم پر کاڼو شبنم

۱۴/۲/۱۳۸۵ پېښور

چاپ شوي آثار نه لرم او ناچاپ آثار مې دادي:

۱- يوه شعري ټولګه

۲- د لنډو کيسو ژباړې

# بخت میر وزیري

زه بخت میر وزیري د پلار نوم ډالمیرخان په ۱۳۳۲ هـ ل کال په کندز ولایت کې زېږېدلی یم. لومړنۍ زده کړې مې تر دولسم ټولګي پورې په خوشالخان لیسه کې ترسره کړېدي، لوړې زده کړې مې د ماستري تر کچې پورې په کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې ترسره کړېدي.

په ۱۳۶۲ هـ ل کال کې د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې د استادۍ په دنده وګمارل شوم او تر ننه پورې خپلې دغې دندې ته دوام ورکوم. باید یادونه وکړم چې د خپلې دندې د پیل نه تر نن ورځې پورې په کابل ښار کې د خپلې کورنۍ سره اوسېږم، پټه دې پاتې نه وي چې زما اصلي استوګنځی د پکتیکا ولایت د برمل ولسوالي (شمالي وزیرستان) ده. څنګه چې ما زیاتره علمي کارونه کړي نو کومه داسې لنده لیکنه نه لرم چې دلته یې راوړم.

د لیکوال آثار:

۱- د لیسانس د دورې مونوگراف. (په وزیرستان کې د میشتو قومونو پېژند گلوي)

۲- د ماسترۍ د دورې د دفاع تېزس: ( د وزیرۍ لهجې پرتلنه د معیاري پښتو سره)

۳- د پوهنملۍ د علمي رتبې ته د ترفیع لپاره علمي اثر: (د میرزاخان بارکزي په دیوان کې تشبې او هغې ډولونه)

۴- د پښتو ژبې د تدریس لپاره (په مختلفو پوهنځیو کې گڼ چېترونه).

## مېرمن ثمر

نوم مې ثمر د پلار نوم مې محمد اسلم او د کندهار ولایت په مرکز کې زېږېدلې یم. له لومړي ټولګي څخه بیا تر دولسم ټولګي پورې د کندهار ولایت په زرغونې لیسه کې زده کړې کړېدي او په عالي درجه ترې بریالۍ شوې یم.

وروسته بیا د کندهار ولایت د عالي دارالمعلمین د څوارلسم ټولګي څخه د پښتو او انګلیسي له څانګو څخه فارغه او د عینو په لیسه کې د ښوونکې په توګه وټاکل شوم. اوس په کابل ولایت کې د ابوالقاسم فردوسي په لیسه کې د فوق رتبې ښوونکې سپېڅلې دنده ترسره کوم. په دې بهیر کې د ښوونکې تر څنګ د سرښوونکې دنده هم ترسره کړېده.

د څلورو کمیټو د مسؤلیت سربېره په څینو کورسونو او سیمنارونو کې هم ګډون کړی دی. د بېلګې په توګه

۱- د سیاسي علومو پنځه میاشتنی کورس.
۲- نفوس شمېرنې، د بشري حقوقو او مدني حقوق درې میاشتنې کورسونه.
۳- نظامي کورس.

څلور سمیسټره د انګلیسي کورس هم ویلی چې ور سره د کمپیوټرپه څو پروګرامونو باندې هم برلاسې یم.

د کلام بېلګې:

یار ته داد

مایوسه نه شي ستا دپاره زولني قبلوم
رقیب دلاسه سختې شکنجې قبلوم
چې په لوړ دار مې ځړوي ستامحبت کې یاره
پښېمانه نه یم د مرګي دا غرغړې قبلوم
چې دغه نن مې یار خفه شو او له مانه لاړی
ورځ تر قیامته د هغه ګیلې شکوې قبلوم
چې کله کله ستا احوال وما ته ورسوي
زه د هغه رویبار نازونه او نخرې قبلوم
که ستا دمینې سمندر ګرداب کې ډوبه شومه
پروا مې نشته زه (ثمره) دا غوټې قبلوم

د وصلت شپه

پر سینه مې د خپل یار وکړه خوبونه
ځکه ورک مې شوه د ټول وجود دردونه
تر سهار مې ناقرار زړګی آرام ؤ
نه مې غم ؤ نه مې رنج نهِ مې دردونه

خدای راکړې د وصال شپه تر سهاره
نه فریاد مې خوت د خولې او نه آهونه
د ماشوم غوندې د ناز په خوب ویده وم
آه .. یو دم راباندې راغله طوفانونه
زه یې یو خوا ته گوزار کړم دې بل خواته
بیا مې نه ولیده ډېر تېر سوه کلونه
هغه شپه دې زما په عمر حسابېږي
نور روزگار راباندې وکړله ظلمونه
اوس د هغې ښکلې شپې په طمع ناسته
د راتلو په انتظار یې کړم فکرونه

د لیکوالۍ او شاعرۍ آثار:

له بده مرغه تراوسه لاپه دې نه یم بریالۍ شوي چې د خپلو شعرونو مجموعه چاپ کړم، خو په راتلونکي کې یې د چاپ کولو ټینګ هوډ لرم. اوس مهال درې شعرې مجموعې لرم

ځینې شعرونه مې د ورځپاڼو، مجلو، د افغانستان او د آزادۍ په راډیو کې خپاره شوي او ځینې نور یې په نورو له ایزو رسنیو کې له چاپه راوتلي دي.

په نثر کې مې د گوتو په شمار لیکنې کړیدي او د دې ترڅنګ څو لنډ دري شعرونه مې هم په خپله شعري جونګړه کې ځای ورکړی دی.

# دیدار (یاغي)

نوم مې دیدار «یاغي» دی چې له نن تقریباً (۲۰) کاله وړاندې په کوزه پښتونخوا کې زېږېدلی یم، پلرنی تاټوبی مې د کابل ولایت د سروبي ولسوالۍ د اوزبین نومې سیمه ده. زده کړې مې په کوزه پښتونخوا کې کړې دي او د دولسم ټولګي د فراغت سند مې د دعوت له عالي لیسې څخه ترلاسه کړی دی. د ۱۳۸۳ هـ لمریز کال د کانکور په آزموینه کې مې ګډون وکړ چې د ساه پوهنې پوهنځی ته بریالی شوم. درې څلور سمستره مې پوهنتون ووایه خو نور د وخت او حالاتو پرېکړه داسې وه چې پوهنتون دې پرېږدم

له شاعرۍ سره مې له ماشومتوبه مینه وه، څومره چې مې یادېږي نو دشعر لیکلو هڅه به مې کوله

لومړی ما هم د نصیحتونو شعرونه لیکل خو هغه وخت مې د شعر ژبې او دنیا بدلون ومومند چې د ټکر استاد له خولې نه مې د غني خان بابا شعر واورید.
هغه وخت مې ژوند مینه، شعرښکلا، خیال، فلسفه، جنون، ځان، جانان او جهان وپېژند چې د بابا شاعرۍ نوی نظر، نوی سر او په کې نوي خیالونه راکړل.

د کلام نمونه:

شمع

تا خپل ځان خاورې ایرې کړ
تا ساقي له رڼا ورکړه
نن دې بیا په دې محفل کې
تماشه د ګناه وکړه

شمعې زه هم ستا په شان یم
لمبې واخلمه نور خور کړم
شمعې زه لکه هنداره
په خپل رنګ ښکاره انځور کړم
زه به ستا په رنګي ورک شم
زه سپین سپین کړمه تور تور کړم
ته به ځان له څه شی شته کړې
زه ځان له مینې پور کړم
ساقي نذر مېخانه کړه
شېخه پورته کړه جامونه
تا به څوک دلته رسوا کړي
شمعه نه وایي حالونه

د لیکوال آثار:

| | | |
|---|---|---|
| ۱- د شوګیرو چغار | (شعري ټولګه) | چاپ |
| ۲- د شګو محل | (د غني خان بابا د کلام غورچاڼ) | چاپ |
| ۳- د فکر پلوشې | (شعري ټولګه) | چاپ ته چمتو |
| ۴- غني چې مست شي | (د غني خان بابا په اړه) | |

۵- یوه بله شعري ټولګه چې لاتراوسه نه ده بشپړ شوې او نه مې لا نوم ورکړی دی.

# وسیع الله سیار

نوم مې وسیع الله او تخلص مې سیار دی دخدای بښلي امین الله خان زوی او د مرحوم شاه جهان لمسی یم. په ۱۳۲۹ هـ لمریز کال د ننګرهار د کامې ولسوالۍ د اخندکلي په یوه متدینه، روڼ اندې، علمي کورنۍ کې زېږېدلی یم.

لومړنۍ زده کړې مې د اخندکلي په لومړني ښوونځي کې کړي او بیا د مرادعلي لیسې نه فارغ شوم. په ۱۳۴۹ هـ لمریز کال کې د لوړو زده کړو د تحصیل لپاره د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځی ته راغلم او په ۱۳۵۳ هـ لمریز کال ترې د لوی خدای ج په فضل په اعلی درجه فارغ او د مجاز ډیپلوم مې تر ګوتو کړ. په ۱۹۸۴ - ۱۹۸۵ میلادي کلونو کې د پېښور یونیورسټۍ «نړیوال پوهنتون» نه مې د پښتو د ادبي علومو په څانګه کې د ماسترۍ ډیګري ترلاسه کړېده.

دخپل وطن نه لیرې د هجرت په تاتوبي کې مې قلم له لاسه نه دی پریوتی او د هنر او ادب څولۍ مې ښه ټینګه نیولې ده په دې دومره عمر او کلونو کې مې سره له دې چې په مختلفو ځایونو او دفترونو کې دنده سرته رسولې ده خو د پښتو د ژبې او ادب درناوی مې د ځان فرض او ښه اندېوال ګڼلی ؤ. که زما مورنۍ ژبه پښتو ده خو ما ورسره د دري ژبې او ادب دواړه په ښه شوق او ذوق زده کړي د پښتو او دري ژبې سره یو شان مینه لرم او په دې ویاړم چې د دواړو ژبو څولۍ ته مې د خپل کم فکر مګر د پراخه نظر په رڼا کې د نثر او یا د نظم نیمګړې او ناقصې ادبي ټوټې ډالۍ کړېدي او ډالۍ به یې کړم انشاءالله. زه په دې پوره باور او ایمان لرم چې د وحدت په بڼ او باغچه کې ډول ډول ګلان موجود وي او دا ټول د یو مهربان مالیار لخوا روزل کېږي، ساتل کېږي او بالاخره پالل کېږي، په مجموع کې د ټولو ګلونو نوم «ګل» دی خو که نومونه یې درېدي، ریحان، نرګس، مرسل او ګلاب په نامه نومول شوي د پېژندلو لپاره دي نه د بل غرض لپاره او ددې ټولو تاتوبی همدغه باغ او بڼ دی او یو مالیار لري، که ځانګې جلا جلا او بېلې دي خو ونه یوه ده او د همدې ونې د تنې نه هرې ځانګې او هرې پاڼې ته اوبه رسېږي په ځانګو کې فرق او توپیر لټول او راپیدا کول لکه په (ع) کې (غ) لټول دناپوهو او خودغرضو د ملوثو افکارو زېږنده ده او بس.
یادونه: اګر که زما زوکړه او یا د دولسم ټولګي پورې زما ښوونه په کامه کې ترسره شویده مګر زما نور باقي عمر تر ننه پورې د کابل ښکلي او تاریخي ښار په دننه کې په شاه شهید دوېم سرک کې او فعلاً زما کور په چهلستون کې او دهمدې چهلستون اوسیدونکی یم.

د کلام بېلګې:

لویه خدایه په خپل رحم خپل دیدار را
چې مشغول مې کړې په ذکر ښه افکار را
زه بنده که ګناهګار یم، ته غفار یې
توان توفیق د بنده ګۍ او استغفار را
چې درغلې نیغه لار وي، ستا په لورې

قدمونه ډېر مضبوط په دغه لار را
د بنده له بنده ګیه امان غواړم
ته مې خدای په زړه تصدیق، په خوله اقرار را
ماته مینه محبت په حقیقت را
د اخلاص نه ډک توفیق د عبادت را
چې دزړه سترګې روښانه پرې زما شي
روڼ چراغ د علم پوهې، معرفت را
نرم زړه لکه د مومو در نه غواړم
له غریبو سره زړه کې محبت را
چې په ناسته مې خوشحاله هر محفل شي
د سپرلي په شان خوشبویه طراوت را
ګران هېواد ته مې د ظلم نه نجات را
غمځپلو ته مې نور د زړه نشاط را
محبت زموږ په زړنو کې پیدا کړه
چې په مینه نه مړېږو، هغه سات را
چې لرغون وطن مې بیا، یو ځل ودان شي
په کرم سره د خپل رحم زکات را
ټول ملت مې کړي لېوال علم و ادب ته
له هر چا نه پرمخ تللي ادبیات را
اتحاد، خوږه وروري د زړه په مینه
را پیدا زموږ په زړو کې حسنات را

بله بېلګه:
هر دښمن مو د هېواد، په زړه غلبیل کړې
د همه او طانو دا د سر اکلیل کړې

اراسته مو د اسلام په روحیه کړې
شیطاني چارې، له موږ ځنې رحیل کړې
د وطن دشتې مې ټولې کړې آبادې
ټول سیندونه د هېواد مې سلسبیل کړې
چې نوکر د بیگانه، امل ته شا کړي
د سیار له څنگه ورک داسې سفیل کړې

بله بېلگه:
د بوسو لاندې چې اوبه بیایې، نقص د ځان ولې کړې
ته هم انسان یې، چاپلوسي د بل انسان ولې کړې
د حمام لنگ غوندې چاپلوسه، له هرچا نه تاو یې
دا پټ کارونه په پرده کې، د شیطان ولې کړې
اخر به لوڅ رسوا رسوا شي بې ضمیر انسانه
دومره ریشخندي په خپل ځان او په ایمان ولې کړې
په درنو دروند، په سپکو سپک خوشحال خټک ویلي
نااهلو خلکو ته (سیاره) پند بیان ولې کړې

دلوی خدای په نامه
درنو لوستونکو د ادب مینه والو اوبیا خاصتاً د هنر او ادب د ډگر اتلانو ته به ډېر پیکه ښکاره شم چې ووایم چې: زه د نادیدوو غوندې نه یم چې یوه پانه شعر او یا نثر یې د کرتوب نه لامخکې هرې ورځپاڼې، مجلې، جریدې او یا هرې ادبي غونډې، مشاعرې او سیمینار ته سمدستي سپارلي وي او هغه هم په دې موخه چې شهرت تر لاسه کړي. زه د شهرت او خودنمایي او نامه لپاره شعرونه، نثرونه او ادبي مضامین نه لیکم او نه به په راتلونکي کې دې مفکورې ته ځای ورکړم، بلکې زه دخپل ذاتي او فطري ادبي سلیقې له مخې له یوې خوا او دبلې خوا ته که خدای (ج) ته منظوره وي د خپلې مورنۍ ژبې خدمت د هنر او ادب په ښکلي

چاپیریال کې ترسره کړم. زه ډېر کم لیکل کوم خو د سوچ او دقت نه وروسته او دا مې هیله او هځه وي چې زما اشعار دې داسې څوک ولولي او په هغه دې کره کتنه وکړي چې زه د هغه د پښو گذاري او گرد پسې نه شم رسیدی نو بیا به زه په ډاډمن زړه خپل اشعار چاپ او د ادب مینه والو ته به یې په مینه ډالۍ کړم.

د لیکوال او شاعر آثار:

زه تراوسه چاپ شوي اثار او تالیفات نه لرم مگر اکثره څه چې ټول زما د تنبلۍ یا زما سره د وخت د نه درلودلو له کبله ناچاپ پراته دي او هغه په لاندې ډول په گوته کوم:

۱- د کدر د علمي رتبې لپاره (په پښتو ادب کې د مسجع نثر د پیدا ېښت او پا ېښت مسئله)

۲- د کدر د علمي پوهندوی رتبې لپاره (په پښتو ادب کې مرثیه د ۱۰۰۰ کلونو په اوږدو کې) یا په بل عبارت مرثیه د پښتو په ادب کې د پیل نه تر ننه پورې.

۳- د هجرت په دوره کې د تالیف او تدقیق په څانگه کې د څلورم، پنځم، شپږم او لسم ټولگیو ته د تاریخ، جغرافې کتابونه تالیف او ترجمه کړیدي. د پنځم ټولگي لپاره د تجوید کتاب په پښتو ترجمه کړی.

۴- د منځنۍ اسیا د مسلمانانو مبارزه د کمونیزم په مقابله کې د ډاکټرفضل رحیم مروت تالیف او ما ژباړلی دی.

۵- زما د اشعارو ټولگه چې نږدې یو زر بیتونو ته رسېږي او د شعرونو مختلف ادبي صنعتونو کې مې خپل ځان ازمایلی دی لکه: چاربیته، غزل، نیمکۍ، څلوریځې، مناجات، حمد او نعت، منقبت، طنز او مزاح، ترانه او نور شعرونه مې ټول په یوه لوري نه دي لیکلي بلکې، مختلفې خواوې لري لکه: انتقادي، اخلاقي، اصلاحي، اجتماعي او زیاته ونډه په کې د عشق او محبت ده. په دري ژبه کې زما شعرونه ۵۰ عنوانونو ته رسېږي.

۶- د نثر په برخه کې مې څو مقالې لیکلي لکه: د تصوف او عرفان، دخوشحال خان اجتماعي ژوند ته کتنه په رباعیاتو کې، او ځنې نورې ادبي ټوټې...

PROPERTY OF ACKU
16044

پای

ACKU
B
1.237
WAH
16044

BEYDARI MELLI

این اثر به کمک اتحایه اروپا (EU) و همکاری بنیاد فرهنگ و جامعه مدنی (FCCS)
و دفتر اسکان ملل متحد هبیتات ( UNHABITAT ) در تطبیق برنامه «بیداری ملی»
تهیه گردیده است.

HABIBULLAH HASEEB PRINTING & ADV. CO. 0777 289 740

European Union

UN-HABITAT

FCCS
بنیاد فرهنگ و جامعه مدنی